# سياسي عينکې

(د طنزونو مجموعه)

۱۳۸۸المريز کال

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

د کتاب ځانګړتيا:

| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | سياسي عينکي |
| ليکوال | : | عبدالنافع همت |
| د چاپ کال | : | ۱۳۸۸ش |
| د پښتو طرح | : | هژبر شينواری |
| برېښنالیک | : | anhimmat@gmail.com |


د کتـاب د چـاپ او خپرولـو حقـوق لـه ليکـوال او خپرندويي ټولنې سره خوندي دي.

ketabton.com - The Digital Library

# اهداء:

دا کتاب هر هغه چا ته اهداء
کوم چي د سولي لپاره مبارزه
کوي.

عبدالنافع همت

ketabton.com - The Digital Library



# عبدالنافع همت او د هغه طنزونه

په افغانستان کي په (۱۳٤۷) لمریز کال د طنز او ټوکو لومړنۍ جریدې (ترجمان) په خپرونو پیل وکړ چې د امتیاز څښتن یې اروابنـاد ډاکټر عبدالرحیم نوین او مسئول چلوونکی یې استاد علي اصغر بشیر و. دې خپلواکي او ملي جریدې چي په رښتیا یې د مظلومو افغانانو د دردونو او هیلو ترجماني کوله، په لږ وخت کي ډېر طنز لیکوال پر ځان راټول کړل.

د خلکو د حقوقو ساتنه، د خلکو هوسا ژوند، بې سوادي، بې وزلي اود ټولنیزو خدمتونو نشتوالی د ترجمان جریدې عمده موضوعګاني وې چې په دې ډول یې په افغاني ټولنه کي دظالمانو، بډې اخیستونکو، قاچاق کوونکو، مفت خورو، سود خورو او چالبازانو پر وړاندي ښکاره مورچل نیولی و. ترجمان پر دې سربېره د ځوانو ادبي څېړو، لیکوالو، شاعرانو او طنز لیکوالو د روزني مکتب هم و چي نومورې جریده د (۱۳٤۷) لمریز کال د وري په میاشت کي پیل او د (۱۳۵۲) لمریز کال د چنګاښ تر میاشتي پوري یې دوام وکړ. ددې اخبار په هره ګڼه کي به د هیواد په ملي ژبه پښتو هم طنزونه خپرېدل چې خورا ژبي لیکوال عبدالاحد وحید به لیکل.

په پنځوسمه لسیزه کي د طنز لیکني بهیر ورو او ټکنی سو، خو په شپېتمه لسیزه کي یې بیرته نوې سا واخیسته چي په دغه بهیر کي د اروابنـاد منان ملګري او کاتب پاڅون نومونه یادولای سو.

په دوو وروستیو لسیزو کي له نېکه مرغه طنز ډېره

ketabton.com - The Digital Library



وده کړې ده. ماته چې د کډوالۍ په ژوند کې کوم اخبارونه او مجلې په لاس راغلي دي نو د نویو طنز لیکوالو له نومونو سره اشنا سوی یم چې ځینې یې په هیواد کې او ځینې یې له هیواده دباندې ژوند کوي.
کله چې زه د (۱۳۸۷) لمریز کال په پای کې تر اوردې کډوالۍ وروسته خپل هیواد ته راستون سوم نو طبعاً دخپل ذوق او لېوالتیا له مخې لومړی د طنز لیکوالو او د هغوی د اثارو په لټه کې سوم چې له نېکه مرغه ډېر ژر مې د طنز په ډګر کې له یوې نوې څېرې سره وپېژندل.
د دې لیکوال یوه طنزي مجموعه مخکې چاپ سوې او هغه مهال یې ستاسې په لاس کې د دوهمې مجموعې لپاره چمتووالی نیوه. خبره به ډېره نه اوږدوم، له عبدالنافع همت سره مې ولیدل. په لومړۍ کتنه کې مو خبرې نښې اوردې سوې، د بحث اوږدېدو سبب دا و چې همت صاحب په ډېره لېوالتیا سره غوښتل چې د طنز په باب هم خپله یو څه ووایي او هم یې زما څخه واوري. ما داسې احساس کړه چې دی هڅانـد او پلټـونکی لیکـوال دی چـې غـواړي د طنـز د ځانګړتیاوو او تیورۍ په باب په لږ وخت کې ډېر څه زده کړي.
نننـــې طنـــز لیکـــوال اکثـــره پـــارودي (Parody) او ژورنالستیک طنزونه لیکي خو همت صاحب ددوی بر عکس له طنزي داستانو سره ډېره مینه لري. ما چې وکتل نو نه یوازې داچې د همت صاحب د رنګ او قیافې په لیدلو سړي ته ډېر ژر د ترکیې نامتو طنز لیکوال عزیز نسین وریادېږي، بلکې د طنز لیکلو میتود

ketabton.com - The Digital Library



یې هم هغه ته ډېر ورته دی.
د همت صاحب په لومړۍ او دوهمه مجموعه کي تر ډېره بریده سیاسي طنزونه لیدل کېږي. د ده سیاسي طنزونه تونـد او بـې پـروا دي چـي د خـورا زړه ورو او ښکاره بریدونو څرک پکښې لیدل کېږي.
دی یوازي پر داخلي سیاستوالو برید نه کوي، بلکي کله چي په دې پوهېدلی چـي د علتونـو ریښه د هیـواد تر پولو دباندي ده، نو د هغه د کاکا، ماما، خاله او د ژیړو وښتانو او شنو سترګو پر دایي باندي یې هـم سـترګي نه دي پټي کړي او ښه ټینګـي نوکـاري یـې ورکـړي دي.
دی مور ته دا راښیي چي دا تر مور مهربانه دایـي چـي مـور تـه پـه کاچوغـه پـه خولـه کـي عسـل راکـوي، هـره شیبه دې ته هم چمتـو ده چـي کـه مـور لـږ تنـدی تریـو کړو، نـو د همـدې کـاچوغي پـه لاسـتي بـه مـو سـترګي راوباسي.
همت صاحب په دې ډېر ښه پوهېږي چي د یوه طنـزي داستان سرلیک څومره ارزښت لري.
ده پـه خپلـه لـومړۍ مجموعـه کـي هـم ډېـر لـه تلوسـې ډک سـرلیکونه ټـاکلي دي، لکـه سـپي څنګـه مډالونـه وګټل او داسي نـور. پـه دې مجموعـه کـي یـې هـم څـو سرلیکونه ډېـر لـه تلوسـې ډک او پـه زړه پـوري دي،لکـه اخیر زه هم په خپـل نوبـت ولسمشـر سـوم، بـاز سـازي، که باد سازي؟ اوس اصلي خبري ته راځم، لېونی څنګـه د ناټو قوماندان سـو؟ سیاسـي عینکـې، بیـا بـه بلـه ورځ درته ووایم، کاشکي خو د وزیر صاحب وطنـدار وای او داسي نور.
په داستان کي په عام ډول او په طنز کي په خاص

ketabton.com - The Digital Library



ډول په زړه پوري، پاروونکي او له تلوسې ډک سرلیک لوستونکي دې ته اړباسي چې طنز تر پایه پوري ولولي. ښه سرلیک هغه دی چې نه ډېر ګونګ او نه داسې وي چې د طنز نتیجه څرګنده او لوستونکی مخکي له مخکي په ټوله طنز پوه سي.
همت صاحب په خپلو طنزونو کي له ډېرو ښو او بریالیو تکتیکونو څخه کار اخیستی، لکه مبالغه، تناقض، تضاد، آیروني (Irony) سوال او ځواب، طعنه یا (Sarcasm) له کلیماتو سره لوبي، تجنیس یا (Pun) او داسې نورو لفظي صنایعو څخه یې ډېره ماهرانه استفاده کړې ده.
په خبرو کي منطقي لاره نه ده ځني ورکه سوې، د بېلګې په ډول په دې جمله کي چې د تجنیس صنعت یې په کار اچولی په ډېر ماهرانه ډول یې د تحقیر او پېغور له صنعت څخه هم ډېر ښه کار اخیستی دی :
(لوېشتکی اسلم تر پرونه پوري پنچرمېن و، خو دا چې د رئیس صاحب د خاله زوی دی، اوس چیرمین یاني زمور عمومي مدیر دی. د همت صاحب د طنزونو موضوعات زمور د ننني ټولني عمومي، عیني او لویي ستونزي دي. حساس او بادرکه طنز لیکوال د خپل رسالت له مخي بې له دې چې د یوه معلوم شخص نوم یاد کړي، تل په ټولنه کي ناخوالو ته اشاره کوي چې همت صاحب خپل دغه رسالت په پوره ایمانداری سره ادا کړی دی.
تر دې ځایه خو مو د همت صاحب پر هغو تکنیکونو لږ خبري وکړې چې ده په خپلو طنزونو کي کار ځني اخیستی و، خو داسې ښکاري چې دی د طنز لیکلو له

ketabton.com - The Digital Library



تر ټولو مهم، ارزښناک او عام تکنیک، یاني آیروني سره ډېره مینه لري او په خپلو طنزونو کي یې ډېره استفاده ځني کړې ده.
دی په (افغانستان ته د نوبل جایزه ورکول کېږي) نومي طنز کي د هغه کمیسیون غونډه انځوروي چې د څووزارتونو له باصلاحیته استازیو څخه جوړ سوی دی. د دې غونډې موضوع په افغانستان کي د فقر او بې وزلۍ له منځه وړلو لپاره د یوه پلان جوړول دي. په دې طنز کي د هیواد یوه عیني ستونزه مطرح کېږي خو هغه د حل لاري چاري چې دغه هوښیاران ! (د کمیسیون غړي) یې وړاندي کوي، د خندا وړ او احمقانه دي. لیکوال په دې ډول د آیروني له صنعت څخه په استفادې سره لوستونکي په دې پوهوي چې زمور د مظلوم ملت سرنویشت د داسي خلکو په لاس کي دی چې له عقله یو مخ خلاص او په اصطلاح د دوو خرو وربشي نه سي سره جلا کولای.
ددې طنز په یوه برخه کي د کمیسیون یو غړی داسي وایي : ( که په افغانستان کي تراهګر نه وای نو تراهګري به له کومه کېدای؟ مور او تاسي ټول پوهېږو چې همدا تراهګر دي چې د تراهګرۍ اور یې بل کړی دی. دغسي که په افغانستان کي غریبان نه وای نو غربت به هم نه وای. زما په فکر ترڅو چې مو په افغانستان کي د غریبانو ریښې له بېخه نه وي ایستلي نو غربت به هم هیڅکله ختم نه سي ).
لیکوال تر دې وروسته د کمیسون د دې معقول حل!؟ یوه بېلګه هم راوړي : ( مور ولیدل چې کله مو په کابل کي له شېرپور څخه غریبان وشړل، نو هلته غربت هم

ketabton.com - The Digital Library



ورسره ختم سو، که چېرې مور له دغو غریبانو سره مرستې کولای نو ملینونو ډالرو مرستو ته اړتیا ول، خو اوس یوازې یوه بلډوزر دغه اړتیا پوره کړه، مور او تاسي خو ټول هلته خپل کورونه لرواو وینو یې چې اوس هلته د غربت هیڅ نښه نسته، بیخي اروپا غوندې ښکاري).

د همت صاحب دا طنز په حقیقت کې د هغو زور واکانو او بې کفایته لوړ پوړو دولتي چارواکو پر مخ یوه کلکه چپلاخه (څپېړه) ده چې په شېرپور کې یې په ناقانونه ډول ځانو ته ډېر قیمتي او شاندارە کورونه جوړ کړي دي.

د همت صاحب په دې طنز کې د حل لارې ته چې سړی ګوري نو څو پېړۍ مخکې د انګلستان نامتو طنز لیکوال (جنتن سویفټ) وریادېږي. ده هغه مهال په لندن کې د فقر له منځه وړلو لپاره وړاندیز کړی و چې باید د غریبانو کوچنیان ښه وروزل سي چې چاغ سي، کله چې ښه چاغ سول نو بیا دي یې غوښې د بډایو خلکو بچیانو ته ورکړل سي چې هغوی یې وخوري.

همت صاحب په خپلو طنزونو کې د خندا عنصر ته هم پوره پام کړی دی، خو زما په اند دی د هوراسي طنز په پرتله جووینالي یا تور طنز ډېر لیکي. دی چې هر څومره غواړي خپل قهر په خندا کې پټ کړي خو بیا هم په طنز کې نغښتي بریدونه او قهر له لوستونکو څخه پټ نه پاته کېږي، لکه په پورتني مثال کې چې وایي، د غربت له منځه وړلو لپاره باید غریبان له منځه ولاړ سي. دی دغه ډول په دې طنز کې د بهرنیو نظامي ځواکونو له خوا د ملکي وګړو بمبارد کولو ته

ketabton.com - The Digital Library



هم اشاره کوي.
په (شاهکار ادبي بهیر) طنز کي د ادبي کره کتنـي یـوه غونډه انځوروي. دا طنز زمـوږ د اوسنـۍ کـره کتنـي پـر نیمګړتیاوو لیکل سوی چي خـورا ډېـر ظریـف او باریـک ټکي پکښې تر سترګو کېږي. په دې طنـز کـي د غونـډي تــاریخ، د غونــډي ځــای، د کــره کتونکــو نومونــه او تخلصونه په داسي مهارت راوړل سوي چي سړی داسي فکر کوي دا به د یوې ادبي غونډي واقعي ګزارش وي.
ځرنګه چي دا لیکنه د همت صاحب پر طنزونو نقـد نـه، بلکي د (سیاسي عینکې) مجموعې تـه یـوه لنـډه کتنـه ده، نو خبره ډېره نه اوږدوم. د طنز په ډګر کي د همت صاحب غوندي نویو څېرو را څرګندېدل په پښتو ادبیـاتو کي یو ډېر لوی زېری دی. د ده طنزونه زمـوږ په زړونـو کـي دا هیلـي راټوکـوي چـي انشـاءالله دی بـه زمـوږ په ملي ژبه پښتو کي د طنز خالي ځای ډک کړي.
حقیقت دا دی چـي طنـزي ادب پـه عمـومي ډول زمـوږ په هیواد کي تر اوسه پوري ډېر ځوان دی او مـوږ خپلـه هم په دې ډګر کي ډېرې نـوي څېـرې ګټـل کېـږو. خـدای دي داسي یوه ورځ راولي چي همت صاحب د طنـز پـه ډګـر کـي یـو نـوی غورځنـګ پیـل کـړي او د ادبیـاتو دې ارزښتناکي برخې ته نوره هم وده ورکړي.

د همداسي یوې ورځي په هیله
جلال نوراني، کابل

ketabton.com - The Digital Library



# سیاسي عینکې او یو څو خبرې

په پښتو ژبه کي هسي هم د شعر په پرتله د نثر برخه خواره ده، په تېره بیا طنزي کیسو ته خو ډېره لږه پاملرنه شوې ده. طنزیه کیسې لکه د ماشومانو ادبیات زمور لیکوالو ته د ادبي هستونو څنډې ښکاري، د ماشوم ادبیاتو په برخه کي ویل کېږي چي هر لیکوال نه شي کولای ماشومانو ته لیکنې وکړي. زه دا خبره تائیدوم خو داسي لیکوال هم پېژنم چي د ماشومانو لپاره لیکني کولای شي، مګر نه یې لیکي او دمهمو خلکو کار نه ورته ښکاري چي د طنز په برخه کې هم دغسي یوه نظریه واکمنه ده.

یوه ورځ مو په قلم نړیواله ټولنه کي له بهرنیانو سره غونډه لرله، یوه دري ژبي لیکوال چي یوازي یې زما طنزي لیکني لوستي وې، زه یې هغوی ته طنز لیکوال ور وپېژندلم، خو یو بل لیکوال ته

ketabton.com - The Digital Library



زما دادول معرفي ښه نه شوه ښکاره، ورته ویې ویل چې دی یوازي طنز لیکوال نه، بلکي په نورو برخو کي یې هم ښې لیکنې کړي دي. هغه بل لیکوال له ما بخښنه وغوښته، ما ورته وویل چې کاشکي یوازي د طنزي کیسو لیکوال پاتي شوی وای، اوس به مي په دې برخه کي ډېري بریاوي درلودای.

زمور په ټولنه او آن ځینو ادبي کړیو کي طنز سرسري او غیر جدي کار معلومېږي، ښایي دا او ځینې نور لاملونه به وي چې مور په دې برخه کي هم وروسته پاته یو. لکه په نورو برخو کي چې کتابونه خپرېږي د طنز او طنزي کیسو په برخه کي دومره نه خپرېږي او داسې لیکوال چې یوازي د طنز په برخه کي لیکنې کوي یا یې نه لرو او که یې لرو هم نو ډېر لږ دي.

ددغه په زړه پوري کتاب (سیاسي عینکې) لیکوال عبدالنافع همت له هغو ګوتو په شمار لیکوالو څخه دی چې طنزي کیسو ته یې تر ټولو زیاته پاملرنه کړې ده. دی ډرامې او لنډې کیسې هم لیکي خو مور یې تر ډېره بریده د یوه ښه طنز لیکونکي په توګه پېژنو. تر دې دمخه یې د طنزي کیسو یوه بله په زړه پوري ټولګه (سپي څنګه مډالونه وګټل؟) هم خپره سوې ده. همت صاحب طنز لیکي، ښه یې لیکي او په جرئت یې لیکي. دی لکه څنګه چې په ورځنۍ ژوند کي یو ژمن او صادق انسان دی، همدغه صداقت یې په دغو او نورو طنزونو کي هم

ښه لیدلای شو.

د ښاغلي همت صاحب د طنزونو موضوعګاني زیاتره

ketabton.com - The Digital Library



سیاسي دي. په دولتي اداره کي د بیوروکراسۍ، اداري فساد، کورکورانه اطاعت، د خلکو له حالت څخه ددولتي چارواکو ناخبري او ناسم اجراآت د همت صاحب د دغو زیاترو طنزونو موضوعګاني دي. داسي طنز لیکونکي هم شته چي د طنز تېره څوکه یې هغه چاته متوجه کړې وي چي دحالاتو په بدلون کي هیڅ ونډه نه شي لرلای او آن دا چي دغه موضوعګاني دومره وړې او بې اهمیته دي چي په کار نه ده طنز ورباندي ولیکل شي، خو همت صاحب سره له دې چي په خپله لاره کي ستونزي او خنډونه ویني بیا هم خپله لاره نه پرېږدي او په جرئت او پوره صداقت سره خپله خبره کوي. په ۱۹۴۴ میلادي کال کي د ( جورج آرویل) په نوم یوه انګلیسي لیکوال د ( حیواناتو فارم ) نومی انتقادي کتاب ولیکه، ده په دې کتاب کي په روسیه کي د سټالین په کمونیستي حکومت ملنډې وهلي وې، په کتاب کي یې دغنګله حکومت خوګانو ته سپارلی، خوګان د حکومت په چارو نه پوهېږي او د فارم له نورو حیواناتو سره ناسم چلند کوي. هغه مهال ډېر لیکوال په دې اند ول چي ددغه کتاب تر خپرولو وروسته به لیکوال ډېر وستایل شي، خو په انګلستان کي ده ته وویل شول چي کتاب یې د چاپ وړ نه دی، هغه و چي لیکوال د کتاب چاپولو

لپاره امریکا ته ولاړ. د لیکوال په اند باید امریکا ددغه کتاب د چاپ تود هرکلی کړی وای، ځکه چي امریکا د روسیې او سټالین پرضد ول، خو برعکس امریکایانو دغه کتاب سانسور کړ. ډېر کلونه وروسته چي د وارسا

ketabton.com - The Digital Library



او ناټو ټرونونه منځ ته راغلل، نړۍ دوه پراکه شوه ددغه کتاب زیات هرکلی وشو، خو لیکوال یې د کتاب د چاپ په لاره کې ډېري ستونزي وګاللې.
ښاغلی همت صاحب دا اړتیا ویني چې باید له فساده ډکه اداره د طنز په ژبه مسخره شي، له ټولو ستونزو اوخنډونو سره سره په هوډمنو ګامونو پر خپله لاره روان دی او په جرئت سره یې لیکي. د همت صاحب دطنزونو ژبه ساده، خوږه او روانه ده، ډیالوګونه یې لنډ او د کیسې په پرمختګ کې ښه مرسته کولای شي، لکه دا بېلګه یې :
(اې وروره! دا چټلۍ دي ولې زمور د کور مخ ته واچولې، دا ځای د چټلیو دی؟
_ نو چیرې یې واچوم؟ بل ځای نسته
_ ولې پخوا دي چېرې اچولې؟
_ پخوا خو ښاروالي فعاله وه، هره ورځ به یې وړل، اوس هم که ښاروالي بیرته فعاله سوه ستا دکور مخ ته یې نه اچوم، نور څه غواړې؟
_ ښاروالي نو څه معلومه ده چې څه مهال به فعاله سي؟
_ دنیا په امید خوړل کېږي، ټول کارونه خو په یوه ورځ نه سمېږي، په دې وطن کې له دېرشو کالو راهیسي

جګړه روانه ده.)
دغه راز یې د طنزي کیسو پیل اوږد او ستړی کوونکی نه دی، نه غواړي په پیل کې بې ضرورته اوږدې مقدمې ولیکي، د یوه طنز پیل یې داسي دی : (قاضي مېز وډبـاوه او د محکمې له حاضرینو څخه یې

ketabton.com - The Digital Library



وغوښتل چې نظم مراعت کړي. بیا یې ځارنوال ته وویل چې خپله جوړه کړې دعوه ولولي. ځارنوال هم راولاړ سو او دعوه یې داسي پیل کړه).
دا ډول پیل لوستونکي نه په تکلیفوي، د کیسې پېښو ته ژر رسېږي او د کیسې د لوستلو لپاره یې تلوسه زیاتېږي د بېلګې لپاره د دوو نورو طنزونو دپیل جملې رااخلم : (یوه ورځ مې د خپل محصل زوی لیکچر نوټونه ولیدل، ګورم چې کټ مټ هغه زمور د وختونو لیکچر نوټونه دي. په دې منځ کې پنځوس کاله تېر سوي ول، خو په دې دومره وخت کې یې لږ توپیر کړی و).
یا :
(د شپې مې ټلوېزیون چالان کړ چې یوه خبریال له ولسمشره وپوښتل : د افغانستان د اساسي قانون له تصویب څخه یو کال تېر سو خو ملي سرود لا نه دی جوړ سوی، که د اساسي قانون د هرې مادې عملي کول یو کال وخت ونیسي نو اساسي قانون خو (١٦٢) مادې لري، آیا ټول اساسي قانون به (١٦٢) کاله وروسته عملي کېږي؟)
پورتنۍ بېلګې د دې ترڅنګ چې د تلوسې د ایجاد قوت لري او دراتلونکو پېښو لپاره لاره هواروي، د پیل

په لومړیو جملو کې هم حرکت لري. هغه طنزي کیسې چې حرکت لري او دا حرکت یې د پیل په جملو کې موجود وي، لوستونکي هیڅکله نه ستړي کوي. همت صاحب دې ټکي ته ښه متوجه دی او نږدې په ټولو طنزونو کي یې دې موضوع ته پام کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library



زه په پای کې د تکړه لیکوال همت صاحب زېار د ډېرې ستاینې وړ بولم، ددغه کتاب د چاپ مبارکي ورته وایم او د لا زیاتو بریاوو هیله ورته کوم.

په مینه او درنښت
علم ګل سحر
څارندوی مېنه، کابل
۲۹ غبرګولی، ۱۳۸۸ لمریز کال

## لېونی څنګه د ناټو قوماندان سو؟

قاضي مېز وډباوه او د محکمې له حاضرینو څخه یې وغوښتل چې نظم مراعت کړي. بیا یې څارنوال ته وویل چې خپله جوړه کړې دعوه ولولي. څارنوال هم

ketabton.com - The Digital Library



راولاړ سو او دعوه یې داسي پیل کړه :
د ناټو ځواکونو قوماندان (مایکل) د (ټامسن) زوی چې څلوېښت کاله عمر لري او د امریکا د متحده ایالاتو د نیویارک ایالت اوسېدونکی دی، په لاندي جرمونو تورن دی :
۱_ د نشې په حالت کي یې موټر چلاوه او د (۱۳۸۷) ش کال د جوزا د میاشتي پر څلورمه نېټه یې د کابل په وزیر اکبرخان مېنه کي څلور نفره په موټر وهلي چې دوه نفره یې مړه او دوه نور یې سخت ټپیان کړي دي.
۲- یو میل ناقانونه توپنچه (تمانچه) او شل کیلو ګرامه پوډر ورسره نیول سوي دي.
۳- دترافیکو پر مدیر کرم خان یې ټکان ( ډزي ) کړي اود هغه د وژلو هڅه یې کړې ده.
٤- په ښار کي یې له لایسنس پرته موټر چلاوه.
د یادولو وړ ده چې مایکل تر دې مخکي هم جرمي دوسیه لري. مخکي تر دې چې افغانستان ته راسي د امریکا د نیویارک ایالت په تور کلي(Black village) کي یې د غواوو په یوه فارم کي د ډیوېډ په نوم یو مزدور په وسپنیز اخور پر سر وهلی او وژلی یې دی چې تر هغه وروسته په یوه قمار خانه کي پټ اوسېده. دغه ډول یې پروسېژکال په بګرام کي یو بې

ګناه ملا، چې ملا اسمعیل نومېده، وژلی او په پښوکي یې مېخونه ورټکوهلي دي. زه له محکمې څخه غواړم چي د افغانستان د جزا قانون له (...) مادو سره سم دي مایکل ته د شلو کالو بند سزا ورکړل سي.

ketabton.com - The Digital Library



زما د خبرو د لا سپیناوي لپاره دلته د پېښې دوه عینـي شاهدان هم حاضر دي چې یو د کابل ولایت د ترافیکـو مدیر ډګروال کرم خان او بل د کابل ولایت د پولیسـو د شلمي حوزې قوماندان بشیر خـان دی. محترم قاضي صاحب که اجازه وي نو دوی بـه د خپلـو سترګو لیـدلی حال ووایي.

دمایکـل مـدافع وکیـل وویـل : مخکـي تـر دې چـي شاهدان خبري وکړي زه دوې پوښتنې لـرم، یـو دا چـي، ایا د کرم خان او بشیر خان پرته نور شـواهد هـم سـته؟ بل دا چې ایا د وژل سویو خلکـو لـه خپلوانـو څخـه کـوم څوک څارنوالۍ ته عارض سوی دی؟

څارنوال وویل : نـه! نـه بـل شـاهد سـته او نـه د مړو لـه کورنۍ کوم عارض . بیا قاضي کـرم خـان تـه وویـل چـي خپلي خبري وکړي. کرم خان رامخ ته سو او و یې ویـل : دغرمې یوه بجه وه چې یو موټر په ډېري چټکۍ راغی، زه یې مخ ته ودرېدم چې لارښوونه ورتـه وکـړم چـې دا یوطرفه سړک دی، خو مـوټر دغسـې په چټکـۍ راباندي راغی، ما ځان ځني ګوښه کړ، موټر زما څخه تېر سـو او د سړک پر غاړه یې څلور نفره ووهل چې دوه نفره یـې ځای پـر ځـای مړه او دوه نـور یـې ټپیـان کـړل. زه د دې لپـاره چـي مـوټر و نـه تښـتي مـوټر تـه ورنـژدې سـوم، مایکل هڅه وکړه چې وتښتي، په ډېر تلوار یې د موټر

مخ راوګرځاوه چې په دې وخت کي یې موټر لـه دېـوال سره ټکر سـو او ودرېـده. کلـه چـي زه مـوټر تـه ورنـژدې سـوم نـو مایکـل لـه مـوټره راکښـته سـو، لـه جبـه یـې تمانچه راوایسته او پـر مـا یې ځـو ډزې وکـړې، د خـدای

ketabton.com - The Digital Library



فضل و زه ځنې خطا سوم، په دې وخت کي د پولیسو د شلمي حوزې قوماندان بشیر خان له څو تنو پولیسو سره راغی، مایکل یې ونیو او له ځان سره یې حوزې ته بوت.

تر دې وروسته قاضي له بشیر خان څخه وغوښتل چې خپلې خبرې وکړي. بشیر خان را ولاړ سو او خپلې خبرې یې داسي پیل کړې : مور چې کله د مایکل لاسونه ور وټړل نو له غورهاري پرته یې نوري خبرې نه کولې. کله چې مو د ده جېبونه تلاشي کړل نو هیڅ ډول اسناد ورسره نه ول، بیا چې مو یې موټر تلاشي کړ نو شل کیلو ګرامه پوډر هم ورسره ول. لس دقیقې به لانه وې تېرې سوې چې زمور د امیر له خوا تیلیفون راغی، ویل تاسي د مایکل په نوم د ناټو ځواکونو یو مهم قوماندان نیولی دی، ډېر ژر یې خوشي کړئ او معذرت ځنې وغواړئ. مور هم مایکل خوشي کړ او معذرت مو ځني وغوښت. دی چې تله نو په انګلیسي ژبه یې وویل چې (Fucking Police). نه پوهېږم چې دا په انګلیسي ژبه کي کورودانې ته وایي او که بله مانا لري.

وروسته د مایکل مدافع وکیل خپلې خبرې داسي پیل کړې : ښاغلي مایکل ته په (۱۹۹۵) م کال کي یو عصبي تکلیف پیدا او له همدې امله په ټیکساز ایالت

کي یوه لېونتون ته ولېږل سو. هلته تر څو کالو تېرولو وروسته ډاکټرانو د هغه پلار ته وویل چې د مایکل د علاج یوازینۍ لاره دا ده چې دی باید تل خوشاله وساتل سي، یاني هرڅه چې دی کوي او هر څه چې

ketabton.com - The Digital Library



غواړي باید خبره یې پر ځمکه وا نه چول سي، که داسي ونه سي نو علاج یې امکان نه لري. څرنګه چې امریکا داسي یوه ټولنه نه ده چې مایکل دي هر هغه څه پکښې وکړي چې زړه یې غواړي نو علاج یې هم و نه سو. بیاچې کله په (۲۰۰۱) م کال په افغانستان کې د امریکې په مشرۍ د تراهګرۍ ضد مبارزه پیل سوه نو ښاغلی مایکل هم له امریکایي عسکرو سره یو ځای افغانستان ته راغی او وروسته د ناټو د یوې ټولې عسکرو قوماندان وټاکل سو.

دا چې مایکل یو طرفه سړک ته موټر ننه ایستلی، ملامت نه دی، ځکه چې پر هغه سړک په انګلیسي ژبه نه و لیکلي چې: (No Entry) یاني مه ننوزئ! مایکل نه پوهیده چې دا یو طرفه سړک دی. بل دا چې په کومه ورځ مایکل موټر ټکروي نو هغه شراب خورلي او غرق نشه دی، چې د یو بهرني لپاره شراب څښل بد کار نه دی. له کومي ورځي راهیسي چې مایکل افغانستان ته راغلی نو د قانون په نوم له کوم خنډ سره نه و مخ سوی او په امریکا کي هم ورته ویل سوي ول چې له امریکایي قانون پرته د افغانستان هیڅ یو قانون د هغه مخه نه سي نیولای، نو کله چې هغه ته ټرافیکي پولیس لاس ورکوي، دی داسي فکر کوي چې دا کوم تراهګر دی او غواړي چې پر ده ځان مرګی برید وکړي،

نو هغه دی چې وارخطاکیږي، اعصاب یې اوړي او خلک په موټر وهي، پر ډګروال کرم خان یې هم ډزي له همدې خاطره کړي چې ده د تراهګر ګمان پر کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library



څارنوال ولاړ سو او ویې ویل : قاضي صاحب دی درواغ وایي، ایا داممکنه ده چې ناټودي یو لېونې ته قوماندای ورکړي او بیا دي هغه افغانستان ته راواستوي؟ مدافع وکیل په خندا وویل : څارنوال صاحب ستا خپله هم اعصاب چندان کار نه کوي. ایا د ناټو هیوادونه لېونې دي چې خپل هوښیار عسکر افغانستان ته راواستوي او له تراهګرو سره په جګړه کي یې قرباني کړي؟

قاضي وپوښتل : د مایکل روغتیا اوس څنګه ده؟ مدافع وکیل ځواب ورکړ : دمایکل روغتیایي حالت ډېر خراب دی، له کومي ورځي راهیسي چې هغه ته لاس ور اچول سوی نو هر افغان چې وویني زړه یې ورته خوړل کېږي او غواړي چې ویې وژني، ډاکټرانو یې ویلي چې که بیا د هغه مخ ته کوم افغان ودرېږي نو کېدای سي چې د پخوا په شان لېونی سي. قاضي وویل : ښه ښه بس پوه سوم. مدافع وکیل پسي زیاته کړه : تر کومه ځایه چې د سلاح د جواز خبره ده نو په افغانستان کي بهرنیان اصلاً د سلاح جواز ته اړتیا نه لري. بل داچي څارنوال صاحب د پوډرو خبره هم یاده کړه، اصلاً خبره داده چې ښاغلی مایکل په خپله پوډري دی او څو ورځي وروسته یې په افغانستان کي وظیفه پای ته رسېږي، ده غوښتل چې دغه پوډر له

ځان سره امریکا ته یوسي چې هم یې خپله ګوزاره په وسي او هم یو څه پیسې په جوړي کړي. څارنوال صاحب داهم وویل چې مایکل د ډیویډ په نوم یو امریکایي وژلی دی. دا خبره سمه ده خو په هغه وخت

ketabton.com - The Digital Library



کـي د ده اعصـاب جـوړ نـه ول، ځکـه نـو محکمـې هـم خوشي کړ. د ډیویډ تر وژل کېدو وروسته مایکل په یـوه قمـار خانـه کـي پـټ نـه اوسـېده، بلکـې همـاغـه د ده د خوښي ځـای و، په امریکـا کـي خـو ډیموکراسـي ده، هـر ځای چي د چا زړه وغواړي نو هلته اوسېدلای سي، پاته سوه د ملا اسمعیل خبره، نو هغـه ملا خـو القاعـده و، سهار وختي به پر یو لوړ ځای ودرېد او په عربـي ژبه به یې طالبانو او القاعده وو ته نارې ور وهلې چي هغوی به بیا د ناټو مرکزونه په توغندیو ویشتل. د القاعـده وو له منځه وړل خـو د مایکـل وظیفـه ده. څـارنوال یـې پـه خبرو کـي ورولوېـد او ویـې ویـل : داخبـره سـمه نـه ده، دکلي ټول خلک وایـي چـي ملا اسـماعیل القاعـده نـه، بلکي د مسجد امـام و او پـر منبـر بـه یـې د سـهار اذان کاوه. مـدافع وکیـل وویـل : مایکـل څـه پوهېـده چـي دا اذان دی، دی خـو پـه عربـي ژبـه نـه پـوهېږي، ده داسـي ګمان کړی دی چي په عربي ژبه القاعده وو ته نارې ور وهي.

څارنوال وویل : مایکل خـو بـې لـه دې چـي پـه دې بـاب څېړنه وکړي د ملا اسـماعیل پـه پښـو کـي یـې مېخونـه ورټکوهلي او بیا یې ویشتلی دی. مدافع وکیل وویـل : داچـي ملـا اسـماعیل رښـتیا القاعـده و او کـه نـه، داپوښتنه باید له ښاغلي مایکل څخه د هغه قوماندان

وکړي، د افغانستان محکمه دا صلاحیت نه لري.

ډګروال کرم خان را ولاړ سو، لاسونه یې پر نامـه ونیـول او په عاجزۍ یې وویل : قاضي صاحب زه خپلـي خبـري بیرته اخلم، قسم په خدای چي زه نـه وم خبـر چـي دا د

ketabton.com - The Digital Library



یو بهرني سړي موټر دی، کنه تر اوسه مي نه د کوم بهرني موټر درولی او نه مي تلاشي کړی دی، ان داچي که د بهرنیانو د ځینو موټرو په باب مي معلومات هم درلودل چي پوډر پکښې دي، خو بیا مي هم نه دي تالاشي کړی.

ورپسې د پولیسو قوماندان بشیر خان وویل : قاضي صاحب زه هم خپلي خبري بیرته اخلم، زه خبر نه وم چي دا یوخارجي سړی دی، کله چي خبر سوم نو ډېر ژر مي خوشي کړ او معذرت مي ځني وغوښت، ان داچي خپل پوډر او سلاح مي یې هم بیرته ورکړل.

په دې وخت کي قاضي مېز و ډباوه او له حاضرینو څخه یې وغوښتل چي غلي سي او بیا یې وویل : د دوارو خواوو او شاهدانو د خبرو په رڼا کي محکمه د مایکل په باب داسي پرېکړه کوي :

بهرني نظامیان غیر مسئول او واجب الاحترام دي چي په افغانستان کي نه سي محاکمه کېدای. نو د افغانستان محکمه مایکل خوشي کوي اود هغه یو میل تمانچه او شل کیلو ګرامه پوډر بیرته ورکوي چي دغه اجناس یې مخکي لا ورته سپارل سوي دي. پاته سوه د ښاغلي مایکل د شخصیت د اعادې خبره. د ترافیکو مدیر کرم خان یو بهرنی، یاني مایکل ډارولی او د پولیسو د شلمي حوزې قوماندان بشیر خان بیا د لسو

دقیقو لپاره د هغه لاسونه ورتړلي چي په دې ډول یې یو خو د مایکل سپکاوی کړی او بل یې د هغه روغتیا په خطر کي اچولې ده. نو د افغانستان محکمه د دې جرم په بدل کي بشیر خان د اسلم خان زوی او ډګروال

ketabton.com - The Digital Library



کرم خان د نورخان زوی هر یوه ته د شلو کالو بند سزا ورکوي . که چېرې مایکل د پخوا په شان لېونی سو نو دوی دواړه به اعدامېږي. داچې د مایکل د موټر بانټ کړوپ سوی او روغتیایي حالت یې هم خراب سوی نو د دې جرم په مقابل کي به دوی هر یو مایکل ته پنځه ویشت زره ډالره جریمه ورکوي.

ketabton.com - The Digital Library



# باز سازي، که باد سازي!؟

قهرجنو مظاهره چیانو د کابل ښار په څو ځایونو کي اورونه بل کړل او چیغي یې وهلې چي دولت دي هغه والي د قانون منګولوته وسپاري چي ددوی د مشر د ورور پر موټر یې برید کړی دی. یو سړی چي لنګوټه یې په غاړه کي ول ول رالوېدلې ول، وویل : دا یوه ستره او نه جبرانېدونکې ضایعه ده، زمور ګوند او قوم ته په سپکه کتل سوي دي، مور به خپل غچ خامخا اخلو.
یوه مېرمن چي خپل تور پوړنی یې تر زنه لاندي کلک ټرلی و او یوه کاغذي لوحه یې په لاس کي لوړه نیولې ول پر لوحه داسي لیکلي ول : دولت باید خامخا دغه والي محاکمه کړي. یو بل سړی چي غاښونه یې چیچل او تر خوله یې ځګونه رابهېدل، چیغه کړه : دا غټه خبره ده، هیڅکله یې نه پرېږدو .
له بلي خوا د بشري حقوقو د خپلواک کمیسیون د ټرانسپورټ څانګي ویاند وویل چي، په سیاست کي برخه اخیستل د هر انسان حق دی او هر څوک حق لري موټر ولري چي په دې اساس پر موټر برید په حقیقت کي پر هغه شخص برید دی. مور په دې اړه څېړنه کړې او دوسیه مو یې څارنوالۍ ته استولې ده. هیله لرو

چي څارنوالي به دغه موضوع جدي ونیسي او په دې اړه به اجراات وکړي.
تر مظاهرې لږ شېبه وروسته پولیسو پر سړک ولاړو ربړی والاوو پسې سوټي راواخیستل، څو ربړی چپه

ketabton.com - The Digital Library



سوې، له سړک څخه دوړي پورته سوې او د وزیرانو د تورو ښیښو موټرونه یو په بل پسي ارګ ته ور وګرځېدل چې د دې پېښې په اړه د کابینې په بېړنۍ غونډه کې برخه واخلي.

د کابینې تر غونډې وروسته د ولسي جرګې یوې ډلې وکیلانو د اعلامیې په خپرولو سره وویل چې په دې اړه یوازې د کابینې بېړنۍ غونډه او د دې کار غندل کفایت نه کوي، باید یو عملي ګام واخیستل سي، خو د ارګ ویاند د ولسي جرګې د وکیلانو دغه تورونه رد کړل او زیاته یې کړه چې کابینې د کورنیو چارو د وزیر په مشرۍ یو کمیسیون جوړ کړی او دنده یې ورته سپارلې چې دغه موضوع وڅېړي او راپور یې د کابینې بلې غونډې ته وړاندي کړي. ان دا چې والي یې دا نن د کمیسیون تر څېړنو مخکې له کاره ګوښه کړی دی.

ددغه کمیسیون یو غړی، جنرال پنچرمین چې شل کاله یې د پنچرمینۍ دکان درلود او اوس چېرمین یاني د پولیسو د اتلسمي حوزې قوماندان دی وایي چې، دوی د موټر پنچر سوی ټایر په یوه امبولانس کې په ډېر درناوي عدلي طب ته یووړ او هلته تر یو لړ څېړنو وروسته ورته معلومه سوه چې نومورۍ ټایر پنچر سوی نه، بلکي په خپله یې هوا وتلې ده.

ددغي پېښې په ټراو د ملي باد سازۍ ګوند مشر وایي

چې د موټر له یوه ټایر څخه هوا ایستل پر ټول موټر اغېز کوي او موټر خو ښکاره خبره ده چې د هغه د خاوند سیاسي ژوند ته تاوان رسوي. دا چې موټر په سیاست کې ډېر مهم دی نو خامخا د نومورۍ ګوند

ketabton.com - The Digital Library



سیاسي فعالیتونه هم له خنډ سره مخ کوي چې په دې ډول په افغانستان کي ډیموکراسۍ ته یوه غټه ضربه ده. زما په اند د یوه سیاسي ګوند د موټر له یوه ټایر څخه هوا ایستل په حقیقت کي له ډیموکراسۍ څخه هوا ایستل دي.

له بلي خوا لري کړل سوی والي دغه تورونه نه منې او وایي چې، دی یې یوازي په دې تور له کاره ګوښه کړی چې ولي یې په خپل ولایت کي باد سازۍ ته پاملرنه نه ده کړې، یاني ولي یې د نومورې موټر پنچري نه ده ور نیولې.

دغه اعتراضونه هغه مهال راپورته سول، کله چې درې ورځي مخکي د یوه سیاسي ګوند ویاند اعلان وکړ چې د دوی د مشر د ورور موټر د والي د دفتر مخ ته پنچر سوی دی. ویاند دا تور ولګاوه چې د موټر په پنچر کېدو کي والي نېغ په نېغه لاس لري.

د یادوني وړ ده چې تر اوسه پوري د دولت یو عادي چارواکی هم له دې امله له کاره نه دی ګوښه سوی چې ولي یې د باز سازۍ په لار کي غفلت کړی دی، نو دا چې باد سازۍ ته په نه پاملرني سره یو والي بې له دې چې ګناه یې ثابته سي، له کاره ګوښه کېږي، داسي ښکاري چې باد سازي تر بازسازي ډېره مهمه ده.

ketabton.com - The Digital Library



# سیاسي عینکې

د ارګ په غولي کي د څرخي الوتکي څرخ لا سم نه و ارام سوی چي ولسمشر له خپلو څو وزیرانو سره په چټکو ګامونو ورپورته سو او الوتکه بیرته والوته. نن د حساب ورکولو د اوونۍ لومړۍ ورځ وه چي هر وزیر د رسنیو له لاري ملت ته د خپل کار کلنی راپور ورکاوه، خو ولسمشر غوښتل چي خپله په ټول افغانستان کي وګرځي او د هر وزیر کار له نږدې وګوري. څرنګه چي امنیت سم نه و، نو ده غوښتل چي په الوتکه کي د هوا له لاري د وزیرانو د کارونو نظارت وکړي.
کله چي الوتکه فضا ته ښنه لوړه سوه، ولسمشر وویل چي لومړی به د زراعت وضعیت وګورو. له دې سره سم د کرهڼي وزیر له خپله ځایه ولاړ سو، پیلوټ ته یې په غور کي یو څه وویل او بیا یې ولسمشر ته

وویل: رئیس صاحب پیلوټ ته مي وویل چي د الوتکي ارتفاع لږ کمه کړي چي هر څه ښه شفاف ووینو، ځکه چي د حساب ورکولو اوونۍ ده.
یو څو دقیقې وروسته ولسمشر د الوتکي تر کړکۍ

ketabton.com - The Digital Library



لاندي وکتل او بیا یې د کرهڼي وزیر ته وویل : تاسي خو ویل چې د زراعت په برخه کې ډېر کار سوی دی، زه خو دلته له سپېرو دښتو پرته بل هیڅ شی نه وینم.
د کرهڼي وزیر په خندا ورته وویل : رئیس صاحب مور ټولو ته خو هر څه ډېر شفاف او رڼه معلومېږي، دا چې تاسي یې نه وینئ، ټول علت ستاسي په عینکو کې دی، که تاسي زمور له عینکو څخه ورته وګورئ نو هر څه به ډېر صاف او شفاف ووینئ.
ولسمشر په تعجب وپوښتل : عجیبه ده نو زما په عینکو کې څه عیب دی؟
- صاحب ستاسي عینکي خو یو د افغانستان تخنیک دی او بل نو ډېري پخوانۍ دي چې د هغه وخت د شرایطو او ستاسي د سترګو د نمرې په پام کې نیولو سره جوړي سوي دي، خو زمور عینکي سیاسي عینکي دي چې خورا عصري او په دوستو هیوادونو کې زمور د دولت د اوسني سیاست او زمور د وظیفې په پام کې نیولو سره جوړي سوي دي. په دې عینکو کې د سړي د سترګو دید دومره ټېز وي چې د افغانستان په هره سیمه کې د خپلي وظیفې اړوند هر څه لیدای سي.
- دا څه وایې! ته راکړه چې زه دا ستا عینکي پر سترګو کړم!

- ها صاحب دادي واخلئ!
کله چې ولسمشر عینکي پر سترګو سمولې، نو الوتکه کندز ولایت ته ور سېده. ولسمشر د الوتکي تر کړکۍ د باندي وکتل او بیا یې د کرهڼي له وزیر څخه

ketabton.com - The Digital Library



وپوښتل چې دا کوم ولایت دی؟ هغه یې غوږ ته خوله ورنږدې کړه او ویې ویل: صاحب دا نیمروز دی. د دې سره سم ولسمشر په زوره چیغه کړه : دا څه وایې؟ نیمروز داسي تک شین او سمسور سوی دی؟ له دې سره سم یې ددعا په ډول لاسونه پورته کړل او ویې ویل : خدایه شکر چې ماته دي دومره توان راکړ چې په ډېرو لږو امکاناتو او ډېر لږ وخت کې نیمروز داسي سمسور کړم. بیا یې وزیرانو ته مخ راواړه او پسې زیاته یې کړه: په رښتیا چې ډېره د تعجب وړ خبره ده، دلته پخوا یوازي ریګ او دوړي بادېدې، ان دا چې خلکو یې د څښاک اوبه نه درلودې. بیا یې د معارف وزیر ته په خندا وویل : یاره دا خو رښتیا چې ښې عینکي دي. ناڅوانانو تاسي ټول چې داسي عینکي لرئ ماته ولي یوه جوړه نه رانیسئ؟ زه خو تر اوسه پوري هغه پخوانۍ غیر سیاسي عینکي استعمالوم.

د کرهڼې وزیر وویل : صاحب ولي یې نه درته رانیسو، مور چې کله لومړۍ ورځ دغه عینکي رانیولې، نو ته مو په زړه کي وې. خبره دا ده چې ستا عینکي باید څو ډوله نظر ولري، چې بېلابېلو کارونو ته په بېل بېل نظر وګوري، مور چې په دغه ډول عینکو پسې هر څومره وکتل پیدا مو نه کړې، بیا مور په خپل منځ کي سره وویل چې که رئیس صاحب هر وخت غوښتل چې د

کوم وزارت کارونه کنټرول کړي نو مور به خپلي عینکي ورکوو. ولسمشر وخندل او ویې ویل : بس بس دا هم ښه نظر دی. بیا یې له خپله جېبه قلم راو ایست، په کتابچه کي یې یوڅه ولیکل او ویې ویل : ښه اوس به

ketabton.com - The Digital Library



نو د معارف وضعیت وګورو. ده لا دا خبره نه وه پوره کړې چې د معارف وزیر ولاړ سو، پیلوټ ته یې په غور کې یو څه وویل او بیرته راغی د ولسمشر څنګ ته کښېناست. ولسمشر لا تر کړکۍ دباندې نه وه کتلې چې د معارف وزیر خپلې عینکې هغه ته ورکړې، ویل رئیس صاحب ها دادی دا زما عینکې واخلئ او بیا ورته وګورئ. ولسمشر چې لاندې وکتل نو د هرات ولایت د نجونو یوه لیسه یې ولیده، ویل دا کوم ځای دی؟

- صاحب دا د کندهار پنجوایي ولسوالي ده

- ته رښتیا وایې؟

- هو صاحب رښتیا وایم، د کندهار په ټولو ولسوالیو کې د هلکانو او نجونو مکتبونه فعال دي.

- طالبان خو په درواغو دا اوازې اچوي چې د کندهار ولایت اکثره ولسوالۍ له مرکزونو پرته ددوی په واک کې دي، خو زه دې ته حیران یم چې دا ځینې نړیوالي ادارې، په تېره بیا رسنۍ ولې دومره غټ درواغ وایي چې د کندهار ولایت په ولسوالیو کې مکتبونه یو مخ ټرل سوي دي. اوس خو دادی مور او تاسي ټول یې په خپلو سترګو وینو چې په پنجوایي غوندې ځای کې د هلکانو مکتب خو څه کوې چې د نجونو مکتبونه هم فعال دي.

ولسمشر په خپله کتابچه کې یو څه ولیکل او ویې ویل : ښه اوس به نو د تاریاکو احوال واخلو. په دې وخت کې له نشه یې توکو سره د مبارزې وزیر له خپلې ځایه داسي په چټکۍ او وارخطایۍ ولاړ سو لکه یو لړم چې

ketabton.com - The Digital Library



یې و چیچي. ده هم د نورو دوو وزیرانو په شان پیلوټ ته په غور کي یوخه وویل او بیا په منډه راغی د ولسمشر څنګ ته کښېناست. تر یو څو خبرو وروسته ولسمشر د الوتکي تر کړکۍ لاندي وکتل چي ننګرهار ولایت یې ولید او یې پوښتل: دا کوم ولایت دی؟ څنګ ته ناست وزیر ورته وویل چي رئیس صاحب دا هلمند دی او له دې سره سم یې خپلي عینکي د ولسمشر پر سترګو ورکښېښوولې. ولسمشر بې واره وخندل او ویې ویل: اوهو ماشاء الله دلته خو تاریاک هیڅ نه لیدل کېږي. وزیرصاحب په خندا د ولسمشر غور ته خوله ورنږدې کړه او ویې ویل : رئیس صاحب سږکال په ټوله هلمند کي یو بوټی تاریاک هم نه دي کرل سوي، ټولو خلکو غنم کرلي دي. ولسمشر وویل : بس بس چي په هلمند ولایت کي هم تاریاک نه دي کرل سوي، نو زه باور لرم چي په ټول افغانستان کي نه دي کرل سوي. بیا یې لوړ وکتل او ویې ویل: خدایه شکر چي له دې پېغوره خو دي خلاص کړم چي نړیوالو به ویل چي افغانستان د تاریاکو لومړی تولیدوونکی هیواد دی. پیلوټ الوتکه څو واره د غنمو د فصلونو د پاسه په ټیټه ارتفاع کي تېره کړه.

ولسمشر په خندا وویل : یو وخت هلمند ته د غنمو ګدام ویل کېده، اوس زه داسي فکر کوم چي هلمند

بیرته هغه پخواني حالت ته راګرځېدلی دی.

په دې وخت کي سوکه سوکه تیاره سوه، ولسمشر وویل چي اوس مانښام سو، د اوبو او برېښنا حالت به هم وګورو، بیا به نو ځو له خیره سره؟ له دې سره سم

ketabton.com - The Digital Library



د اوبو او برېښنا وزیر هم د نورو وزیرانو په شان پیلوټ ته په غور کي یو څه وویل او بیا یې ځان د ولسمشر څنګ ته راور ساوه. یو څو دقیقې وروسته الوتکه د کابل ښار فضاته ورسېده. په دې وخت کي ولسمشر د الوتکي تر کړکۍ دباندي وکتل، ترڅو چې یې خوله خبرو ته جوړوله نو د اوبو او برېښنا وزیر خپلي عینکي د هغه پر سترګو کړې. له دې سره سم ولسمشر په خوښۍ وپوښتل :

- او هو دلته د برېښنا څومره ډېر څراغونه دي، دا کوم ځای دی؟

- صاحب دا پکتیکا ده.

- دا څه وایې! دا پکتیکا ده؟

- هو صاحب، په ټولو ولایتونو کي مې اول پکتیکا ته برېښنا راوسته، ما ویل د دې ولایت خلک ډېر غریب دي. له خدایه راضي یم چې له کومي ورځې راهیسې دلته برېښنا راغلې نو خلکو ته دومره ډېر کارونه پیدا سوي چې اوس بیخي مزدور نه پیدا کېږي. ان دا چې پاکستانیان او ایرانیان دې ولایت ته د کار لپاره راځي. دادی د کار او ټولنیزو چارو وزیر صاحب خپله دلته تشریف لري، ده ته هر څه معلوم دي.

- یاره واقعاً چې دا یو ستر خدمت دی، خو عجیبه ده د پکتیکا مرکز، ښرنه خو پخوا دومره غټ ښار نه و.

- صاحب ښرنه اوس هغه پخوانی کوچنی ښار نه دی، بیخي لکه کابل داسي دی او بل داچي د پکتیکا ولایت ټولي ولسوالۍ برېښنا لري، ځکه نو ټول ولایت یو ښار غوندي ښکاري.

ketabton.com - The Digital Library



ولسمشر په خپله کتابچه کي ژر ژر یو څو کرښې ولیکلې او ویې ویل : د نن لپاره همدومره کار بس دی، راځئ چي ځو. بیا یې د خپلي کتابچې پاڼې سره واړولې او د خپلو یادښتونو په لوستلو یې پیل وکړ. په دې وخت کي وزیرانو یو بل ته حیران سره کتل. ولسمشر کتابچه په جیب کي واچوله، غاړه یې تازه کړه او ویې ویل : ما د خپلو وزیرانو په باب د نړیوالو او داخلي رسنیو له لاري، دغه ډول د خلکو له خولې ډېر شکایتونه اورېدلي ول چي دوی د بیت المال پیسې اکثره غلاکوي او یا یې په قیمتي موټرونو، کورونو او خپلو عیاشیو لګوي خو زه اوس پوه سوم چي دا ټول تورونه بې ځایه ول. نن ماته معلومه سوه چي تاسي په رښتیا افغانستان ته ډېر ستر خدمتونه کړي دي اوله خپل وطن سره د زړه له کومي مینه لرئ، زه ویاړم چي ستاسي غوندي وزیران لرم.

ketabton.com - The Digital Library



# جار قربان د مالیې وزیر تر پلان سم

د وزیرانو دا غونډه د پراختیایي بودجې د تصویب لپاره رابلل سوې وه چې ځینو وزیرانو یو ساعت مخکې لا ځان ورته رارسولی و. ولسمشر ورغوي سره ومښل، د غونډې برخه وال یې نښه تر نظر تېر کړل او ویې ویل : څوک خو به غیر حاضر نه وي؟ د کورنیو چارو وزیر ولاړ سو، لاسونه یې پرنامه ونیول او ویې ویل : صاحب ټول وزیران حاضر دي، پیسې هم عجیبه شی دي، زه خو خپله سهار په خړه لا راغلی یم، ما ویل چې غونډه راڅخه تېره نه سي. له دې خبرې سره سم د غونډې ټولو برخه والو وخندل.

ولسمشر په خندا وویل : رښتیا هم پیسې نښه شی دي، رحمان بابا دډنیا په باب څه نښه ویلي دي :

نښــه ده نښــه ده دا دنیــا
چــي تونښــه ده د عقبــا
که یې تویه پر صحرا کړې
نښایســته کانــدي صــحرا

مور پر شېرپور غوندي سپېره ځای دنیا توی کړه، ګورئ تاسي خو ټول هلته کورونه لرئ، اوس شېرپور څومره نښایسته ځای دی، نښه په هر صورت اوس خپله غونډه پیـل کـوو. اول بـه د دفـاع وزارت پـر وړانـدیزونو خبـري

ketabton.com - The Digital Library



وکړو. د دفاع وزیر سترګې سره ومښلې، مخ ته پرته دوسیه یې راپورته کړه او ویې ویل : مور غواړو د ملي اردو په چوکاټ کي پنځه زره عسکر زیات کړو چي مالي لګښت مو یې پنځه سوه میلیونه افغانۍ اټکل کړی دی. ده لا د موضوع جزیات نه وه ویلي چي د کورنیو چارو وزیر یې خبره ونیوله او ویې ویل :

رئیس صاحب زما په فکر نورو عسکرو ته هیڅ اړتیا نسته، که خبره د داخلي امنیت وي نو هغه خو زمور پولیس او امنیتي کمپنۍ ساتلای سي او که ددوی دا مطلب وي چي په ملي اردو د طالبانو او القاعده وو مخه ونیسي نو دا کار امکان نه لري. ددې نویو عسکرو تاوان دا دی چي د امنیتي کمپنیو اړتیا تر پوښتني لاندي راولي. اوسمهال په افغانستان کي په لسګونو امنیتي کمپنۍ په کار لګیا دي چي که دا کمپنۍ وتړل سي، نو ډېر خلک به بې کاره سي. مثلاً اول زه درې امنیتي کمپنۍ لرم، دغسي نور وزیران درواخله چي له دې لاري ډېر وزیران ، وبخښئ خوله مي خطاوته، ډېر خلک ډوډۍ پیدا کوي.

ولسمشر د تائید په ډول سر وښوراوه او ویې ویل :

رښتیا هم چي زمور د خلکو کار او روزګار ډېر ضروري دی او تر ټولو مهمه دا ده چي ماته د خپلو وزیرانو روزګار ډېر مهم دی، په تېره بیا د کورنیو چارو وزیر خو

ډېر راباندي ګران دی، ځکه چي پلار یې ډېر ښه سړی و. خیر دا موضوع دي پر همدې ځای پاته وي اوس به د مهاجرینو د وزیر خبري واورو. د مهاجرینو وزیر چي لا یې خبرو ته پوره چمتووالی نه درلود، وارخطا غوندي د

ketabton.com - The Digital Library



دوسیې پاڼي سره واړولې او ویې ویل : مور غواړو په راتلونکي کال کي د شلو زرو کورنیو د راستنېدو پروګرام جوړ کړو چي ددې کار لپاره پنځه سوه میلیونه افغانیو ته ضرورت لرو. ده لا خپله خبره نه وه پوره کړې چي د کلیو پراختیا وزیر یې په خوله کي ور ولوېد او ویې ویل : وزیر صاحب که شل زره کورنۍ په یوه کال کي افغانستان ته راستانه سي نو مور ته به ګرانه وي چي ددوی لپاره د اوسېدو ځایونه برابر کړو. ولسمشر وویل چي نېه سمه ده د مهاجرینو خبره به بیا ګورو. بیا یې د کورنیو چارو وزیر ته مخ ور واړاوه او ویې ویل : نېه ځوانه وایه تا خو هم نېه ډېر کاغذونه مخ ته ایښي دي.

د کورنیو چارو وزیر خپلي پنډو نېیښو والا عینکي پر سترګو کړې او ویې ویل : رئیس صاحب تاسي ته خو معلومه ده چي د لویو لارو امنیت ډېر خراب دی، نو مور غواړو چي په نوي کال کي د لویو لارو د ساتلو لپاره درې زره نوي پولیس استخدام او وروزو چي لګښت یې پنځوس میلیونه افغانۍ کېږي. ددې خبري سره سم د ټرانسپورټ د وزیر رنګ سور سو او ویې ویل : رئیس صاحب تاسي ته خو ډېره نېه معلومه ده چي له کومي ورځي راهیسي د لویو لارو امنیت خراب سوی نو ډېری خلک په طیارو کي سفرونه کوي، چي

له دې لاري زمور عواید لس برابره لور سوي دي، نو که د لویو لارو امنیت وساتل سي نېکاره خبره ده چي زمور په داخلي هوایي پروازونو کي کموالی راځي او ډېر تاوان کوو . اوس ټول شتمن خلک په طیارو کي

ketabton.com - The Digital Library



سفرونه کوي او غریب خلک که په موټرو کي هم سفر وکړي څوک څه نه ورته وایي. ولسمشر وخندل او ویې ویل: یاره وزیر صاحب دا خودي ډېره ښه خبره وکړه، زما خو دې خبري ته هیڅ پام نه و، مور باید دولتي عواید نور هم لور کړو چي ملي اقتصاد مو پیاوړی سي.

ورپسې د سرحداتو وزیر غاړه تازه کړه او ویې ویل : مور غواړو خپلي سل سرحدي تانې چي د تېرو جګړو پر مهال له منځه تللي وې، بیرته فعالي کړو چي ددې کار لپاره څلور سوه ملیونه افغانیو ته اړتیا لرو. له نشه یي توکو سره د مبارزې وزیر وویل : رئیس صاحب که چېري د افغانستان ټولي سرحدي تانې فعالي سي نو د تاریاکو د قاچاقو مخه نیول کېږي او په نتیجه کي یې تاریاک ارزانه کېږي، کله چي تاریاک ارزانه سول خلک یې نه کري، د تاریاکو کښت چي بند سو ښکاره خبره ده چي زمور وزارت ته هیڅ اړتیا نسته. زه فکر کوم چي د یوه فعاله او ډېر ضروري وزارت لغوه کېدل یوه لویه ضایعه ده. افغانستان چي تر اوسه بې سرحدي تانې خدای ساتلی و، تر دې وروسته به یې هم خدای وساتي.

ولسمشر وخندل، د نشه یي توکو د مبارزې د وزیر پر اوږه یې لاس کښېښود او ویې ویل : بې غمه اوسه

زوروره، ما خو مخکي لا وویل چي ماته د خپلو وزیرانو روزګار ډېر مهم دی. که ما دا وزارت لغوه کولای نو پخوا به مي لا لغوه کړی وای، ځکه چي ددې وزارت له جوړېدو سره د تریاکو کښت څو برابره ډېر سوی دی،

ketabton.com - The Digital Library



خو زه دا کار نه کوم.
تر دې وروسته د لوړو زده کړو وزیر وویل : مور په پام کي لرو چي سزکال په بېلابېلو ولایتونو کي درې نوي پوهنتونونه جوړ کړو. د کار او ټولنیزو چارو وزیر یې خبره ونیول او ویې ویل : زه فکر کوم چي دوی په لوی لاس مور ته جنجال جوړوي، مور باید دومره محصلین جذب کړو چي تر فراغت وروسته کارونه ورکړو. که دا درې نوي پوهنتونونه جوړ سي سبکاره خبره ده چي هر کال به د فارغانو په شمېر کي ډېروالی راځي. زه چي خپلو امکاناتو ته ګورم نو نورو فارغانو ته کارونه نه سو ورکولای.
ولسمشر وخندل او ویې ویل : رښتیا هم چي دا کار به وزیر صاحب ته جنجالونه جوړ کړي، اوس که خلک بېکاره دي او یا په داسي کارونو اخته دي چي لږ اجوره لري، دومره غټه ستونزه نه ده، ځکه چي باسواده خلک چندان نه دي بېکاره، خو که یو باسواده سړی خټګر او یا بېکاره وي نوټول خلک به نارې وهي چي وګوره باسواده سړی بې کاره دی او یا خټي کوي. اوس دي دا پروژه هم پاته وي، بیا به یې سره ګورو. سبه اوس به وګورو چي د کانو او سپکو صنایعو وزیر صاحب څه وړاندیزونه لري؟
د کانو او سپکو صنایعو وزیر وویل : مور د راتلونکي

کال لپاره دوې پروژې لرو. یو د جواهرو او بله د زمردو د یوه کان را ایستل دي چي لګښت مو یې درې ملیارډه افغانۍ اټکل کړی دی. دوهمه پروژه مو د سبځو لپاره په کورونو کي د لاسي صنایعو د زده کړي کورسونه

ketabton.com - The Digital Library



دي چـي پـر دې پـروژه پنځـه سـوه میلیونـه افغـانۍ لګښت راځي.
د دفاع وزیر وویل چې دا پروژه دي مور ته راکړل سي، مور یې ډېره ښه عملي کولای سو، ځکه چـي مـور په دې اړه ډېره تجربه لـرو. زمـور ځینـي جنرالان چـي پخـوا جهادي قوماندانان ول د جـواهرو او زمـرودو څـو کانونـه را ایستلي دي، ان دا چي په دې هـم ښه پـوهیږي چـي چیري یې خرڅ کړي. د ښځو د چارو وزیري پوښتنې پر سر ټینګ کړ او ویې ویل : وزیر صاحب زه په لومړۍ پـروژه کـي څه نه وایم ،خو دوهمه پـروژه مـو زمـور فعالیتونـه له خنډ سره مخامخ کـوي، مـور غـواړو چـي ښځي لـه کورونو څخه راووزي او له کـوره د بانـدي په دفترونـو او نورو برخو کي کار وکړي خـو تاسي یـې په کورونـو کـي مصروفه ساتئ.
د کانو او سپکو صنایعو وزیر چي خوله خبرو ته جوړوله نو ولسمشر مداخله وکړه او ویې ویل : زه چي ګورم نو دا موضوع یو څه جنجالي ده، ښه بـه دا وي چـي پـرې یـې ږدو، اوس بـه وګـورو چـي د نشه یـې توکـو سره د مبـارزې وزیـر صـاحب څـه وایـي. وزیـر صـاحب ژر ژر د دوسیې پاڼې سره واړولې او ویې ویل : مـور غـواړو چـي د تاریـاکو د کښـت پـر ضـد یـو تبلیغـاتي کمپـاین وکړو چي ددې کار لپاره پنځوس میلیونه افغانیو ته

ضرورت لرو. د ارشاد، حج او اوقـافو وزیـر وویـل چـي دا ښه پـروژه ده خـو کـه د کوکنـارو په کښـت کـي نـابـره کمښـت راسي نـو د حاجیـانو شـمېر بـه هـم ورسـره کـم سي، ځکه چي ډېر خلک د تاریاکو په پیسو حج ته ځـي.

ketabton.com - The Digital Library



د ښځو چارو وزیري وویل چي که د تاریاکو کښت کم سي نو ودونه به هم ورسره کم سي او ډېري نجوني به بې واده پاته سي ځکه چي ډېر خلک د تاریاکو په پیسو ودونه کوي. ولسمشر په خندا وویل : فکر کوم چي ستاسي دواړو اندښنې پر ځای دي، بس دا پروژه دي هم د اوس لپاره پاته وي. ورپسې د کرهنې وزیر دولسمشر خواته وکتل او ویې ویل : مور غواړو چي د ځینو مضرو حشراتو پر ضد یو پراخ کمپاین وچلوو، لکه د انارو مچ، ملخ او داسي نور چي لګښت یې پنځه سوه میلیونه افغانۍ دی. د دفاع وزیر وویل چي زما د معلوماتو له مخي دغه مضر حشرات اکثره له پاکستان څخه راغلي دي. زه افغانستان ته ددغو مضرو حشراتو راتګ تصادفي نه بولم، بلکي داسي فکر کوم چي دا به د پاکستان حکومت رالېږلي وي چي له دې لارې زمور زراعت له پښو وغورځوي. هر هغه مضر موجود چي د پاکستان له خوا افغانستان ته رالېږل کېږي د القاعده او طالب حکم لري . تاسي ته خو معلومه ده چي د القاعده وو او طالبانو سره مبارزه د دفاع وزارت کار دی، نو که دا پروژه مور ته راکړل سي مور یې په ډېر بریالتوب سره مخ ته بېولای سو. ولسمشر تندی په ورغوي وواهه او ویې ویل : اوف ورک یې کړئ! څو واره مي درته ویلي دي چي دلته د

القاعده او طالب نوم مه اخلئ، نور ګردسره دا بحث پرېږدئ، دا پروژه دي هم اوس پاته وي، راسئ چي د عامي روغتیا وزارت پر وړاندیزونو خبري وکړو.
د عامي روغتیا وزیر په فاتحانه انداز سره غاړه اوږده

ketabton.com - The Digital Library



کړه او ویې ویل : زمور د ځېرنې له مخې د خلکو ډېرې ناروغۍ، د ککړ چاپېریال له امله دي. ددې ستونزې د حل لار دا ده چې باید د روغتیا په برخه کې د خلکو د عامه پوهاوي کچه لوړه سي، نومور غواړو د عامه پوهاوي لپاره په یوه پراخ کمپاین لاس پورې کړو چې لګښت به یې یو ملیارډ افغانۍ وي. له دې خبرې سره ټولو وزیرانو نارې کړې او په یوه خوله یې وویل چې وزیر صاحب ته خو مور ټول په بلا اخته کوې. لومړی د ټرانسپورټ وزیر وویل : که د خلکو د روغتیایي پوهې سطحه لوړه سي نو پر مور به د انتقادونو باران جوړ سي، ټول به وایي چې چاپېریال د موټرو د دود له امله ککړ سوی دی .

د کرهنې وزیر وویل چې خلک به وایي چې د ځنګلونو بیا رغونې ته پام نه دی سوی. د ښار جوړولو وزیر وویل چې خلک به وایي چې د ځښلو پاکي اوبه نسته او ښار پاکولو ته پام نه دی سوی. د سوداګرۍ وزیر وویل چې خلک به وایي چې ټول ښار دود پر سر اخیستی دی،ځکه چې سوداګر هیواد ته بې کیفیته تېل واردوي. نورو وزیرانو لا خپل دلایل نه وه ویلې چې ولسمشر مداخله وکړه او ویې ویل :بس بس نور بحث ته ضرورت نسته. ماته د خپل مملکت ثبات تر ټولو مهم دی. تر دې لا د خپلې کابینې ثبات ډېر راته

مهم دی. یوه پروژه چې دومره جنجالونه جوړوي، په تېره بیا زما د وزیرانو د خوابدۍ سبب کېږي، بیخې یې نه عملي کوو، زه خو وایم چې دا پروژه دي د تل لپاره پاتې وي، ښه اوس به د مالیې وزارت پر وړاندیزونو

ketabton.com - The Digital Library



خبري وکړو. د مالیې وزیر وویل :
مور او تاسي ټولو ته معلومه ده چي په افغانستان کي ورځ په ورځ امنیت خرابېږي، دولتي چارواکي، په ټېره بیا وزیرانو ته ګرانه ده چي په بازار کي له عامو بانکونو سره معاملې وکړي، ځکه چي هلته نه مور خوندي یو او نه مو پیسې. همدا اوس که په کابل کي وضعیت ناڅاپه خراب سي نو مور نه سو کولای چي خپلې پیسې خارجي ممالکو ته انتقال کړو، نو مور ددې اړتیا په پام کي نیولو سره غواړو په ارګ کي د ننه یو بانک جوړ کړو چي یو ملیارډ افغانۍ لګښت غواړي. دا بانک به پر نړیوالو معیارونو برابر وي چي یوازي به ولسمشر، د هغه مرستیالان او وزیران حسابونه پکښې ولري. ولسمشر لا څه نه وه ویلي چي ټولو وزیرانو په یوه خوله وویل : یاره دا خو واقعاً ډېره ښه پروژه ده. ولسمشر چي خوله یې له خندا ډکه وه، وویل : رښتیا هم چي ډېره ښه پروژه ده، زه یې همدا نن د منظورۍ فرمان لیکم، بس سبا په کار پیل وکړه. اوس غونډه پر همدې ځای پای ته رسوو، سبا به د نورو وزارتونو پر انکشافي بودیجې خبري کوو. غونډه په رسمي ډول پای ته رسېدلې ده خو زه به په پای کي یوه ټوکه ووایم. وایي چي یو وخت یو ډېر شتمن سړی مړ سوی و چي په اسقاط کي یې غریبانو ته ښه ډېرې

پیسې ورسېدې. په دې وخت کي یو غریب سړی چي زرګون نوټ ور رسېدلی و، وویل :
هر سړی هم پښې اوردې کاندي وای مړ یم

ketabton.com - The Digital Library



جار قربان سم د حاجي صاحب تر مړي
نو زه هم وایم چي:
هر وزیر وایي زما پلان تر نورو ښه دی
جار قربان د مالیې وزیر تر پلان سم.

ketabton.com - The Digital Library



# افغانستان ته د نوبل جایزه ورکول کېږي

دکمیسیون مشر پر خپل سور او غوښن مخ دسمال راټېر کړ، د معدني اوبو بوتل یې پر سر پورته کړ، یو غټ ټېغ یې وکیښ او بیا یې د غونډې برخه والو ته وویل : تاسي ته معلومه ده چي غربت د ډېرو بدمرغیو مور ده، لکه تراهګري، اداري فساد، جرمونه، قاچاق، بې سوادي او داسي نور. اول داچي که په هیواد کي غربت وي خپل موټر او کور به در پوري اور وي، ټولو به سترګي درته نیولي وي، وایي وګوره د نورو مامورینو په وچه ډوډۍ وس نه رسېږي او د دوی پیسې یې کړوسیان لا نه سي خلاصولای. نو له همدې امله زمور زړه سواند جمهور رئیس د ټولو وزارتونو له استازیو څخه دغه زمور کمیسیون جوړ او وظیفه یې راته

سپارلې چي د غربت ختمولو لپاره یو پلان جوړ کړو.
د حج او اوقافو د وزارت د استازي خوله ویړه سوه، پر شوندو یې ژبه تېره کړه او ویې ویل : ښه دا ووایه چي پیسې پکښي سته کنه؟ د کمیسیون مشر په خندا

ketabton.com - The Digital Library



ځواب ورکړ : پیسې به ولي پکښې نه وي، تا نن بې پیسو یو کار لیدلی دی؟ ښه اوس اصلي موضوع ته راځو. هغه معلومات چې مور ته په واک کې راکول سوي دادي چې، د افغانستان شپږ ملیونه خلک ډېر غریب او ژوند یې په خطر کې دی، مور اوس پر دې خبري کوو چې څنګه کولای سو ددغو غریبو خلکو ژوند وژغورو؟

د کار او ټولنیزو چارو وزارت استازي چې تازه له تشنابه راوتلی او لاسونه یې لانده ول وار دمخه کړ او ویې ویل : زما په فکر که د کار زمینه ورته برابره کړو نو د دې غریبو خلکو ژوند به ښه سي. د کمیسیون رئیس یې په ځواب کي وویل : دولت به څومره خلکوته کار ورکړي؟ په امریکا کي د دې دومره امکاناتو سره سره بیاهم بې کاري سته. په هر حال بیا هم دولت خپل وس له چا نه دی سپمولی، په تېره بیا خپله جمهور رئیس صاحب. هر چاچي یو څوک ورته معرفي کړی نو رئیس صاحب بې له دې چې ویې پېژني او یا یې اهلیت په پام کي ونیسي هغه یې خپل مشاور وزیر مقرر کړی دی. ان داچي اوس خپل ټول مشاور وزیران پېژني هم نه. اصلاً رئیس صاحب هدف دادی چې خلکو ته کار پیدا سي کنه نو تا داسي لیدلي وي چې تر کلي یې نایان ډېر وي.

دکورنیو چارو وزارت استازي ځان په څوکۍ کي سره سم کړ او ویې ویل : زما نظر دادی چې تر څو په افغانستان کي سوله نه وي راغلې نو غربت به تر دې نور هم ډېر سي. د اقتصاد وزارت استازي پر خپله

ketabton.com - The Digital Library



راوتلې خټه نیکټایي سمه کړه او ویې ویل : زه داسي فکر کوم چي سوله په خپله د غربت یو ستر عامل دی، که په افغانستان کي سوله وای نو دا دومره مرستي به له کومه کېدای؟ کېدای سوای چي اوس مور خپله هم غریبان وای. په دې خبره د غوندې ټولو برخه والو د تائید په ډول سرونه وښورول.

ورپسې دکانو او صنایعو وزارت استازي چي پزي ته یې دسمال نیولی و وویل : دلته مخکي د کار او روزګار خبره یاده سوه، تاسي ته خو معلومه ده چي افغانستان د کانو له پلوه ډېر بډای هېواد دی، نو که دغه کانونه راو ایستل سي یو خو به زمور ملي اقتصاد پیاوړی سي او بل به ټولو خلکو ته کار پیدا سي. د دفاع وزارت استازی چي خوب زنګاوه وویل : زه فکر نه کوم چي دادي یوه موثره لاره وي، ځکه د روسانو د اشغال پر مهال د افغانستان په یوه ولسوالۍ کي د قیمتي ډبرو څو کانونه راوایستل سول خو له بده مرغه چي خپله د هغې یوې ولسوالۍ خلک هم په ماړه نه سول. د زراعت وزارت استازي په پیپسي یو غټ خرپ وکړ او ویې ویل : د افغانستان ډېر خلک په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، نو که مور د اوبو بندونه ورته جوړ کړو اوبه به ډېري سي، خلک به په زراعت بوخت او په دې ډول به غربت ختم سي. دکورنیو چارو وزارت استازي خپله

خولې پر مېز کښېښوول، پر سر یې لاس تېر کړ او ویې ویل : ستاخبره بیخي سمه ده، تاته خو معلومه ده چي بندونه باید په کلیوکي جوړ سي خو کوم د نر زوی دی چي کلي ته سر ور ایسته کړي، مور د کجکي

ketabton.com - The Digital Library



بند ته ځینې سامان الات د شپږ زره کسیزه هوایي او ځمکنې قواوو په بدرګه یووړل.
د سوداګرۍ وزارت استازي پر شوندو ژبه تېره کړه او ویې ویل : که مور خپلو محصولاتو ته نړیوال بازار پیدا کړو زه فکر کوم چې ډېره ګټه به وکړو او غربت به ورسره ختم سي. د نشه یي توکو پر ضد د مبارزې وزارت استازي چې تاریاک یې تر غاښ لاندې اینبې ول او خوله یې چړپوله وویل : زه فکر نه کوم چې زمور محصولات دي له نړیوالو محصولاتو سره رقابت وکولای سي، البته یوازې زمور تاریاک دغه میدان ګټلای سي چې اوس هم د تاریاکو بازارونه ټول زمور په واک کي دي. له تاریاکو څخه لاس ته راغلي پیسې د افغانستان د ملي اقتصاد دریمه برخه جوړوي چې دا ټول زمور د وزارت لاس ته راوړنه ده، کله چې زمور وزارت نه و نو په افغانستان کي تاریاک بیخي لږ کرل کېدل، خو کله چې زمور وزارت جوړ سو نو د تاریاکو کښت څو برابره ورسره ډېر سو. د کورنیو چارو وزارت استازي سترګه ورته ووهل او سوکه یې وویل : هغه خو زمور او ستاسې خپلمنځي خبره ده، په غریبانو پورې اړه نه لري.
د کمیسیون مشر لکه مارته چې شپېلۍ ووهې غاړه اوږده کړه او ویې ویل : زه لومړی ستاسي ټولوڅخه

یوه پوښتنه کوم. هغه دا چې که په افغانستان کي تراهګر نه وای نو تراهګري به له کومه کېدای؟ ټولو په یوه خوله ځواب ورکړ چې تراهګري به ګردسره نه وای.
د کمیسیون مشر ورپسې زیاته کړه : ښه نو بیا خو ټول

ketabton.com - The Digital Library



پوهېږو چې همدا تراهګر دي چې د تراهګرۍ اور یې بل کړی دی. دغسې که په افغانستان کې غریبان نه وای نو غربت به هم نه وای، زما په فکر ترڅو چې مو په افغانستان کې د غریبانو ریښې له بېخه نه وي ایستلي غربت به هیڅکله ختم نه سي. له دې خبرې سره سم د کمیسیون ټولو غړو چکچکي وکړې.

د دفاع وزارت استازي د خپلې نیکټایي غوټه ټینګه کړه او ویې ویل : دا خو واقعاً ډېر ښه نظر دی خو زما سره یوه پوښتنه سته، هغه داچې ایا نړیواله ټولنه، په تېره بیا امریکا به په دې کار کې زمور ملا وتړي؟

دکمیسیون مشر په خندا لاس پورته واچاوه او ویې ویل : ته هم عجیبه خبري کوې؟ نړیواله ټولنه به ولې زمور ملا نه تړي، دا د غربت له منځه وړلو لپاره هغه د انګرېزانو په اصطلاح (Short cut) یا لنډه لار ده، زه باور لرم چې نړیواله ټولنه په دې کار کې اوس هم زمور ملګرې ده، ځکه چې په افغانستان کې هره ورځ پر غریبانو خلکو بمباري کوي. د بهرنیو چارو وزارت استازي چې د سر وېښته یې ږمنځول وویل : دا پلان به څومره عملي وي او بل د افغانستان پارلمان به په دې کار کې زمور ملاتړ وکړي؟

دکمیسیون مشر مېز په سوک ووایه او ویې ویل : دا پلان په سلو کې سل عملي دی، ځکه مور ولیدل چې

کله مور له شېرپور څخه غریبان وشړل نو هلته غربت هم ورسره ختم سو، که مو له هغوی سره مرستې کولای نو ملینونو ډالرو ته اړتیا ول، خو اوس یوازې یوه بلډوزر دغه اړتیا پوره کړه، مور او تاسې خو ټول هلته

ketabton.com - The Digital Library



خپل کورونه لرو، اوس هلته د غربت هیڅ نښه نسته، بیخي اروپا غوندي ښکاري. پاته سوه د پارلمان خبره، زه باور لرم چې پارلمان به په دې کار ډېر خوښ سي، ځکه چې اول خو په پارلمان کې کوم غریب وکیل نسته او بل داچې هغوی د ملت استازي دي، د هغوی یو هدف هم دغه دی چې په هېواد کې دي غربت ختم سي او که غربت ختم سي، نو د پارلمان د وکیلانو معاشات او نور امتیازات به هم څو برابره ډېر سي.

دکمیسیون مشر چې پوه سو چې خبري یې پر ټولو ښې لګېږي نو خپل اواز یې ډډ کړ او ورپسې زیاته یې کړه : تاسي ګورئ نړیوالي ټولنې په دې دومره ډېرو مرستو په افغانستان کې غربت ختم نه کړ، نو که مور په خپلو لږوامکاناتو دغه بریا لاس ته راړو زه باورلرم چې د سږکال د نوبل جایزه به خامخا مور ته راکړل سي.

ketabton.com - The Digital Library



## زه څنګه ولسمشر سوم؟

سرکاتب زلمي خان شونډه تر غاښ لاندي کړې ول، ورو ورو یې له ځانه سره یوه سندره زمزمه کوله او د حاضرۍ د کتاب خواته ور تېر سو. د حاضرۍ په کتاب کي یې لا لاسلیک نه و کړی چي د تیلیفون ګړنګهاری پورته سو، مدیر غمي خان د ټیلیفون غوږۍ پورته کړه او بیا یې کرار زلمي خان ته وویل چي رئیس صاحب دي غواړي. زلمي خان شعبه دوه ګامه کړه او په منډه د رئیس دفتر ته ورغی. کله چي بیرته راغی نو ښه یې الوتې ول، ویل زه یې له کاره ګوښه کړم. له دې خبري سره سم مور ټول له خپلو ځایونو څخه ولاړ سوو او په یوه خوله مو وویل چي ولي؟ ده ویل نه پوهیږم. په دې کار مور ټول خواشیني سوو او داپوښتنه راته پیدا

سوه چي سرکاتب صاحب خو ډېر فعال سړی و، خدای خبر چي ولي به یې له کاره ګوښه کړی وي؟
سبا سهار زمور دفتر ته رئیس صاحب د مخه او ورپسې یو چپړاسي راغی چي یو بوډا سړی یې را په

ketabton.com - The Digital Library



شا کړی و. رئیس صاحب بوډا ته اشاره وکړه او و یې ویل : دا ستاسي نوی همکار دی چي نصرو لالا نومېږي او د سرکاتب زلمي خان پر ځای به کار کوي. دی که څه هم سواد نه لري خو ډېر ښه سړی دی، خیر دی په کارونو کي تاسي مرسته ورسره وکړئ. بېچاره ضعیفه دی، دلته دریم منزل ته نه سي راپورته کېدای، چپړاسي به یې سهار مهال په شا راپورته کوي او د رخصتۍ پر وخت به یې بیرته کښته کوي.
رئیس صاحب پکول د تندي خواته را وښویاوه او زیاته یې کړه : ښایي ستاسي ټولو سره به دا پوښتنه پیدا سوې وي چې زلمی خان څنګه داسي نابېره او بې دلیله له کاره ګوښه سو؟ تاسي ته معلومه ده چې د بن په کنفرانس کي پرېکړه سوې وه چې د افغانستان دولت باید د ملي مشارکت د اصل پر بنسټ جوړ سي، یاني د افغانستان ټولو قومونو ته برابره ونډه پکښې ورکړل سي، نو ماهم د یوه دولتي مامور په صفت ځان مکلف وګاڼه چي دغه پرېکړه عملي کړم. ماچي وکتل نو زمور په ریاست کي د یوه قوم مامورین ډېر او د بل قوم دا لږ ول، ځکه مو نو ځیني مامورین لیري کړل چي په هغه ډله کي یو هم زلمی خان دی.
نصرو لالا د رئیس صاحب پخوانی باغوان او اوس ډېر سپین ږیری سوی و، ږېنګۍ سوربخنه ږیره یې وله او

یو زور پکول یې پر سر و، پر ملا را کړوپ او داسي ډنګر و لکه د پرتوګانښ لرګی. کله چې به مو د عمر پوښتنه ځني وکړه نو ده به ویل چي نور نه یم خبر خو زما مور دي خدای وبخښي راته ویل په یې چي ته د سقاوۍ په

ketabton.com - The Digital Library



کال پیداسوی یې، اوس نو تاسي حساب ورته وکړئ چي دغو کالو به یم. نصرو لالا به هره ورځ له ځانه سره خپل یو اووه کلن لمسی هم راوست چي ټوله ورځ به یې د شعبې په کمپیوټر کي ګډمونه کول.

یوه اوونۍ وروسته زمور په شعبه کي دا خبره راپورته سوه چي دا څنګه ملي مشارکت دی چي د یوه قوم استازی دي مدیر او نور دي عادي مامور، پیاده او ټایپیست وي؟ زمور مدیر غمي خان که هر څومره د زده کړي، لیاقت، رتبې او اهلیت خبره کوله خو چا نه ورسره منله. تر ډیرو اوږدو بحثونو وروسته مو داسي پریکړه وکړه چي مدیریت به د یوې یوې میاشتي لپاره د شعبې د ټولو کار کوونکو تر منځ نوبتي وي. د پچي پر اساس لومړی زمور د شعبې چپړاسي، خیرو ماما مدیر او غمی خان یې پر ځای چپړاسي وټاکل سو. خیرو ماما یو اتیا کلن سپین ږیری او په غوږو هم لږ دروند و چي د حاضرۍ په کتاب کي به یې ګوته لګوله. له کومي ورځي راهیسي چي خیرو ماما مدیر سوی و نو په شعبه کي دومره کار نه و، بس ټوله ورځ به مو کیسې سره کولې چي اکثره به یې د خیرو ماما د عسکرۍ د و ختونو کیسې وې. که څه هم مور دغه کیسې له ده څخه څوځو ځله اوږدلي وې خو داچي خیرو ماما اوس زمور مدیر و، نو ناچاره و چي بیا یې

هم واورو. د شعبې پر دروازه مو ولیکل چي غونډه روانه ده، لطفاً مزاحمت مه کوئ.

مور په شعبه کي ځان ته جلا دبګ پخاوه، یوه ورځ د ډوډۍ پر مهال خیرو ماما غاب ته وکتل، ویل اوهو دا

ketabton.com - The Digital Library



مو څومره ډېره مالګه ور اچولې ده؟ دا خو زما فشار لوړوي. پخواني مدیر غمي خان چي اشپزي اوس ده کوله وویل : زه حیران یم چي د چا غوښتنه ومنم؟ که دېګ ته لږ مالګه ور اچوم نو نور همکاران وایي چي مالګه یې ولي لږ ده او که ډېره مالګه ور اچوم نو تاسي وایاست چي مالګه یې ولي ډېره ده؟ خیرو ماما تندی تریو کړ او ویې ویل: اوس هغه پخواني وختونه تېر سوي دي، باید زمور ټولو غوښتني ومنل سي. بیا مو سره وویل چي جلا جلا دېګ خو نه سو پخولای او نه په یوه دېګ کي د ټولو ذوقونه ځایېدلای سي نو ښه به داوي چي تر دې وروسته به اشپزي هم په نوبت وي.

ما تر اوسه پوري دېګ نه و پوخ کړی، یوه ورځ مي دېګ له صابون څخه سم نه و پرېولی او کتغ مي پکښې پوخ کړی و. کله چي مو ډوډۍ وخوړه نو دسترخوان لا نه و ټول سوی چي نصرو لالا پر نس لاس تېر کړ او سوکه د تشناب خواته روان سو. دی لا نه و راوتلی چي غمي خان هم خپله ګېډه په لاس کښېکښل او ځان یې د تشناب دروازې ته ورساوه. کله چي نصرو لالا را و نه ووت نو غمي خان تندی تریو کړ او په درد یې وویل : نصرو لالا ژر را ووزه، زه هم په تکلیف یم، هله ژر کوه! زه چي وایم کولمې مي غوټې

غوټې پرې سوې. نصرو لالا لکه د غمي خان خبره چي یې ګردسره نه وي اورېدلې نور هم وځنډېد، غمي خان غاښونه سره وچیچل، د تشناب دروازه یې په زوره ور وډبول او ویې ویل : ژر را ووزه دا ستا دپلار تشناب

ketabton.com - The Digital Library



دی چې یو ساعت پکښې تېروې؟ په دې تشناب کې خو مور ټول حق لرو، داخو هغه پخواني وختونه نه دي. کله چې نصرو لالا له تشناب څخه راووت نو غمي خان په قهر پر ورمنډه کړه، نصرو لالا ځان یوې خواته کړ، غمی خان لکه غشی تشناب ته ننووت او دروازه یې په ځان پسې وټرله. تر دې وروسته مو یو مهالوېش جوړ کړ چې په هغه کې د هر قوم د مامورینو لپاره د تشناب وخت په دقیقو ښودل سوی و.

دوبی تېر سو او هوا سړه سوه. زمور شعبې د لمر خواته یوه کړکۍ درلوده چې پخوابه غمی خان نژدې ورته کښېناست. دی له دې املې ګټمن و چې یو خو به ښه تود و او بل به یې د کړکۍ له لارې نسوار دباندې توف کول. یوه ورځ نصرو لالا د غمي خان پر ځای ناست و چې غمی خان راغی. کله چې یې نصرو لالا ولید چې د ده پرځای ناست دی نو په خندا یې ورته وویل: نصرو لالا اوس به نو تود سوی یې بس ده زما له ځایه ولاړ سه. پر نصرو لالا دا خبره بده ولګېده، تندی یې تریو کړ او په درد یې وویل : ولي ولاړ سم؟ دا ځای خو یوازي ستا په پچه نه دی ختلی، مور ټول حق پکښې لرو، زما هم ساړه کېږي. تر دې وروسته پرېکړه وسوه چې کړکۍ ته به هم په نوبت سره کښېنو. د دې نوبت لپاره مو هم یو مهالوېش جوړ او

پر کړکۍ مو ونښلاوه. یوه ورځ نصرو لالا وویل: نن مراجعین اکثره دیوه قوم او یوې سیمې ول، دې خبرې ته هم پام په کار دی. بیا مو د هر قوم د مراجعینو لپاره یو مهالوېش جوړ او د شعبې پر دروازه وځړاوه.

ketabton.com - The Digital Library



په کومه ورځ چې به دیوه قوم د مراجعینو نوبت و، نو کار به یې هماغه یوه مامور کاوه او په شعبه کې به د هماغه قوم په ژبه خبرې کېدې چې د شعبې نور مامورین به چندان نه په پوهېدل. دا چې په هماغه ورځ به نور مامورین بې کاره ول نو په خپلوځوکیو کې به ارام ویده ول.

یوه ورځ چې مور ټول ویده وو، د خیرو ماما دې خبرې راوینښ کړو: ایا دا انصاف دی چې یو مامور کار کوي او نور بېغمه ویده دي؟ بیا به مو داسې کول چې تر غرمې به مو کار کاوه او تر هغه وروسته به مو خوبونه کول. زمور ټایپستي عایشه جاني چې به یو ساعت کار وکړ نو لاسونه به یې د کمپیوټر پر کیبورډ پراته او دا به خوب وړې وله. یوه ورځ په خوب کې له څوکۍ څخه پرمخې راولوېده او پزه یې وینې سوه. کله چې یې د پزې وینو ته پام سو نو په چیغو یې وویل: د خدای لپاره دا انصاف دی چې یو مامور په زړه او بل په نوې څوکۍ کې ناست دی. سبا زمور د ریاست اداري مدیر مور ټولو ته یوه یوه نوې څرخي څوکۍ راوړل. اوس نو زمور خولۍ په غوږو کې وې، په څرخي څوکیو کې به مو ښه درانه خوبونه کول چې خرهاري به مو ټوله شعبه پر سر اخیستې وله، په ټبره بیا عایشه جاني خو داسې خرهاری کاوه لکه غویی چې دي تازه حلال کړی

وي. اوس مور د ملي مشارکت شعار په بریالیتوب سره عملي کړی و. که څه هم د خوب پر مهال زمور خرهاري توپیر سره درلود خو په خوب کې مو داسې احساس کاوه لکه مور چې ټول یو وجود یو، ځکه چې

ketabton.com - The Digital Library



زمور خوبونه او د هغه تعبیرونه یو ډول ول. یوه ورځ مي خوب لیده چي د ملي مشارکت اصل د افغانستان په ټولو ادارو کي عملي سوی دی. زده کړي، تجربې، تقوا او نورو کاري ځانګړتیاوو ته هیڅ اړتیا نسته، زه د خپل قومي نوبت له مخي مدیریت، ریاست، معینیت، وزارت او باالخره ولسمشرۍ ته رسېدلی یم. دغه ډول خوب مي څو څو ځله ولید، یو عجیبه حالت و، کله چي به مو خپل خوب یو بل ته سره ووایه نو ټولو به یو ډول خوبونه لیدلي ول. زه په ویښه یو عادي مامور وم چي د یوې میاشتي معاش به مي تر بلي میاشتي پوري نه رسېده، خو چي سترګي به مي پټي کړې نو ولسمشر به وم.

ketabton.com - The Digital Library



# د ارګ مېلمستیا ولي وځنډېده؟

په ارګ کي دا مېلمستیا د یو شمېر قومي مشرانو په ویاړ جوړه سوې وه چې د کابینې غړیو، معینانو او والیانو هم برخه پکښې درلوده. ولسمشر په خورا خوښۍ د ډوډۍ خوړلو تالار ته راغی، خو کله چې د ډوډۍ خوړلو مېز ته کښېناست نو نابېره یې تندی تریو او له درده سور واوښت. له دې سره سم ټول وارخطاسول چې یا خدایه څه پېښه سوه؟
ولسمشر مخ ته پروت د قورمې غاب ورپورته کړ، بوی یې کړ او بیا یې په درب بیرته پر مېز کښېښود. له دې درب سره لکه ځانمرګی برید چې سوی وي، د کابینې ټول غړي، معینان او والیان له خپلو ځایونو څخه ولاړ سول. یو وزیر چې تر دې مهاله یې له لورې پرله پسې

اړمۍ کښلې، ناڅاپه یې خوله داسي کلکه بنده سوه لکه د یو چا ژامې چې د یخ له امله سره تېري سي. ولسمشر وویل : اشپز چېرې دی، ژر یې راوغواړئ؟ اشپز چې تر دې مهاله د ډوډۍ خوړلو د مېز تر څنګ ولاړ و، منډه کړه او ځان یې د یوه چاغ وزیر شا ته پټ

ketabton.com - The Digital Library



کړ. دا چې ټولو کښته کتل نو د چا پام نه سو چې اشپز د وزیر شا ته پټ دی.
د ډوډۍ خوړلو په تالار کې چوپه چوپتیا خپره سوه، هیڅوک نه پوهېده چې څه پېښه سوه؟ د ولسمشر رنګ نور هم له درده سور سو او ورپسې زیاته یې کړه : له دې مملکت سره هیڅوک هم خواخوږي نه لري. دا چې مور په خپل ارګ کې دومره بې پروا یو په ولایتونو کې به څه حال وي؟ دا حقیقت تاسې ټولو ته معلوم دی چې زمور دولت د خیرات په پیسو چلېږي. زمور یو دوست هیواد چې له تراهګرۍ سره په مبارزه کې زمور کلک ملاتړی دی او زمور سره یې بې قید وشرطه ملیونونه ډالره مرستې کړي، ولي یې داسې په اسانه له لاسه ورکړو؟ که دا کار کوو، نو ایا دا به له دې وطن سره جفا نه وي؟
ټولو په یوه خوله وویل : هو صاحب دا خو رښتیا هم چې له وطن سره لویه جفا ده. ولسمشر ترخه خندا وکړه او بیا یې وویل : نو چې داسې ده بیا تاسې سترګې نه لرئ؟
له دې خبرې سره سم په ټولو سرونه وځړېدل. ولسمشر بیا د قورمې غاب ورپورته کړ او ویې ویل : تاسې ته معلومه ده چې سبا زمور د دوست هیواد هندوستان

ولسمشر کابل ته راځي. که تاسې سترګې درلودای او یا مو ډیپلوماټیکه تربیه درلودای، نو نن به مو د غوایي غوښې نه پخولای. کېدای سې د غوایي د غوښو بوی تر سبا پورې هم له لوښو څخه لیرې نه سي. که پر دې نازولي مېلمه د غوایي د غوښو بوی ولګېده نو زمور

ketabton.com - The Digital Library



خو به پزه پرې سي.
تـر دې وروسـته بایـد پـه ارګ کـي د غـوایي غوښـي ګردسره پخې نه سي. بل دا چي ټول لوښي دي له ارګ څخـه لـري یـووړل سـي او پرځـای دي یـې نـوي لوښـي رانیول سي، ځکه چي دا لوښي د غـوایي د غوښـو بـوی وهلـي دي. تـر دې وروسـته د خـوراک پـه برخـه کـي د افغانسـتان دولـت د سـبزي خوړلـو د سیاسـت ملـاتړ کوي. په هر صورت تاسي خپله ډوډۍ وخورئ زه یې نه خورم د خدای په امان. له دې سره سم په تالار کـي ناسـت ټـول مېلمانـه یـو پـه بـل پسـي ولاړ سـول او د ډوډۍ خوړلو تالار خالي پاته سو.

ketabton.com - The Digital Library



# کاشکي د وزیر صاحب وطندار وای

له مشرانو مي اوربدلي ول چي یو معلم او بل هم خورد ضابط پر یوه حال وي، خو عجیبه ده زه په دې دواړو کي یو هم نه یم بیا هم هیڅ مخ ته نه سم تلای. یوه شپه مي خپل اروابناد پلار په خوب ولید، ویل ګل جانه زویه څنګه یې؟ ما ویل پلاره بس پوښتنه مه کوه، یوه مي نه دوې کېږي. زمور ددفتر نور کار کوونکي ورځ په ورځ مخ ته ځي، خو زه هغه د چا خبره پیاز په ګنډه په ډوډۍ پسي ګرځم، پلار مي وپوښتل : نو ولي مشکل څه دی؟

- مشکل دادی چي زه یوه داسي نیمګړتیا لرم چي زمور په دفتر کي یې هیڅوک نه لري، که دا نیمګړتیا مي نه درلودای نو اوس به زما هم خولې په غوړو کي

وای.

- څه نیمګړتیا لرې؟ که پوهنتون دي مطلب وي نو هغه خو دي ویلی دی.

- نه بابا پوهنتون خو خپله زمور رئیس، نصرو لالا هم نه دی ویلی.

ketabton.com - The Digital Library



- انګرېزي او کمپیوټر یادوې؟
- نه یو بل شی مي کم دی
- څه شی دي کم دی؟ پوهنتون دي ویلی دی، په انګرېزی او کمپیوټر پوهیږې، نښه ذهن لرې، نور څه غواړې؟
- کاشکي دایو کمال مي هم نه درلودای، خو یوازي د نصرو لالا وطندار وای بس.
که سواد مي نه درلودای هم به مي نښه کار جوړ وای. نصرو لالا که څه هم بې سواده دی خو دا چي د وزیر صاحب وطندار دی، هیڅوک د سواد پوښتنه نه ځني کوي.
سواد خو لا څه کوې، که عقل مي هم نه درلودای نو تر اوسني حال به مي ژوند نښه وای. د نصرو لالا ورور جمال یو مخ له عقله خلاص، په اصطلاح بیړا دی خو هغه دی نر غوندي زمور اداري مدیر دی، د چا پلار یې مخ ته نه سي درېدای. یاره زه خو وایم که خدای په غورو کوڼ پیدا کړی وای هم مي هیڅ پروا نه کېده. د نصرو لالا وراره، کوڼ سردار که څه هم په دواړو غورو نه اوري خو د خریداری مسئول دی.
ځیني انډیوالان مي راته وایي چي ته د بلبلانو په شان خوږه ژبه لرې خو څه فایده؟ کاشکي ګردسره ګونګی

وای خو د وزیر صاحب وطندار وای. ګونګی نعیم چي د نصرو لالا باجه دی خدای بخت ورکړی دی، زمور لوژستیک مدیر دی.
خلک وایي چي ځواني لوی نعمت دی، خو ځواني له بخت سره خوند کوي، کنه تر دې ځوانۍ خو سپین

ketabton.com - The Digital Library



ږیرتوب ښه دی. د نصرو لالا خوښې (ګل ببو) چې ووینې نو داسې کبړ سوې، لکه د چمن او کوټې د لاري بس چې ډېر زوړ سي او په اصطلاح له اخ و ټوخه ولوېږي نو خاوندیې څوکۍ ځني وکاږي او بیا غوایي پکښې وږي، خو ګل ببو د نامي لور بیا هم د خپل لوړ بخت له برکته له کاره نه ده لوېدلې او زمور د استخدام مدیره ده. څوک څه خبر دي چې دا به د اویاوو کالو وي. مخ یې کندي کندي دی، خو دا لکه بولډوزر هره ورځ دغو کندو ته خورا ډېر پوډر ور اچوي. ظاهري ښه یې د خپل کمال له برکته برابره ده او دفتري کار یې ټوله زه کوم.

مسلک او تجربه دي مې هم په اور پسې سې، لوېشتکی اسلم تر پرونه پورې پنچرمین و، خو داچې د رئیس صاحب د خاله زوی دی اوس چېرمین، یاني زمور عمومي مدیر دی.

کله نا کله مې په زړه کې راوګرځي چې کاشکې خو مې مور د وزیر صاحب وطنداره وای. د نصرو لالا مرستیال اکبر ته ګوره چې یو موټر اخلي او بل خرڅوي. یوه میاشت مخکې څارنوالۍ د یو ملیون افغانیو پر غلا ونیو، خو دا چې د وزیر صاحب خوریی دی، درې ورځې وروسته بیرته راخوشي او اوس د پخوا

په شان پر خپل ځای کار کوي.

زمور د دفتر ټول مامورین سره خپلوان دي، لکه په تولسي ډرامه کې د (ګوینډر ویرانې) غوندي یوه کورنۍ ده، نور یې څه کوې زمور ریاست تیار (شانتي نیکیتن) دی. په دوی کې یوازې زه بلا وهلی هم د بل

ketabton.com - The Digital Library



ولایت یم او هم له ویراني کورنۍ سره خپلوي نه لرم. اوس دي هم پر ما افرین سي چي د بل ولایت سړی یم او ځان مي ساتلی دی. یو متل دی چي وایي : شاباش دي پر انا سي چي له نهو منو اوړو څخه یې یوه پتیره پخه کړه. په دې باب مي ډېر چورت وهلی دی چي څنګه وکولای سم د ویراني کورنۍ غړی سم؟ خو څه وکړم ماته چل نه راځي.

ketabton.com - The Digital Library



## ګوانتنامو پارک!؟

### د کندهار هوایي ډګر :

د تحقیق په شعبه کي یو خارجي سړی او یو افغان ترجمان ناست ول. د خارجي مخ تک سور او داسي چاغ و لکه پر مخ چي څو غالبوزو( غومبسو) چیچلی وي خو ترجمان بېچاره بیا داسي ډنګر او نری و لکه د بایسکل پمپ. خارجي قلم او کاغذ راپورته کړ، ویل نوم دي څه شی دی؟ ما ویل نوم مي جانان دی. خارجي زما د نوم په اورېدو له ځایه ولاړ سو، په زوره زوره یې وخندل، په چاغ مخ کي یې تنګي سترګي نوري هم تنګي سوې، دومره تنګي چي نژدې و پټي سوي وای. بس نور به نو څه درته ووایم داسي خوشاله سو لکه

ketabton.com - The Digital Library



سپي ته چي غوږ هډوکی ورواچوې، خونابره يې تندی تریو سو، لکه ښځي ته چي د لنګون درد ورولاړسي، مخ يې په سره رنګ کي شنه لمبه وکړه، غاښونه يې سره وچیچل او په ډډ اواز يې وویل: ښه نو ته ملاجانان يې؟

- نه ملا نه يم، زه د اروزګان ولایت د چارچینو ولسوالۍ یو بزګر یم

- درواغ مه وایه! ته د طالبانو د حکومت په دوهم کال کي د هرات والي نه وې؟

- نه صاحب، زه د طالبانو د حکومت تر پایه پوري په پاکستان کي وم او بل هغه وخت زه د څوارلسو کالو وم، تا د څوارلسو کالو هلک لیدلی وي چي والي وي؟

- که ته هرڅونه کوښښ وکړې چي ځان پټ کړې مورږ دي بیا هم پېژنو

- قسم په خدای که درواغ درته وایم، که مو زړه ته نه لوېږي راځئ زمورږ د مسجد له ملا او د کلي له ټولو خلکو څخه پوښتنه وکړئ

- ملا او کلیوال پرېږده، مورږ ډېر اسناد لرو چي ته ملا جانان يې، هغه ملا جانان چي زمورږ پر ضد يې په ډېرو عملیاتو کي برخه اخیستې ده.

- دا تاسي څه وایاست ؟ زما په ټول ژوند کي مي په ټوپک والله که یو ټک هم کړی وي، خپله خواري او غریبي کوو، چا ویل چي ما ستاسي سره جنګونه کړي دي؟

- دا به وروسته درته ووایم چي مورږ ته چا ویلي دي. اوس یوه بله پوښتنه درڅخه کوم. وړمه شپه ستاسي د

ketabton.com - The Digital Library



کور مخ ته زمور بې پیلوټه الوتکو د طالبانو یو موټر وویشت، ته دا ووایه چې په دې موټر کې څو طالبان مړه سول او د چا نفر ول؟
- صاحب هغه د طالبانو موټر نه و، بلکې زمور غوا وه
- ورک سه، ته وا مور غوا او موټر نه سره پېژنو؟ زمور څخه د شپې په تیاره کې یو انچ شی نه خطا کېږي، ژیړ رنګه دوه سیټه بای فور موټر نه و؟
- درواغ نه درته وایم، قسم په خدای چې غوا وه.
خارجي تندی تریو کړ او ترجمان ته یې اشاره وکړه چې دی اوس بوزه.

## د باګرام هوایي ډګر :

کله چې مي له سر څخه توره کڅوړه لیرې کړل سوه نو ګورم چې په یوه کوټه کې یم او یو خارجي سړی مي مخ ته ناست دی، خارجي د ستړې مشي په ډول لاس رااوږد کړ، ویل زما نوم جان دی. په پوښتنو یې لا شروع نه وه کړې چې خوله یې د خندا په ډول ویړه سوه، ما چې ده ته وکتل نو ما هم ورسره وخندل. زما خندا به نو څه وه چې ځان مي په لوی جنجال کې واچاوه. جان راولاړ سو او پر مخ یې یو څو چپلاخي ووهلم، ویل بې ادبه ته پر ما خاندې؟ ما ویل پر تا مي نه دي خندلي، ما چې ویل ته خاندې، ما هم درسره وخندل. ترجمان په تریو تندي راته وویل چې مه خانده، د جان خوله دغسې ده سړی چې وایي راته خاندي. جان قلم او کاغذ مخ ته کښېښوول او ویې ویل: ښه ملا جانانه! ته اول مور ته دا ووایه چې ملاعمر چېرې دی؟

ketabton.com - The Digital Library



- د خدای لپاره زه په ملاعمر څه خبر یم او بل چا ویل چې زه ملا جانان یم؟
- تا خپله وویل چې نوم دي جانان دی او ملا جانان ځکه یې چې زمور سپي درته غپلي دي
- نو سپی خو هسي هم غاپي؟
- زمور سپی ډېر هوښیار دی، هیڅکله بې ځایه چاته نه غاپي، تراهګر ډېر ښه پېژني. تا ولیدل چې په شلو نفرو کي یې یوازي تاته وغپل.
- صاحب زما تر نیولو یو ساعت مخکي زمور کور بمبارد سو چې زما پلار او مور پکښې شهیدان سول، ښایي زما له کالیو به د باروتو بوی ولاړېده، ځکه یې راته غپلي دي.
- یه داسي نه ده، زمور سپی هیڅکله زمور خپلو باروتو ته نه غاپي. ښه اوس دا راته ووایه چې ورمه ورځ چې ته د چارچینو پر سړک ولاړ وې او په بوجۍ کي دي ماینونه اچولي ول، هغه دي چېري ښخ کړل؟
- صاحب قسم په خدای چې هغه زمور د پالېز ژیړ کډوان ول چې بازار ته مي د خرڅولو لپاره وړل.
جان تر دې پوښتني وروسته پر مخ یوه کلکه څپېړه راکړه او ترجمان ته یې اشاره وکړه چې دی راڅخه وباسه .

## د ګوانتنامو زندان :

لس ورځي پرله پسې یې د اوسپني په یوه تابوت کي اچولی وم، په تابوت کي داسي توره تیاره وه چې دلاس ګوتي نه ښکارېدې، تابوت هیڅ سوری نه درلود،

ketabton.com - The Digital Library



یوازي یې یوه توربخنه ښیښه درلوده، کله چې به مو شکایت کاوه نو پر دغه توره ښیښه به مو لاس تېر کړ او عسکر به راغی. لسمه ورځ زما د تابوت سر خلاص سو او یوه ترجمان راته وویل چې راځه! ترجمان او یوه عسکر تر اورو ونیولم او یوې کوټې ته یې بوتلم. په کوټه کې یوه پنډه ښځه ناسته وه چې قلم او کاغذ یې مخ ته پراته ول. که څه هم دې خندل مګر زه نه پوهیږم چې راته خندل یې او که راباندي خندل یې، خو ما زړه نه سوای کولای چې وخاندم. هغې وویل : اسامه او ملاعمر چېرې دي؟

- نه یم خبر

- د پنټاګون او واشنګټن په پېښه کې د چا لاس و؟

- قسم په خدای که زما لاس پکښې و؟

- په یمن کې چې پر کښتۍ برید وسو او څوارلس امریکایان پکښې ووژل سول، هغه مهال ته چېرې وې؟

- نه یم خبر، ماپه خدای که په ټول ژوند کې کښتۍ لیدلې هم وي

- ته پوهیږې چې مور ولي بندي کړی یې؟

- نو دا خو تاسي راته ووایاست چې ولي مو بندي کړی یم؟ تاسي خو وایاست چې ته ملاجانان یې او زه ملاجانان نه یم

- نو که ته ملاجانان نه یې، ملاجانان چېرې دی؟

- زه څه خبر یم چې ملا جانان چېرې دی

- ګوره دا کار ستا په خیر دی، یا خو ووایه چې ته خپله ملاجانان یې او که ملا جانان نه یې نو د ملاجانان په باره کې مور ته معلومات راکړه، که دا معلومات دي

ketabton.com - The Digital Library



راکړل نو بس په هغه ورځ دي خوشي کوو.
کله چي ما له دې دواړو خبرو څخه نټه (انکار) وکړ نو خارجي ښځي پر سترګو یوه کلکه څپېړه ووهلم او عسکر ته یې اشاره وکړه چي راځخه ویې باسه. عسکر په سر توره کښوړه راواغوستله او په یوه تنګ قفس کي یې واچولم. خوب، خوراک او هر څه مي په همدې قفس کي ول. څنګ ته مي دغسي نور قفسونه هم ول. ددې قفسونو ښه والی دا و چي یو بل ته نژدې ول، یوه بندي د څنګ ملګری هم لیدای سوای او هم یې خبري ورسره کولای سوای. کله چي به سهار راویښ سولو نو چا به ماشومان، چابه خپلوان او چا به خپل کور کلی په خوب لیدلي ول. له زندانه څخه خوشي کېدل خو به مو هره شپه په خوب لیدل.
یوه شپه مي خوب لیده چي په یوه لوی او ښایسته پارک کي یم، داسي یو پارک وي چي هرډول اسانتیاوي لري، نور یې څه کوې چي د هیڅ شي کمی پکښې نه وي. سهار مي دغه خوب خپل یوه ګاونډي بندي ته ووایه، هغه راته وویل چي انشاء الله خدای به دي ازاد کړي.
په همدې شکنجو او ظلمونو کي دوه کاله راباندي تېر سول. یوه ورځ یې زما یو همسایه و ایست او پر ځای یې بل بندي هغه قفس ته راوست. همسایه ته مي وویل چي ته د کوم ځای یې؟ هغه راته وویل چي زما نوم ملا جانان دی او د کندهار ولایت دپنجوایي ولسوالۍ اوسېدونکی یم.
په خبرو خبرو کي پوه سوم چي دا هغه ملاجانان و

ketabton.com - The Digital Library



چي زه یې دده په نوم راوستلی وم. ملا جانان ته مي وویل چي د خدای پر پار، زما سره مرسته وکړه، ته خو هسي هم په بلا اخته سوی یې، زه یې ناحقه ستا په نوم راوستلی یم. ملاجانان وویل چي ما خو خپل نوم نه دی اړولی او نه مي خپل کارونه ځني پټ کړي دي. له ملاجانان سره مي جوړه کړه چي دا وار به دواړه ورته وایو چي اصلي ملاجانان مخکي لا ګوانتنامو ته راوستل سوی دی.

یوه ورځ یې تحقیق ته وغوښتلم چي دا وار د تحقیق په شعبه کي نوی خارجي ناست و. مخ ته پراته کاغذ ته یې وکتل او بیا یې وویل: مور په تېر تحقیق کي درځخه غوښتي ول چي یا ووایه چي ته ملاجانان یې او یا د ملاجانان په اړه معلومات راکړه. اوس دي څنګه خوښه ده؟ ما ویل زه خو نښکاره خبره ده چي ملاجانان نه یم خو ملاجانان په لاس درکولای سم. په دې خبره خارجي دومره خوشاله سو چي تر خوله یې لکه غویی لویي لویي رمباړي ووتلې. ماته یې وویل چي هله ژر راته ووایه چي ملاجانان چېرې دی؟

- په همدې زندان کي دی

- ټوکي مه کوه، سمه خبره وکړه

- ټوکي نه کوم، راځئ چي درته ویې نښیم، هغه په خپله خوله اقرار کوي چي زه ملاجانان یم

- تا پر مور د بې عقلانو ګمان کړی دی او په خپلو چټیاتو زمور وخت ضایع کوې.

- چټیات نه دي،راځئ په خپله یې وګورئ، زما څنګ ته په فلاني قفس کي دی.

ketabton.com - The Digital Library



خارجي ته درد ورغی او عسکر ته یې اشاره وکړه چې دی بوزه. عسکر هم تر لاس ونیولم او د اوسپني په تابوت کې یې واچولم. سبا یې له تابوت څخه راوایستلم او د تحقیق شعبې ته یې بوتلم. د تحقیق مامور راته وویل چې مبارک دي سه، خوشي کېږې،بیا یې یو کاغذ راوراندي کړ او ویې ویل : دلته ګوته ولګوه!

- زه خو یې نه سم ویلای، دلته څه شي لیکل سوي دي؟

- دلته لیکل سوي چې زه د طالبانو او القاعده شبکې مهم غړی وم او اوس وعده کوم چې بیا به په تروریستي عملیاتو کې برخه نه اخلم. زه د امریکا له متحده ایالاتو څخه مننه کوم چې په ګوانتنامو پارک کي یې زما ډېره ښه مېلمه پالنه کړې، په خپلو پیسو یې دې پارک ته راوستلی او اوس مې هم بیرته په خپلو پیسو کور ته استوي.

- د خدای لپاره زه کله طالب او القاعده وم؟

- ته خو ځکه طالب او القاعده یې چې کله زمور سپې پر تا بوی وکیښ نو تا چیغه ورته ویلي دي او رټلی دي دی، بل دا چې په بوجې کې دي ماینونه اخیستي ول او غوښتل دي چې زمور ټانکونو ته یې ښخ کړې.

- دا درواغ دي، هغه خو کډوان ول

- کډوان ول او که رومیان، خو زمور سره د ماینونو په نوم ثبت دي.

ما ورته وویل چې تاسي ټول درواغ وایاست، زماسره مو څومره ظلمونه وکړل، ما ته مو بیخي د سړي په

ketabton.com - The Digital Library



سترګه نه دي کتلي او اوس وایاست چې ته په پارک کي اوسېدلې؟ خارجي په خندا یو کوچنی ټایپ ریکارډ راپورته کړ او ویې ویل: دا دی تا خپله ویلي دي چې زه په پارک کي اوسېږم او ډېر خوشاله یم. بیا یې زما هغه خوب چې انډیوالانو ته مي ویلی او دوی په غلا ثبت کړی و راته واوراوه. وروسته یې راته وویل چې ستا خوښه ده که ګوته نه لګوې نو د تل لپاره به دلته بندي یې او که ګوته لګوې نو خوشي کوو دي، خو په دې شرط چې چاته به نه وایې چې زه په زندان کي وم، بلکي ورته وایې به چې زه د امریکایانو په مالي لګښت د سیل او چکر لپاره د کیوبا هیواد ته تللی وم. زه هم ناچاره سوم، ګوته مي ولګوله او له زندانه راخوشي سوم.

اوس مي کله کله په زړه کي راوګرځي چې یاره جانانه که پولیس وای نو د دنیا په هیڅ کونج کي به څوک درڅخه ورک سوی نه وای، وګوره ناټو، ایساف، امریکایان او ددوی انډیوالان څومره باټي ولي چې مور داسي تخنیک لرو او هیڅوک نه سي راڅخه پټېدای، بیا یې هم ملاجانان پیدا نه کړ خو ما په یوازي سر او تش لاس ملاجانان پیدا کړ.

ketabton.com - The Digital Library



## دلته د ولسمشر فرمان نه چلېږي

ولسمشر په مجلس کي په نوبت د هرچا ستونزوته غوږ نيوه، کله چي زما نوبت راغی نو په لوړ اواز او فاتحانه انداز يې راته وويل : معلم صاحب اوس خو به دي زړه پر ارامه سوی وي؟ څنګه سو پر هغه نومره ځمکه دي کور جوړ کړ کنه؟

- نه صاحب که رښتيا درته ووايم نو هغسي سرګردانه او لالهانده ګرځم

- ولي ولي خدای دي يې خير کړي؟ ماخو فرمان درکړی و

- صاحب زه به نو څه درته ووايم، ښاروال دومره زورور سړی دی چي زه يې له وېري شکايت هم نه سم کولای

ketabton.com - The Digital Library



- په دې کي د وېري څه خبره ده، ووایه!
- خبره داسي وه چي ستا فرمان مي یو کال شعبه په شعبه وګرځاوه، خو هیڅ ګټه یې و نه کړه، اخیر ښاروال سپینه خبره راته وکړه، ویل قسم په خدای چي پنځه زره ډالره را نه کړې که په ځمکه کي ستا کولنګ ووهل سي. ما ویل د خدای پر پار دا دی د ولسمشر فرمان راسره دی، ده ویل زه دي نه ولسمشر منم او نه یې فرمان، ورځه لاس دي خلاص!

ددې خبري په اوږدو سره ولسمشر تک سور سو، یو سور اسوېلی یې وکیښ، یو ګیلاس اوبه یې پر سر پورته کړې او بیا یې وویل :

معلم صاحب ته بېغمه اوسه! دادی دا ټول خلک شاهدان دي، تر څو چي مي دا اوس اوس ستا کار نه وي در خلاص کړی، والله که یا خوب وکړم او یا خوراک، تا ماته مخکي ولي نه ویل؟ اوف اوف څومره به سرګردانه سوی یې! ته دا بدبختي وګوره، یو معلم بېچاره چي د اولاد په وچه ډوډۍ یې وس نه رسېږي پنځه زره ډالره به له کومه کړي؟ د مجلس خلکو ته یې وویل چي تاسي دلته اوسئ ،زه ډېر ژر بیرته راځم.

ولسمشر زه تر لاس ونیولم او خپل دفتر ته یې بوتلم. هلته یې خپل سکرټر ته وویل چي هله ژر کوه فلانی راخبر کړه! یاره که رښتیا ووایم نو له ډېري وارخطایی څخه مي د بدن وېښتان جګ جګ ودرېدل، ما ویل ښاروال به خامخا اعدام کړي، ځکه چي د ولسمشر او قانون سپکاوی یې کړی دی، بیا به مي ویل چي څه ښه دی چي دا رشوت خوړه خو اعدام کړي، خلک به

ketabton.com - The Digital Library



یې له شره خلاص سي، ده هم د چا دا نه منل، وایي : بازي بازي به ریش بابا بازي؟ بیا مي ویل چي دې ښاروال خونښه ډېري پیسې ټولي کړي دي او ډېر زورور سړی هم دی، داسي نه وي چي په رشوت ځان خلاص کړي، سبا به تاته یوجنجال جوړ کړي. بیا به مي ځان ته په خپله ډاډ ورکاوه، ما ویل کله چي یو ولسمشر یوه موضوع دومره جدي وګڼي او دوسیه یې هم په خپله فیصله کړي نود ښاروال به څه حال وي؟ خدای خبر چي دومره موقع به پیدا کړي چي ځان خلاص کړي .
په زړه کي مي کرل او ړېبل چي د سکرټر اواز مي تر غوږ سو او هغه سړی یې راوست چي ولسمشر ورته ویلي ول. د ولسمشر تندی وغوړېده، راولاړ سو زه یې په غېږ کي ونیولم او راته ویې ویل: یو متل دی چي وایي : غوټه چي په لاس خلاصېږي غاښ ته حاجت نسته، له ښاروال صاحب سره نور جنجال مه کوه، ستا خو هسي هم ځمکه مطلب ده، نه دده محاکمه کول، زه به پنځه زره ډالره درکړم او ور یې کړه .
کله چي مي پیسې په جېب کي واچولې نو ولسمشر لاس پر اوږه راکښېښود او په خندا یې راته وویل : ګوره بیا ونه وایې چي په دولتي ادارو کي د خلکو کارونه ځنډېږي، دادی ستا کار په نیم ساعت کي خلاص سو.

ketabton.com - The Digital Library



# افغانستان اپریل فول سو

واشنګټن : السلام علیکم
کابل : وعلیکم السلام، یاره لکه چې عمر مو ډېر دی، دا اوس مو یاد کړئ، هغه و چې تاسي ټلیفون راوکړ. ښه څنګه یاست؟ دلته خو خیر و خیر یت دی، الحمدلله نن مـو ستاسـي د عسـکرو پـه اړه کـوم بـد خبـر نـه دی اورېدلی .
واشنګټن : بد خبر سته خو تاسي ځان ناګاره اچوئ
کابل : قسم په خدای که درواغ درته وایو، مور هر سهار تـر خپـل ملـت د مخـه لـومړی ستاسـي د سـلامتی خبـر اخلو، نن بیخي خیر و خیریت دی
واشنګټن : تاسي هم عجیبه خبري کوئ، په نن ورځ کي هـم تاسـي وایاسـت چـي خیـر وخیریـت دی، لـږ پـه مسئولیت زمور پوښتني ته ځواب راکړئ، مور ټوکي نه کوو، جدي موضوع ده

ketabton.com - The Digital Library



کابل : صاحب هیله کوو، تاسي خبره لږ واضح کړئ!
واشنګټن : ډېر د افسوس ځای دی چي یوه موضوع په نړیوالو رسنیو کي راځي، مونږ دلته په واشنګټن کي په خبرېرو او تاسي هلته نه یاست خبر .
کابل : تاسي خو مونږ ته ووایاست چي څه خبره ده؟ مونږ خو په خپله ګناه هیڅ پوه نه سولو
واشنګټن : خبره دا ده چي نن سهار په اروزګان کي سبي ( Sabi ) ورکه سوې ده؟
کابل : سبي څوک ده؟
واشنګټن : سبي د استرالیایي ځواکونو یوه ماین پاله سپۍ ده
کابل : ځه بابا! مونږ چي ویل سړی ورک سوی دی، له سپۍ څخه مو هم دومره لویه کیسه جوړه کړه.
واشنګټن : ګورئ دا یوه جدي موضوع ده. که بله ورځ مو داسي خبره وکړه، نو استرالیا څه چي مونږ به هم له افغانستان څخه خپل عسکر وباسو، مونږ ته خپله یوه سپۍ هم ډېره مهمه ده.
کابل : نه نه، هسي یوه ټوکه مو وکړه، بیا دا سي خبره نه کوو، خو ګورئ چي له افغانستان څخه عسکر و نه باسئ، که نه زمونږ نهه منه اوړه به یوه پټیره سي.
واشنګټن : تاسي ته به خپلي ملي ګټي ټوکي ښکاري، خو زمونږ ګټي هیڅ وخت د ټوکو په ژبه مه مطرح کوئ، کنه بیا خو پوهېرئ چي مونږ څه کوو
کابل : زمونږ ټوکه یوازي د سپۍ په اړه وه او هغه مو هم ځکه وکړه چي مونږ او تاسي خو سره انډیوالان یو

ketabton.com - The Digital Library



واشنګټن : اندیوالي منډیوالي نسته، انډیوالي یوازي د ګټو وي او نن زمور د ګټو خبره ده، یاني یوه غربي سپی ورکه سوې ده او دا ستاسي مسئولیت دی چي باید ژر تر ژره یې پیدا او مور ته یې را وسپارئ

کابل : تاسي لطفاً یوه دقیقه تلیفون په غور کي ولرئ چي مور امنیتي ارګانونو ته حکم وکړو چي ستاسي د سپی لټون پیل کړي

واشینګټن : نه بابا مور یوه دقیقه نه سو کتلای، تر تلیفون وروسته ورته ووایاست

کابل : ښه سمه ده خو که اجازه وي یوه خبره کولای سو؟

واشنګټن : خبره مو وکړئ!

کابل : تاسي به مو په انډیوالانو کي ګڼئ یانه، خو پر مور ډېر ګران یاست، ګورئ څه موده مخکي ستاسي ځواکونو په شیندنډ کي زمور ګڼ شمېر ملکي خلک ووژل خو مور ستاسي څخه په رسمي ډول یوه تشه ګیله هم و نه کړه.

واشنګټن : دا په تاسي پوري اړه لري چي د خپلو خلکو پوښتنه کوئ کنه، خو پر مور خپل خلک څه چي خپل سپي هم ډېر ګران دي. ما مخکي هم درته وویل چي دا یوه غربي سپی ده او غربي سپی خاوند لري. زما د خبري مطلب دا دی چي ددې کار پرې ستا سي پر غاړه ده

کابل : وبخښئ څنګه زمور پر غاړه ده؟

واشنګټن : ځکه چي تاسي په دې اتو کالو کي یوازي امنیت هم را نه وست، که تاسي سیاسي کفایت او

ketabton.com - The Digital Library



ظرفیت درلودای نو نن به زمور یوه باتجربه سپی نه ورکېده
کابل : نو په دې کي زمور څه ګناه ده؟ امنیت خو نړیوالو تراهګرو خراب کړی دی
واشنګټن : نو تاسي خو هم یوازي نه یاست، نړیواله ټولنه اوږه پر اوږه درسره ولاړه ده، ان دا چي ارګ مو هم نړیواله ټولنه ساتي
کابل : د یوې خبري اجازه ده؟
واشنګټن : هوا! خو په دې شرط چي تکراري خبره به نه وي
کابل : نه که مو خوا بدېږي نه یې کوو
واشنګټن : خبره مو وکړئ!
کابل : که په ټول ژوند کي د یوې بې ادبی اجازه راکوئ نو مور به ووایو چي نړیوالي ټولني هم په دې برخه کي خپلي ژمني نه دي پوره کړي.
واشنګټن : کومي ژمني یې نه دي پوره کړي؟
کابل : مثلاً په دومره وخت کي به په افغانستان کي تراهګر وځپو، ستاسي اردو او پولیس به در جور کړو، اقتصاد به مو پیاوړی کړو، افغانستان به له سره داسي ورغوو لکه جرمنی، دا به وکړو او ها به وکړو.
واشنګټن : پوهېږئ چي زمور دغه وعدې په کوم ټرون پوري اړه لري؟
کابل : دا خو ښکاره خبره ده چي د بن په ټرون پوري اړه لري
واشنګټن : نه د بن په ټرون پوري اړه نه لري، که ستاسي یاد وي نو مور د بن له ټرون څخه یوه میاشت

ketabton.com - The Digital Library



مخکې تاسي ته وویل چې مور په هر ډګر کې ستاسې سره ولاړ یو
کابل : هو زمور یاد دي، نو بیا ولې اوس نه راسره درپېږئ؟
واشنګټن : اې ساده ګانو! مور دا منو چې ستاسي سره مو دغه وعدې کړي دي خو پوهېږئ چې هغه کومه نېټه وه؟
کابل : یاره نه مو ده یاد
واشنګټن : ستاسي یوه کمزوري دغه ده چې حافظه مو چندان کار نه کوي، مور دغه خبره د اپریل د میاشتي پر لومړۍ نېټه درته کړې وه، تاسي ته خو معلومه ده چې د اپریل لومړۍ نېټه د درواغو نړیواله ورځ ده.
کابل : نو تاسي خو تر هغه وروسته هم خپلي ژمنې نه دي پوره کړي
واشنګټن : زمور ټولې ژمنې په هماغه یوه ټرون پورې اړه لرې چې د اپریل پر لومړۍ نېټه مو درسره کړې و
کابل : اوف ! یاني مور اپریل فول سولو؟
واشنګټن : نو ستاسي څه خیال دی؟ دا چې په دغه ورځ په ټوله نړۍ کې خلک درواغ وایي دومره مهمه نه ده، مهمه دا ده چې سړی په دغه ورځ ټوله نړۍ وغولوي. لکه څنګه چې امریکایان په نورو ډګرونو کې تر ټولو مخکې دي، دا دی په درواغو کې یې هم لومړۍ مقام وګاټه، دې ته نو اپریل فول وایي!؟
کابل : اوس تاسي خو دا سیالي وګټله، مور به ملت ته څه ځواب ورکوو؟

ketabton.com - The Digital Library



واشنګټن : که په درواغو وي نو چل یې ډېر اسانه دی، خو که په رښتیا ویلو وي نو تاسي خپله یوه د حل لاره ورته پیدا کړئ!
کابل : په درواغو څنګه ملت ته ځواب ورکړو؟
واشنګټن : واه واه! عجیبه خبره مو وکړه، لکه تاسي چې تر اوسه پوري خپل ملت ته هیڅکله درواغ نه وي ویلي.
کابل : درواغ، درواغ، اخیر نور لا څونه درواغ ؟
واشنګټن : ګورئ مور او تاسي خو یو بل ښه سره پېژنو، مور تاسي او تاسي خپل ملت ته درواغ وایاست، داسي ښه غوښتن او ښکرور درواغ .
کابل : مور خو تل ستاسي خوښي ته ګورو، ان دا چې درواغ مو هم تل ستاسي په خوښه ویلي دي، اوس هم ستاسي خوښه ده، ایا درواغ بیخي پرېږدو؟
واشنګټن : نه بابا، درواغ مه پرېږدئ ، داسي وکړئ چې یو یې مور ته مه وایاست او بل د یوه رسمي فرمان له لارې د اپریل لومړۍ نېټه د درواغو ویلو لپاره رسمي ورځ اعلان کړئ
کابل : هغه متل دی چې وایي ورانه به یې کړې، جوړه به یې نه کړې. وېرېږو چې په بلا مو اخته نه کړئ
واشنګټن : وارخطا کېږئ مه، تاسي اوس هم ددې ډګر اتلان یاست، ستاسي د حکومت په اړه دا مقوله ډېره مشهوره ده چې وایي : که ستاسي ټولي غوړي وعدې راټولي کړل سي نو دومره غوړي ځني ایستل کېږي چې یوه فابریکه یې هم نه سي تولیدولای.

ketabton.com - The Digital Library



کابـل : هـو صـاحب ستاسـي خبـره رښـتیا ده، خـو دا فابریکه هم ستاسي په همکارۍ جوړه سوې ده، ښه اوس دا ووایاست چي ددې کار ګټه به څه وي؟
واشنګټن : ګټه به یې دا وي چي که کومه مهمه ژمنه مو کوله نو په همدې ورځ به یې کوئ، مثلاً که د خپل کـار کلنـی راپـور مـو ورکـاوه او یـا مـو خپلـه کومـه نـوې طرح اعلانول نو باید د اپریل پر لـومړۍ نېټـه یـې اعلان کړئ، بیا که مو خپلي ژمني پوره هم نه کړې نـو ملـت به ګیله نه درڅخه کوي.
کابل : خو...
واشنګټن : خـو مـه پکښـي راباسـئ، دا د نړیـوالي ټـولنې امر دی، پوه سوئ؟
کابل : نه مطلب مي دا نه و چي ستاسي خبره نه منـو، مور ویل چي په ګټو یې لږ پوه سو
واشـنګټن : یـاره تاسـي خـو پـه نیمـه هـیڅ نـه پـوهېږئ، هسي په مور سپیني خبري کوئ. نـه وینـئ چـي مـور د تراهګرۍ په نوم په افغانستان کـي څنګـه خپـل نظـامي حضـور تـه مشـروعیت ورکـړی دی؟ دغسـي تاسـي هـم خپلو درواغو ته مشروعیت ورکړئ. نـن داسـي یـو وخـت دی چـي بایـد سړی د هـر کـار لپـاره جـواز ولـري. تاسـي ګورئ نن ورځ که څوک غواړي چـي پـه افغانسـتان کـي خلک مړه او یا برمته کړي نـو امنیتـي کمپنـۍ جـوړوي، که غواړي چي غلا وکړي نو ( اینجوګاني) جوړوي. تاسي هم لومړی د درواغـو لپـاره یـو د اوړو پـزه جـوړه کـړئ او بیا یې نر غوندي وایاست!
کابل : پر غبرګو سترګو دغسي به وکړو

ketabton.com - The Digital Library



واشنګټن : دا کار ډېر ژر تجربه کړئ، مور باور لرو چې خامخا ښه نتیجه ورکوي، ښه نور نو د خدای په امان
کابل : په مخه مو ښه، ډاډه اوسئ چې ستاسي سپی به هیڅکله ضایع نه سي، له ټلیفون کولو څخه مو ډېره ډېره مننه .

سبا سهار له ارګ څخه یو فرمان صادر سو. په فرمان کي د اپریل لومړۍ نېټه چې د وري د میاشتي له دوولسمي نېټې سره سمون خوري د درواغو ویلو لپاره د رسمي ورځي په صفت اعلان سوه. په فرمان کي دا هم راغلي وه چې په دې ورځ کي دولتي چارواکي، سیاسي ګوندونه، مدني ټولني او اینجوګاني د درواغو ویلو اجازه لري خو د ملت لپاره درواغ ویل ګناه ده. څه موده وروسته د حساب ورکولو ورځ د اپریل لومړۍ نېټه وټاکل سوه، دغه ډول په همدې ورځ د نوي منتخب دولت طرح هم اعلان سوه چې امنیت، له طالبانو سره خبري اتري، د تراهګرۍ پر وړاندي مبارزه، د کوکنارو کښت، د فساد له منځه وړل ، بیا رغونه او د ملي اردو او پولیسو جوړول یې مهمي برخي وې.

(۱) : ازادۍ راډیو خبر ورکړ چې یوه بم موندونکې استرالیایي سپۍ چې د ( ۲۰۰۸ ) میلادي کال په سپټمبر کي په اروزګان کي د جګړې پر مهال ورکه سوې وه، څوارلس میاشتي وروسته، یاني د ۲۰۱۰ میلادي کال د نوامبر د میاشتي پر (۱۲) نېټه پیدا او بیرته د استرالیایي ځواکونو اډې ته ورسول سوه.
د استرالیا صدراعظم ( کیون رډ ) په دغه ورځ نابېره اروزګان ته سفر وکړ او د خپلي وطنداري سپۍ په راخوشي کېدو یې خورا ډېره خوښي وښوده.

ketabton.com - The Digital Library



# د ړندو حکومت

په افغانستان کي په هر یوه ساعت کي شپږ لوړپوړي دولتي چارواکي په سترګو ړندېږي. دغه خبره په افغانستان کي د نړیوال روغتیایي سازمان استازي ډاکټر پیټر ګراژ د لید د نړیوالي ورځي په مناسبت وکړل، ده زیاته کړه چي ددغو ړاندو په سلو کي شل یې بهرنیان او پاته نور یې افغانان دي. په بهرنیو ړاندو کي ملکي خلک هم شامل دي، خو افغانان ټول لوړپوړي دولتي چارواکي او یا په دولت پورې تړلي خلک دي.

یاد سوي ړانده اکثره د دوبي په موسم کي د افغانستان د کابل په شیرپور، وزیر اکبر خان مېنه، خوشال خان مېنه، کارته سه، کارته چار، کارته پروان او خیر خانه مېنه کي اوسېږي خو په ژمي کي دبی،

ketabton.com - The Digital Library



امریکا، انګلستان، جرمني، بنکاک، سویس او داسي نورو بهرنیو هیوادونو ته ځي. د دوی کاروبار ډېر ستړی دی، ځکه چي ټوله ورځ د ډالرو جوالیتوب کوي او یو ګړی هم ارام نه کښېني. دغه ډانده خلک د دولت په مهمو پوسټونو کي کار کوي، لکه په ولسي جرګه کي د دولت پر کړنو د څار کمیسیون، د قانون پر پلي کېدو د نظارت کمېټه، د فساد پر ضد د څار کمېټه، له افغانستان سره د بهرنیو مرستو د څار کمېټه، د انتخاباتو د څار کمېټه، پر رسنیو د نظارت کمېسیون، د محبسونو د نظارت کمیسیون، د اروپایي ټولني له خوا د افغانستان پر انتخاباتو د نظارت اداره، ملي امنیت، لویه څارنوالي، یوناما، د بشري حقونو د څار کمیسیون او نورو مهمو ادارو کي کار کوي.

ډاکټر ګراژ وویل چي ددغو ناروغانو پر سترګو لومړی د ډالرو پردې غوړېدي چي بیا یې ورو ورو لید کمېږي او په پای کي یو مخ ړندېږي. کله چي ړوند سو بیا یوازي ډالر او د ډالرو پیدا کولو لار او ګودر ویني. ډاکټر ګراژ اندېښنه وښوولې چي دا ستونزه په افغانستان کي مخ پر ډېرېدو ده، ځکه چي دا ناروغي ساري او میراثي ده، یاني هم له مور او پلار څخه اولاد ته لېږدول کېږي او هم هغه څوک په اخته کېږي چي له دوی سره یو ځای کار کوي. که څه هم نوري ساري ناروغۍ د تماس، هوا، ګډ خوراک او نورو لارو له ناروغ څخه روغ سړي ته ورځي خو دا ناروغي یوازي د ګډ فکر او کار کولو له

ketabton.com - The Digital Library



لاري روغ انسان ته لېږدول کېږي. ډاکټر ګړاژ وویل چي په دې ناروغۍ هغه خلک ډېر ژر اخته کېږي چي پخوا یې پر سترګو د ایراني تومنو، پاکستانۍ کالدارو او روسي روبلو پردې غوړېدلي وي. په دې ناروغۍ که څه هم په هر موسم کي انسان اخته کېدای سي خو د ولایتي شوراګانو، ولسي جرګې او ولسمشرۍ انتخاباتو او له افغانستان سره د مرستو په باب کنفرانسونو پر مهال په دې ناروغۍ د اخته کېدو چانس تر بل هر وخت ډېر دی.

اتیا کلن بوډا چي د نوم له ښوولو یې ډډه کوله وویل چي زوی یې په غبرګو سترګو ړوند دی، دی وایي چي زوی یې مخکي په سترګو جوړ او هر څه یې سم لیدای سوای، خو له کومي ورځي راهیسي چي یې د انتخاباتو دکمیسیون د نظارت په څانګه کي کار شروع کړی نو ورځ په ورځ یې د سترګو لید کمېده چي وروسته بیخي ړوند سو . دی وایي چي که څه هم دوی اوس په بوجیو بوجیو ډالر لري خو ستونزه دا ده چي زوی یې یوازي ډالر ویني او ډالر پېژني، نور نه مور او پلار پېژني او نه هم نور خپلوان ، ان دا چي خپل ولس بیخي ځیني هېر سوی دی. دغه سړی وایي چي زوی یې نه یوازي دا چي له ډالرو پرته څوک نه ویني، بلکي څه اوري هم نه، بس یوازي هغه څه اوري چي د ډالرو په باب وي.

یو روغتیایي کارپوه چي ده هم له نوم ښوولو ډډه وکړه ددې ناروغۍ د نښو نښانو په باب وویل چي، دا ناروغي د ډالرو په اندازې او سیاسي موقف پورې اړه

ketabton.com - The Digital Library



لري، یاني کله چي د یو چا ډالر بیخي ډېر او سیاسي دریځ یې لوړ وي، نو نه یوازي دا چي په سترګو ړندېږي، بلکي په غوږو کوڼ او پر دې سربېره یې یوه سترګه هم رپېږي. دی زیاتوي چي دا ناروغي یو څو کاله یوازي له سترګو سره کار لري خو وروسته د انسان عقل هم اغېزمن کوي، یاني وروسته د ناروغ عقل یوازي د ډالرو په اړه کار کوي اوبس.

د جمهوري ریاست یوه ویاند وویل چي په دې ورځو کي د نړیوالي ټولني له خوا پر افغان دولت فشار ډېر سوی چي په دولت کي اداري فساد ډېر سوی او دولت پر خپلو فعالیتونو واک او کنټرول له لاسه ورکړی دی، ځکه نو دولت پرېکړه کړې چي د دولت پر مهمو پوستونو ړانده خلک وګماري چي د دولت او بهرنیانو ټولي کړني او فعالیتونه په خپلو سترګو ووینې او په دقیقه توګه یې وڅاري.

د افغانستان د دولتي روغتیا وزارت وایي چي دا ناروغي په دولت کي دومره ډېره سوې چي ان تر ارګه پورې هم رسېدلې ده. دا وزارت اندېښنه ښیي چي که ددې ناروغۍ مخه و نه نیول سي نو په راتلونکو څلورو کالو کي به د دولت ټول مامورین په سترګو ړانده او په غوږو کاڼه سي.

له بلې خوا ولسي خلک ددې ناروغۍ په اړه ژوره اندېښنه لري. د کابل ولایت یو ځوان چي ګرالبي یې شکېدلي او د میرویس میدان پر چوک د مزدورۍ لپاره ولاړ دی وایي چي دی له یوې اوونۍ راهیسي د خوارۍ او مزدورۍ لپاره راځي خو کار نه مومي او بیرته کور ته

ketabton.com - The Digital Library



وړی تړی ځي، دی وایي چې دولتي چارواکي په سترګو ړانده سوي او د دوی لوړه ، تنده او بېوزلي ګردسره په سترګو نه ویني.
د کندهار د شاه ولیکوټ ولسوالۍ یوه سپین سرې ښځه چې د بهرنیو ځواکونو په بمباریو کي یې ټوله کورنۍ وژل سوي او خپله یې هم یو لاس پرې سوی وایي چې، دولتي چارواکي نه یوازي دا چې په سترګو ړانده سوي، بلکي په غوږو هم کاڼه سوي دي، ځکه چې د دوی ژړاوي او نارې اسمان ته رسېږي خو چارواکي یې نه اوري.
اوسمهال عام افغانان په دې فکر کي دي چې څنګه ددې خطرناکي ناروغۍ مخه ونیسي، خولا تر اوسه ددې ناروغۍ کوم موثر علاج نه دی موندل سوی. په افغانستان کي د یوه خصوصي بانک مشر، ډالر پوه زمری خان وایي چې دا ناروغي هیڅ علاج نه لري، خو دا چې ملت ناخوښه دی نو یوه لاره یې دا ده چې نړیواله ټولنه له افغانستان سره خپلې ډالري مرستي نوري هم زیاتي کړي، ددې کار په نتیجه کي به د ټول ملت پر سترګو د ډالرو پرده وغوړېږي، بیا به نو ټول ملت ړوند وي او د افغان دولت او نړیوالي ټولنې کړه وړه به نه ویني.

ketabton.com - The Digital Library



# بيا د پيسو کڅوړي راغلې ...

مدعي : قاضي صاحب دا سړی درواغ وايي، دا ځمکه زما ده او ده په زوره راڅخه نيولې ده، ها دا يې قباله ده!
قاضي : ځه بابا قواله مواله په درد نه خوري، ورسه شاهدان راوله!
مدعي : سمه ده صاحب، د دوو شاهدانو پر ځای به شل شاهدان راولم
قاضي : ګوره پام دي وي چې د افغانانو شاهدي نه منل کېږي، بايد بهرني شاهدان راولې او بل دا چې په دې مسئله کې د نړيوالې ټولنې اجماع هم ضروري ده
مدعي : قاضي صاحب شاهدان پېژنم، خو دا جماع يې څه شی ده؟
قاضي : بدبخته جماع نه، اجماع . اجماع دا ده چې بايد څو زره نفره شاهدي ورکړي چې دا ځمکه رښتيا ستاده

مدعي : نه سي کېدای چې د خارجي شاهدانو پر ځای افغاني شاهدان راولم؟
قاضي : که مور خپلې لانجې خپله اوارولای سوای نو بيا نړيوالې ټولنې ته څه ضرورت و؟ ته تر اوسه هم د

ketabton.com - The Digital Library



فیل په غور کي ویده یې، اوس هیڅ مسئله له نړیوالي ټولني پرته نه حل کېږي، پوه سوې؟
مدعي : قاضي صاحب د خدای پر پار یوه لاره خو را وښیه، زه اوس څه وکړم؟
قاضي : لاره دا ده چي زر نفره امریکایي شاهدان راوله، دا شاهدان باید اوږدې څنې ولري خو باید ږیره او برېتونه یې پاک خریلي وي او که دا کار نه سې کولای نو بیا بل کار وکړه!
مدعي : کوم کار؟
قاضي : اتیا زره پاکستاني شاهدان راوله، دې شاهدانو باید ږیري او برېتونه خریلي او قره قلي خولې یې پر سر وي، خو که دا کار هم نه سې کولای نو یوه بله لار هم سته
مدعي : کومه لاره؟
قاضي : یو ملیون ایراني شاهدان راوله، دا شاهدان باید ښه مبارکه سپینه ږیره او برېتونه ولري او ددې تر څنګ یې باید توري لنګوټې هم ټرلي وي
مدعي : قاضي صاحب ستا قربان سم، زه په ټوله ژوند کي خارج ملک ته نه یم تللی، دومره شاهدان به څنګه راولم؟
قاضي : خارج ته ولي ځې؟ وطن له امریکایانو، ایرانیانو او پاکستانیانو ډک دی، هر څومره چي وغواړې پیدا

کېږي، خیر زه به لاره دروښیم، پولیسه ورسه دی پوه کړه!

ketabton.com - The Digital Library



پولیس : پر غبرګو سترګو قاضي صاحب پولیس تر لاس ونیولم، یو ګونبه ځای ته یې بوتلم او په خندا یې راته وویل : څومره ساده سړی یې، قاضي صاحب څو واړه په اشاره کي درته وویل، خو ته سر نه خلاصوې. له امریکایي شاهدانو څخه د قاضي صاحب مطلب دا و چي زر امریکایي ډالره راوړه او له پاکستاني شاهدانو څخه یې هدف اتیا زره کالداري دي، دغه ډول ایراني شاهدان دا مانا چي یو ملیون تومنه راوړه. ګوره سر خلاص کړه، که په دې محکمه کي دي دعوه بایلول، نو په بله محکمه کي تر دې ډېر شاهدان در څخه غواړي، نور نو ستا خونبه ده. ته بیا هم بختور سړی یې چي دوسیه دي په یوه عادل قاضي پوري اړه لري، ددې محکمې په ټولو قاضیانو کي تر دې بل عادل او زړه سواند قاضي نسته. ما وپوښتل چي یو څه افغانۍ لرم، قاضي صاحب ولي افغانۍ نه اخلي؟ پولیس په خندا وویل : په ټول دولت کي دغه حال دی، ان دا چي زمور ارګ ته هم په کڅوړو کي ډالر، کالداري او تومنونه راځي، دا نن هم څو کڅوړي ارګ ته راغلې. زه هم له محکمې راووتم چي د قاضي صاحب لپاره پیسې برابري کړم، دا چي پیسو ته مي ډېره اړتیا درلوده نو د پیسو کڅوړي مي له یاده نه وتلې، ورو مي له ځانه سره وویل :

بیا د پیسو کڅوړي راغلې
یا به ډالر وي یا روپۍ یا تومنونه

ketabton.com - The Digital Library



## د تېلو ولاړ ټانکرونه او د ارګ روان باندارونه

قهرجن مظاهرچیان د سفارت مخ ته راټول سوي ول، د ( مړ دي وي ) چیغي لا نه وې ارامي سوي چي د هغه هیواد د ولسمشر له عکس څخه لمبې پورته سوې، وروسته پر سفارت د ورستو هګیو باران جوړ سو او د سفارت پر دروازه ځړول سوی عکس په هګیو تک ژیړ سو، د هګیو په باران کي خلکو نوري هم په زوره چیغي کړي :

- یوه ورځ یې نه ده، دا ملک هره ورځ زمور سره ناروا کوي
- کله زمور خلک په ګولیو ولي
- کله یې په زندانو کي اچوي
- کله یې اعداموي
- کله یې پر مخ تېزاب ورپاشي
- لا یې زړه نه دی سور سوی، دا دی اوس یې زمور د تیلو ټانکرونه درولي دي، خو مور یې هم نه پرېږدو او خپل کسات خامخا ځني اخلو.

ketabton.com - The Digital Library



په ارګ کي په دې باب د کابینې بیړنۍ غونډه رابلل سوې وه، ولسمشر په ډډ اواز وویل : ایران خو نه زمور د ګاونډیتوب او نه د اندیوالۍ خاطر وکړ، ان دا چي ما خپل لومړی مرستیال ور واستاوه، یوازي مرستیال نه، بلکي مارشال مي هم ورواستاوه، داسي یو مارشال چي د ټولي نړۍ پوځي ځواکونو ته یې لاس ورکړی دی، که نور څه نه وي نو د مارشال صاحب د الوتکي ټانکۍ خو به یې له تېلو ور ډکه کړې وای، زړه مي غواړي چي د هلمند اوبه پر بندي کړم.

د اوبو او برېښنا وزیر په ږیره کي ګوتي تېري کړې او ویې ویل : صاحب پام کوه پام! اوس خو یې یوازي تېل را باندي بند کړي دي، خو که دا کار مو وکړ نو زما څخه به وزارت هم واخلي. د ولسمشر دوهم مرستیال پر سر لنګوټه ټینګه کړه او ویې ویل : وزیر صاحب نېه وایي، هغوی پر دې کار هم ډېر په قهر دي چي زمور خلکو ولي د دوی د سفارت مخ ته مظاهره کړې ده؟ اوس هم که هغوی خبر سول چي مور په دې اړه د وزیرانو غونډه رابللې ده، نو ما به له مرستیالیه لیري کړي او پر تاسي به خدای دي یې نه کوي د پیسو کڅوړي بندي کړي. ولسمشر یې خبره ونیول او ویې ویل : نه نه نه! ډېر پام به کوئ چي کڅوړي بندي نه سي، باید ددې غونډې راپور هم په رسنیو کي خپور نه سي، کنه نو زمور یو من اوړه به یوه پتیره سي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر څو واره ژبه پر شونډو تېره کړه، د قره قل د پوستکي پکول یې پر تندي راڅوړ کړ او ویې ویل : رئیس صاحب تاسي بېغمه اوسئ، تر څو

ketabton.com - The Digital Library



چي زه په دې وزارت کي یم نو له دولتي رسنیو څخه به هیڅ داسي څه خپاره نه سي چي په هغه ایران خوابدی کېږي، ان دا چي مور د سفارت مخ ته د مظاهرو راپور هم خپور نه کړ. د ولسمشر تندی ورین سو او ویې ویل : افرین! دې ته نو ډیپلوماسي وایي، خو په هر صورت باید یوه د اوږو پزه جوړه سي چي ملت ارام سي، بیخي یې غوږونه راوخوړل.

په دې وخت کي د بهرنیو چارو وزیر په غاړه کي ژیړه نیکټایي ټینګه کړه او ویې ویل : رئیس صاحب تاسي ډېر مهربانه یاست او په دې برخه کي له ګاونډي هیواد سره ډېر له زړه سوي ډک چلند کوئ خو زه دومره حوصله نه لرم، ته نه یې خبر، ما داسي غاښ ماتوونکی ځواب ورکړ چي تر اوسه به هیچا نه وي ورکړی. ناڅاپه د ولسمشر او وزیرانو سرونه د بهرنیو چارو د وزیر خواته کاږه سول او یو په بل پسي چیغي پورته سوې : خدایه فضل وکړې، څه دي وکړل؟

ولسمشر په وارخطایي وپوښتل : خدای دي خوار کړه لکه چي کور دي پر چرګه رابار کړ که څنګه؟ د بهرنیو چارو وزیر په فاتحانه ډول غاړه اوږده کړه او ویې ویل : کله چي د سفارت مخ ته مظاهره وسوه نو د ایران د بهرنیو چارو وزیر ما ته وویل : په یوه ساعت کي په دې باب څېړنه وکړه چي ددې مظاهرې تر شا د چا لاس و او بیا دغه معلومات او اسناد مور ته را وسپاره، خو ما یې هم داسي څپلۍ پر پښو ور سمي کړې چي څه درته ووایم. ولسمشر په وارخطایي وویل : د ظالم زویه ژر ووایه څه دي ورته وویل ؟ د بهرنیو

ketabton.com - The Digital Library



چارو وزیر سوکه وویل : ما رښتیا هم په یوه ساعت کي څېړنه وکړل، خو دوی ته مي دا معلومات او اسناد د یوه ساعت پر ځای دوه ساعته وروسته ور وسپارل البته دا خبره دي یوازي ستاسي سره وي، تر اوسه هیڅوک نه دي خبر.

ولسمشر په خندا وویل : یاره افرین! ډېر دي ښه کړي دي، دا ستا تر خبري پوري ما ته یوه کیسه رایاده سوه. وایي چي د یوه چرسي غوږو ته مورک ورلوېدلی و، چرسي ملا ته راغی ویل، ملاصاحب غوږو ته مي مورک ور لوېدلی دی یوه چاره راوښیه؟ خو ګوره پام دي وي چي غوږي مردار نه کړې، نور نو ستا خوښه ده. ملا بېچاره حیران سو چي اوس څه وکړي؟ تر لږ چورت وهلو وروسته یې چرسي ته وویل : راغلي او پېچلي دي په کتابو کي د متاخرینوچي که یوه مورک مندې وهلې له وېرې د پیشي، پام یې نه و او ولوېدئ په غوږو کي د یو چا، پوره و اجل ددغه مورک او هلته مړ سو، نو پس مورک پاک شهید دی او د شهادت له برکته یې غوږي هم حلال دي، الا په مانا د لاکن ده، لاکن دومره خبره ده چي که مورک غوښتل وخوري غوږي  بې اجازې او دا مورک مړ سو په غوږو کي، نو د ګېډي مختار ملاصاحب وایي چي مورک حرام خوره دی، نو په دې صورت کي مورک مردار، خو غوږي حلال دي. له دې کیسې سره ټولو وزیرانو وخندل، ولسمشر وویل: یاره وزیر صاحب تاسي هم داسي کار کړی دی چي غوږي مو نه دي مردار کړي، یاني د پیسو له کڅوړو سره مو هیڅ غرض نه دی کړی.

ketabton.com - The Digital Library



یوه وزیر چي خوله یې بې خونده نیولې وه او داسي ښکارېده چي خندا نه ورځي خو د نورو لپاره خاندي، ترخه خندا وکړه او ویې ویل : دا زمور او ستاسي غوږي به څنګه سي، دا حلال دي که مردار؟ دې غوږو ته خو د یوه پر ځای څو موږکان ورلوېدلي دي. د حج او اوقافو وزیر یې خبره ونیول : څرنګه چي دا یوه فقهي مسئله ده نو په دې باب به زه یو څه رڼا واچوم. خبره دا ده چي دا موږکان حلال دي، ځکه چي د مضرو او مردارو موږکانو مخه یې نیولې ده، نو یو شی چي خپله حلال وي بل شی نه مرداروي. ورپسې د عامي روغتیا وزیر وویل : وزیر صاحب رښتیا وایي، دا لکه د انسان په وجود کي چي یو ډول ګټور مکروبونه سته، دا مکروبونه داسي خوی لري چي مضر مکروبونه خوري او له منځه یې وړي، نو انسان ته ددغه ډول مکروبونو موجودیت ضروري خو څه، چي بیخي لازمي دی. د مالیې وزیر ورپسې وویل : اې وروره، ستا ولي زړه درد کوي؟ که موږکان پردي دي نو غوږي خو هم زمور نه دي، یوازي د غوږو ټیم ( ډبه ) زمور ده.

په دې وخت کي یو چا د پیسو یوه کڅوړه د ولسمشر مخ ته کښېښووله، دا کڅوړه د افغانستان له بیرغ څخه جوړه سوې وه، ولسمشر په داسي حال کي چي په برېتو کي یې خندل په کڅوړه ګوتي ووهلې، ټولو وزیرانو په کڅوړه کي سترګي داسي ښخي کړې لکه د نانوایي مخ ته چي غریبان راټول وي او ډوډۍ ته یې سترګي نیولي وي، تر لږ ځنډ وروسته کڅوړه خلاصه سوه، خو خبره بل ډول وه، دا ځل کڅوړه له پیسو نه،

ketabton.com - The Digital Library



بلکي له تیلو ډکه وه. لکه د پیریانو په مجلس کي چې بسم الله وویل سي، ټول وزیران پټه خوله کښېناستل او وارخطا وارخطا یې یو بل ته سره وکتل، د ولسمشر دوهم مرستیال د خبرو وار ونیو او په ژړغوني اواز یې وویل : مور او تاسي یوه لویه اشتباه وکړه چې خپل دوست هیواد ته مو یو ساعت ناوخته معلومات ورکړل، ځکه خو هغوی دا ځل مور ته په کڅوړه کي د پیسو پر ځای تېل راواستول، تر دې خبري وروسته په مجلس کي چوپتیا خپره سوه او غونډه هم پای ته ورسېده.

کله چې وزیران له ارګ څخه راوتل نوپه دې وخت کي تېز باد چلېده، خو د ارګ پر لویه دروازه ځړول سوی ملي بیرغ نه رپېده، لکه افغان دولت چې د ګاونډي هیواد په خوښه پر خپل ملي غرور تېل شیندلي او اوس نیت لري چې اور ور واچوي.

ketabton.com - The Digital Library



# جنرال فیل

په مسجد کي د فاتحې کمبلي اواري دي، قاري په لوړ اواز قرائت وایي،خلک لیکه لیکه ورته ناست دي، په چا سر ځړېږي او چا بیا سر پر زنګانه ایښی دی، ټول پټه خوله ناست او قرائت ته یې غوږ نیولی دی. یوه شیبه وروسته قرائت خلاص سو، دعا هم تمامه سوه، له دې سر ه سم د خلکو اوازونه پورته سول، اکثرو خلکو د وژل سویو خلکو د ژوند په باب خبري سره کولې. دا فاتحه د هغو ملکي خلکو لپاره وه چې  پرون د بهرنیانو په هوایي برید کي وژل سوي ول. یو څو دقیقې وروسته بیا قاري غاړه تازه کړه او قرائت یې پیل کړ، په مسجد کي چوپتیا خپره سوه، خو ډېر ژر د والي د تیلیفون زنګ دغه چوپتیا ماته کړه.  والي وویل : بلې! جنرال فیل : د سپیشل فورس له دفتر څخه جنرال فیل خبري کوم

ketabton.com - The Digital Library



والي : اوهو جنرال صاحب جوړ په خیر، جوړ په خیر، امر وکړئ صاحب!
جنرال فیل : موږ هم د ولسي خلکو په وژنه سخت خواشیني یو او غواړو چي تاسي او د وژل سویو خلکو خپلوانو ته فاتحه درکړو
والي : نو تاسي به موږ ته فاتحه څنګه راکړئ؟ ځکه چي فاتحه په مسجد کي ده او خلک نه غواړي چي تاسي دي مسجد ته راسئ
جنرال فیل : نو داسي به وکړو چي دغه خلک به خپل دفتر ته راوغواړو او دلته به فاتحه ورکړو، خو دوه نور ټکي هم واوره!
والي : مهرباني وکړئ!
جنرال فیل : موږ په پام کي لرو د وژل سویو خلکو له وارثینو سره مرسته وکړو او ددې تر څنګ پر هغوی یو ښه زېری هم وکړو
والي : د څه شي زېری؟
جنرال فیل : دا زېری د هر افغان هیله ده، خو دا زېری ستا لپاره نه دی
والي : بس ستاسي خوښه ده، اوس امر وکړئ چي زه په دې لاره کي څه کولای سم؟
جنرال فیل : تاسي د یو څو مهمو قومي مشرانو او شهیدانو د وارثینو یو لست جوړ کړئ، هغوی ته ووایاست چي سبا زموږ مېلمانه دي، تاسي هم ورسره راسئ
والي : پر غبرګو سترګو صاحب، همداسي به وکړم

ketabton.com - The Digital Library



د سپیشل فورس یا د ځانګړو قواوو په دفتر کي قومي مشران، د شهیدانو وارثین او بهرني جنرالان ناست دي. جنرال فیل ستیج ته راولاړ سو او ویې ویل : مور د ملکي خلکو په وژنه سخت خواشیني یو، خدای دي دوی وبخښي او تاسي ته دي د زړه صبر درکړي. زمور په کلتور کي د خواشینۍ څرګندولو لپاره یو څو دقیقې پټه خوله کښېنو خو نن دا کار نه سو کولای، ځکه چي مور ته وخت ډېر مهم دی، ستاسي د امنیت، سولي او خوشاله ژوند په باب ډېر مسئولیتونه راپه غاړه دي، نو ښه به دا وي چي دا پنځه دقیقې وخت هم ستاسي په خدمت کي ولګوو. تاسي یې وینئ چي د تالار مخ ته زمور سپی ولاړ دی او ډېر غاپي، مور د خپل سپي غپا هم نه بندوو، ځکه دی هم زمور په شان دروند مسئولیت لري او ستاسي د خدمت لپاره افغانستان ته راغلی دی، خو دا چي ستاسي سل نفره مړه او یونیم سل نور ټپیان دي نو ستاسي سره د خواخوږۍ او غم شریکۍ په اړه یو کار کولای سو، هغه داچي د پنځو دقیقو لپاره به سپی یو څه لیري بوزو چي تاسي یې غپا وا نه ورئ.

تر دې وروسته د هر مېلمه مخ ته یو یو ټرلی کارتن کښېښوول سو. جنرال فیل وویل : مور ستاسي سره وعده کړې وه چي مرسته به درسره کوو او ددې تر څنګ به یو ښه زېرى هم دربانديي کوو. دا دی مور نن خپله وعده پوره کړه. زېرى دا دی چي دلته به سوله راځي، ان دا چي سوله به ستاسي کورونو ته راځي. په هر کارتن کي یو دانه کاغذ باد دی چي سوله پر لیکل

ketabton.com - The Digital Library



سوې ده، کاغذباد مرسته ده او پر کاغذباد د سولي کلمه زېرى دى. دا کاغذبادونه د هغو څو میلیوني مرستو له جملې څخه دي چې زمور هیواد د سولي راوستلو لپاره ستاسي سره کړي دي. ګورئ دا کاغذبادونه د کوچنیانو لپاره نه، بلکې د مشرانو لپاره دي، که تاسي دا کاغذبادونه په خپلو کورونو کي وساتئ نو دا به دا مانا ولري چې مور ستاسي کورونو ته سوله راوړې ده.

د رخصتۍ پر مهال جنرال فیل والي ګوښنه کړ، په غور کي یې یوځه ورته وویل او بیایې یو پاکټ ورکړ. والي چې پاکټ خلاص کړ نو ژر یې په جېب کي واچاوه، داړي یې جنګي کړې او دومره خوشاله سو لکه سپي ته چې هډوکی ور واچوې.

ketabton.com - The Digital Library



## قوماندان پنچرمېن

د قوماندان پنچرمین اصلي نوم غلام جان و، پخوا یې په کابل کي د پنچرۍ نیولو دوکان درلود، کله چي په کابل کي تنظیمي غویو ښکرونه یو د بل په خیټو سره ننه ایستل نو ده هم دوکان پرېښود، څو جنګي غوایي یې سره راټول او د نورو په شان یې لار ونیوله. غلام جان اوس پنچرمېن نه، بلکي چېرمېن دی، بیخي یې سر ته لاس نه رسېږي،اوس نو هیڅوک هم هغه ته مخامخ د پنچیر مینۍ خبره نه سي ور یادولای، خو پشلا ( په غیاب ) کي یې اوس هم قوماندان پنچرمین بولي . کله چي په بن کي د جنګي تنظیمونو لپاره غوا لنګه سوه، نود غلام جان خوله هم د یو چا پر لاس ددې غوا تیو رودلو ته جوړه سوه، ددې غوا شیدې دومره برکتي وې چي په لږ وخت کي قوماندان پنچرمین لومړۍ د پولیسو د یوې حوزې قوماندان او

ketabton.com - The Digital Library



وروسته د یوه مهم ولایت د امنیې قومندان وټاکل سو. په حقیقت کي قوماندان پنچرمېن اوس هم پنچرمېن دی، توپیر یې یوازي دومره دی چي پخوابه یې په خیرنو او غوږو کالیو کي د موټرو پنچرې نیولې خو اوس د جنرالې په دریشې کي د پخوانۍ پنچر سوي ډیموکراسۍ پنچري ور نیسي، بل توپیر یې دا دی چي دا نوې پنچر مېنې خورا ډېره مزدوري لري، ځکه چي د یوه ملت د سرنوشت خبره وه، همدا دلیل دی چي قوماندان پنچرمېن په لږ وخت کي څو کورونه رانیول او داسي مزی او چاغ سو لکه د لاندي مږ، هغه د چا خبره داسي څټ یې وکړ چي تر شا نه سي کتلای.

قوماندان پنچر مېن چي پر ټټر یې د اتلولۍ څو مډالونه ځړېدل، راولاړ سو، پر لاري ځولۍ ځولۍ کېده، بس ایله یې ځان تر سټیج پوري راورساوه، پر سټیج یې تکیه ولګوله، غاړه یې تازه کړه او ویې ویل : خدای مو راوله، خدای مو راوله

تاسي مو نن ددې لپاره راغونډتي یاست چي ستاسي سره خپلي دوې لویي بریاوي یا لاس ته راوړني شریکي کړو. تاسي ته خو معلومه ده چي زمور زړه ورو او مېړنیو ملي پولیسو هیڅ وخت د خپلو هیوادوالو د ساتني په لاره کي خپل وس نه دی سپمولی، تل یې جنایتکاران او د وطن دښمنان نیولي او د قانون منګولو ته سپارلي دي. یوه خبره خو دا ده چي نن مور یو ټن شراب نیولي دي، تاسي ګورئ یو ټن شراب په خوله یادېږي داسي لږ شی یې مه ګڼئ.

ketabton.com - The Digital Library



دا قیمتي شراب له یوه بهرني هیواد څخه راوارد سوي او په یوه کانټینر کي ځای پر ځای سوي ول. عجیبه دا ده چي دغه شراب د ګمرک مامورینو هم کتلي او هم یې محصول کړي دي، خو دې ته یې نه دي پام سوي چي دا شراب دي، مګر زمور ویښو پولیسو دغه شراب کشف او ونیول چي دا دی ستاسي په مخ کي پراته دي. بله لاس ته راوړنه مو دا ده چي یو ډېر خطرناکه ځانمرګی مو نیولی دی. دا ځانمرګی چي په ځان پوري یې چاودېدونکي توکي تړلي ول، غوښتل چي د والي صاحب دفتر ته ننوزي او ځان والوزوي، خو له نېکه مرغه زمور پولیسو په ډېر مهارت دی ونیو. ځانمرګی اوس ډېر وارخطا دی او خبري نه سي کولای، مور به لومړی له ده څخه پلټني وکړو، بیا به تاسي ته معلومات درکړو، خو اوس تاسي کولای سئ چي شراب له نژدې وګورئ.

خبریالان کېمرې په لاس د شرابو پر کارتنونو راټول سول، هر کارتن چي به یې کوت نو هغه به خالي و، په دې وخت کي یوه خبریال وویل چي قوماندان صاحب شراب چېري دي؟ دا کارتنونه خو ټول خالي دي! د قوماندان پنچرمېن تندی تریو سو، خپل مرستیال ته په غور کي وښونګېده او بیا یې وویل : زه څه خبر یم چي شراب څه سول، ما خو به نه وي ځښلي؟ دا زما سره ولاړ ټول پولیس شاهدان دي چي مور یو ټن شراب ونیول خو دا چي اوس ولي نسته زه هم نه پوهېږم، کېدای سي چي په لاره کي لوېدلي وي. کله چي خبریالانو ځان نورو پوښتنو ته جوړاوه نو

ketabton.com - The Digital Library



قوماندان پنچرمېن وویل : زه بخښنه غواړم پر ما ډېر ناوخته دی، یو ډېر ضروري کار لرم، کېدای سي چې په دې اړه نور معلومات په ټیلیفون کي درسره شریک کړم، د اوس لپاره د خدای پامان.
قوماندان پنچرمېن له ولاړېدو سره سم خپل لاسي بکس تر لاستي ونیو او پورته یې کړ، خو د بکس ځنځیر خلاص پاته سوی و، له پورته کېدو سره سم دوې پلې سو او د شرابو یو ښه غټ بوتل ځني راولوېد. په دې وخت کي له قوماندان پنچرمېن څخه د خولې چم هېر سو، خوله یې ویړه ونیول او خبریالانوته یې وویل : تاسي ته خو معلومه ده چي دښمنان تل موږ ته په کمین کي ناست دي، دا دی یو بوتل یې زما په بکس کي ایښی دی او غواړي چي ما تور کړي، خو دا ارمان به یې هیڅکله پوره نه سي. په هر صورت وایي بنده حیران خدای پر مهربان، زه حیران وم چي د شرابو یو بوتل به له کومه کړم چي تاسي ته یې د بېلګې په ډول درښکاره کړم، بس دا دی یو بوتل پیدا سو، تاسي کولای سئ چي دا بوتل له نژدې وګورئ، نور نو داسي یې وبولئ چي ټول شراب همداسي ول.
قوماندان پنچرمېن یوه شیبه شا و خوا کتله، کله چي کوم خبریال د بوتل کتلو لپاره ور ولاړ نه سو نو ده لکه مار ته چي شپېلۍ وهې غاړه اوږده کړه او ویې ویل : زه کولای سم چي همدا اوس دا بوتل ستاسي په مخ کي مات کړم، خو دا یو مردار شی دی، هم دا ځای چټلوي او هم بد بوی کوي، بیا به یې په یو مناسب وخت او مناسب ځای کي مات کړم، که مي په یاد

ketabton.com - The Digital Library



سول د ماتولو پر مهال تاسي هم راغواړم. له دې سره سم یې د شرابو بوتل بیرته په لاسي بکس کي کښېښود او په چټکو ګامونو د خپل موټر خواته روان سو. یو څو ګامه چي یې واخستل بیرته یې خبریالانو ته مخ راواړاوه او ویې ویل : کله چي د ځانمرګي په اړه زمور پلټني بشپړي سوې خامخا تاسي ته معلومات درکوم، بس یو ساعت وروسته دستي زنګ درته وهم. تر دې وروسته زه خپل دفتر ته ولاړم او راپور مي چمتو کړ، غوښتل مي خپل مرکز ته یې ولېږم چي په دې وخت کي قوماندان پنچرمېن زنګ راوواهه، ما وویل بلې!

- د امنیې قوماندان خبري کوم

- قوماندان صاحب جور په خیر

- ګوره زه او ته خو سره اندیوالان یو، یوه ځواني به نه وکړې؟

- ولي نه، پر دواړو سترګو، مهرباني وکړئ!

- هغه د خبري کنفرانس راپور مه خپروئ، ځکه شراب خو تاسي ولیدل، پاته سو ځانمرګی، مور چي پلټنه وکړه نو هغه ځانمرګی نه، بلکي لېونی و

- لېونی و؟

- هو لېونی و، یوازي لېونی نه، بلکي ګونګی هم و، خبره داسي وه چي دا لېونی د ولایت دفتر ته ورغلی او په دروازه کي پولیسو راګرځولی و

- ښه کیسه کوه

- پولیسو چي پوښتنې ځني کولې لېونې ځواب نه ورکاوه، بس پولیسو داسي فکر کړی و چي دا به

ketabton.com - The Digital Library



ځانمرګی وي، خو خیر نور دا دغم خبري پرېږده بله خبره واوره!
- کومه خبره؟
- ما خو تاسي ته وویل چي زه هغه دشرابو بوتل په یو مناسب ځای او مناسب وخت کي ماتوم، دا دی اوس مي هغه بوتل مات کړی دی، که راځې راسه، خو ګوره بل څوک مه خبروه.

ketabton.com - The Digital Library



## ښاروال الوتلای هم سي

یو چا راته وویل چي زمور ښاروال هر ماځیګر له دفتر څخه تر رخصت کېدو وروسته دوبی ته ځي او سبا سهار بیرته خپلي وظیفې ته راځي. کله چي مي دا خبره واورېده نو د کندهار کوټ بابا مي را په یاد سو. زه لا ډېر کوچنی وم چي هغه مهال د کندهار په ښار کي د کوټ بابا په نوم یو لېونحاله سړی اوسېده. ده به خیرن کالي اغوستي او لږ خبري به یې کولې. خلکو به ویل چي کوټ بابا د خدای دوست او د کندهار ولایت متصرف دی، ځکه یې نو ډېرو خلکو درناوی کاوه او دښه سړي په سترګه یې ورته کتل. دده د کرامتونو په باب له پخواراهیسي ډېري خبري کېدې، خو دا یوه خبره ډېره مشهوره وه چي کوټ بابا د مانښام لمونځ په

ketabton.com - The Digital Library



کندهار او د ماخوستن لمونځ په کعبه شریفه کي کوي، خلکو به ویل چي کوټ بابا څو واړه په کعبه شریفه کي لیدل سوی هم دی. کوټ بابا اوس مړ دی، خو په کندهار کي څو ځایونه دده په نوم نومول سوي دي.

زه هغه مهال ډېر کوچنی وم، په کرامت مرامت نه پوهېدم، بس یوازي به مي دنیایي نقلیه وسایل سترګو ته درېدل، لکه خر، اس، اوښ، بایسکل، موټر سایکل، موټر او الوتکه. له خپل پلاره مي اورېدلي ول چي سعودي عربستان له افغانستان څخه ښه ډېر لیري دی، ځکه به نو تل دا پوښتنه راسره وه چي کوټ بابا خو یو ملنګ سړی دی، نه الوتکه او نه هم دومره پیسې لري چي په الوتکه کي دي عربستان ته ولاړ سي، بیا نو څنګه هره شپه سعودي عربستان ته ځي او سبا سهار بیرته راځي؟ دا پوښتنه مي تر ډېره وخته پوري په زړه کي ګرځېده، حقیقت دا و چي د اولیاوو کرامو د کرامت او د هغوی د نامریي ځواک په باب مي تر اوسه کومه ژوندۍ بېلګه نه وه لیدلې، کله چي ځوان سوم نو بیا مي هم ددې سوال ځواب پیدا نه کړ، خو کله چي اوس د ښاروال صاحب له کیسې خبر سوم نو دغه پوښتنه مي حل سوه.

ښځتیا هم تاسي وګورئ ښاروال صاحب څنګه هره ورځ دوبی ته ځي او سبا سهار بیرته پر وخت خپلي وظیفې ته راځي؟ دومره معاش خو نه لري چي هره ورځ دي په الوتکه کي ولاړ سي، ځکه چي دده میاشتنی معاش او نور امتیازات دوبی ته د یوه سفر

ketabton.com - The Digital Library



د ټکټ پیسې هم نه کېږي، نو ښکاره خبره ده چې ښاروال صاحب هم د کوټ بابا غوندي بزرګ او د خپل معنویت په وزرو هره ورځ دوبی ته ځي.
د ښاروال صاحب بل کرامت له نړیوالو معیارونو سره برابر د کابل ښار جوړول دي. که کوټ بابا هره شپه مکې مکرمې ته د عبادت لپاره ته، نو ښاروال صاحب هم خوشي هره ورځ دوبی ته نه ځي، بلکي د ملت د خدمت لپاره یې شپه پر سر کړې ده، زما په اند دی ددې لپاره هره ورځ دوبی ته ځي چې د دوبی ښار ښه په ځیر وګوري چې سړکونه، مارکیټونه، شنه ساحه او نوري برخي یې څنګه جوړې سوي دي؟ کله چې څوک دوبی ته ولاړ نه سي، هلته خپل کور او ژوند و نه لري نو د کابل ښار به څنګه د دوبی غوندي جوړ کړي؟ دا د ښاروال صاحب ددغه ډول د سفرونو برکت دی چې نن د کابل ښار کټ مټ د دوبی غوندي جوړ سوی دی. د ښاروال صاحب پورته دوه کرامات ښیي چې هغه یو بزرګ او د خدای دوست دی، نو ویلای سو چې پر ده د فساد تورونه مطلق بېځایه دي، که چېرې خدای مه کړه پر ښاروال صاحب لګېدلي تورونه رښتیا وای، نو د افغانستان محکمې ولي خوشي کاوه؟ بیا هم که خدای مه کړه په محکمه کي کوم قاضي رشوت خوړلی وي ،نو ولسمشر صاحب ولي ویل چې ښاروال صاحب ډېر ښه سړی دی او بې ځایه ځورول سوی دی؟
ګورئ دا چې د اوسني دولت له یوه ښاروال څخه دومره لوی کراماتونه صادرېږي، خدای خبر چې رئیسان

ketabton.com - The Digital Library



او وزیران به یې څومره لوی اولیاء کرام وي؟ وایي چې دلته یې دومره کسان مړه کړل هلته به څه حال وي!؟ بله خو لا دا چې خپله ولسمشر صاحب به څومره سپېځلی انسان او لوی ولي وي چې دغسي سپېځلي اشخاص یې پیدا کړي او په کار ګومارلي دي؟ د لویي څارنوالۍ دا تور بیخي بېځایه دی چې وایي، د نوي کابینې ځینې وزیران په فساد ککړ دي.

راسئ چې مور خپله قضاوت وکړو، که چېرې دغه نوي وزیران په فساد ککړ وای نو ایا هغوی ته ولسمشر صاحب په نوې کابینه کې ځای ورکاوه؟ ایا تاسي د ولسمشر صاحب په اندېوالانو کي کوم مفسد او جنایتکار شخص وینئ؟ که فرضًا له ولسمشر صاحب څخه سهواً په دولت کي کوم ناوړه شخص تېر هم سي نو له نړیوالي ټولني څخه به څنګه تېر سي؟ ځکه بهرنیان خو له افغانستان سره ډېره خواخوږي لري او نه غواړي چې افغانستان دي د مافیایي ډلو او جنایتکارانو لاس ته ولوېږي، مور او تاسي ټولو ولیدل چې د بن په کنفرانس کي یې د افغانستان واک داسي اشخاصو ته وسپاره چې هر یو یې د تقوا له مخي تر کوټ بابا کم نه و.

یاره زه چې ورته ګورم نو ددې دولت هر غړی هغه د چا خبره د فراه کاڼی دی، یاني هر یو یې ولي او تر کوټ بابا کم نه دی، د کوټ بابا په نوم خو یوازي په کندهار کي یو څو ځایونه یادسوي دي، خو د ولسمشر صاحب د ملګرو په نوم ډېر ځایونه نومول سوي دي، لکه شیرپور، وزیر اکبر خان او داسي نور، ان دا چې په

ketabton.com - The Digital Library



بهرنیو هیوادونو کي هم ډېر ځایونه ددوی په نوم یادېږي، لکه  په دوبی، امریکا، سینګاپور، فرانسه او داسي نورو هیوادونو کي.

ketabton.com - The Digital Library



# په ګډه کي جګړه

د شپې مي تلوېزیون چالان کړ چي یوه خبریال له ولسمشره وپوښتل : د افغانستان د اساسي قانون له تصویب څخه یو کال تېر سو خو ملي سرود لا نه دی جوړ سوی، که د اساسي قانون د هري مادې عملي کول یو کال وخت ونیسي نو اساسي قانون خو (١٦٢) مادې لري، آیا ټول اساسي قانون به (١٦٢) کاله وروسته عملي کېږي؟ ولسمشر ځواب ورکړ : اې وروره! د قانون عملي کول اسانه کار نه دی، په تېره بیا د پښتو ملي سرود جوړول خو بیخي سخت کار دی، هغه د پېښوریانو خبره (ټایم به لګي او خرچه به پې راځي)، د یوې ورځي کار خو نه دی، په دې وطن کي له دېرشو کالو راهیسي جګړه روانه ده.

ketabton.com - The Digital Library



سبا سهار یوې دولتي ادارې ته ورغلم، د شعبې مامور راته وویل چې یوه هفته وروسته راسه. ما ویل دخدای لپاره زه له ډېر لرې ځایه راغلی یم، ولې څه خبره ده؟ مامور صاحب یوه شیبه ټوخي شین کړی و، کله چې یې ټوخی لږ ودرېده نو خپله شوړېدلې قره قلي خولې یې د څټ خواته وښویوله او ویې ویل : مشکل دادی چې زما عینکي په کور کي پاته سوي دي. حیران سوم چې څه وکړم؟ مامور صاحب تر لږ ځنډ وروسته وویل : بیا هم یوه لاره سته، هغه داچې ماته یوه جوړه عینکي رانیسه بس کار به دي وسي.

_ ښه سمه ده درته رابه یې نیسم، د سترګو نومره مو څو ده؟

_ ته ځان مه په تکلیف کوه، ماته یې پیسې راکړه زه یې خپله رانیسم

_ څو افغانۍ کېږي؟

_ زر افغانۍ کېږي، بیه یې ځکه لږ لوړه ده چې یو خو دا د نظر عینکي دي او بل نو د خلکو ډېر کارونه ور پوري تړلي دي، مثلاً اول دا ستا کار دی، که عینکي نه وي نو نه کېږي.

زه هم ناچاره سوم زر افغانۍ مې ورکړې، مامور صاحب ولاړ. پنځه دقیقې لا نه وې تېري سوي چې عینکي یې اینبې او شعبې ته راننووت. په رېږدېدلو لاسونو یې پر درخواست لاسلیک وکړ او ماته یې وویل چې ها دادی واخله، ګوره بیا و نه وایې چې ناڅوانه یې، دادی کار مي در وکړ. بیا یې وویل : هی هی، زما نو یو ځواني وه چې تېره سوه، اصلاً مفلیسۍ

ketabton.com - The Digital Library



زوړ کړم کنه نو زما خو داسي تېز نظر و لکه د شاهین، عینکو ته مي هیڅ ضرورت نه درلود. خو خیر خدای مهربانه دی که هره ورځ مي د نن په شان تېره سي نو ان شاء الله چي سترګې به مي بیرته نظر پیدا کړي، خو دا دیوې ورځي کار نه دی، ځکه چي په دې وطن کي له دېرشو کالو راهیسي جګړه روانه ده.

کله چي کور ته راغلم نو د کوچنیانو مور راته وویل چي سړیه یوه میاشت کېږي چي ښوونځي پیل سوي دي، خو دا زمور هلک وایي چي زمور درسونه نه دي شروع سوي، ته یې معلومات وکړه چي دا خبره رښتیا ده که دی هسي ځان له ښوونځي څخه خلاصوي. ماهم زوی ترلاس ونیو او ښوونځي ته یې ورغلم. سرمعلم ته مي وویل چي ایا دا زما د زوی خبره رښتیا ده؟

- هوا! مکتب شروع سوی دی خو زمور معلمین لا تر اوسه نه دي راغلي.

- نو ولي څه خبره ده؟

- ته خو خبر یې چي د معلمینو معاش ډېر لږ دی، بیا ما دوی ته وویل چي زما خو بله مرسته په وس نه ده پوره، یوازي دومره درسره کولای سم چي د حاضرۍ حساب به نه درسره کوم، تاسي کولای سئ چي ځان ته شخصي کارونه پیدا کړئ. بس دوی هم زما خبره ومنله، اوس دمیاشتي په پای کي یوځل راځي حاضري امضاء کوي، خپل معاش اخلي اوځي.

- نو دا زمور د اولادونو درسونه به څنګه سي؟

- تاسي هم څومره ناشکره خلک یاست، ومو نه لیدل چي دطالبانو په وخت کي د مکتبونو څه حال و؟ د

ketabton.com - The Digital Library



نجونو مکتبونه خو ګردسره تړلي ول، نـن داهـم غنیمـت دی چي ستاسي اولادونـه لـه کوڅـو راګرځېـدلي دي، لـږ تر لږه په یوه تعلیمـي فضـا کـي خـو سره راټـول سـوي دي. نن یـې صـنفونه جـوړ سـول، سـبا بـه یـې لـه خیـره سره کتابونه پیداسي، بله ورځ به یـې معلمـین راسـي او بله ورځ به یـې درسـونه شـروع سـي، یـو څـو کالـه صـبر وکړه، ټـول کارونـه خـو په یـوه ورځ نـه سـمېږي، په دې وطن کي له دېرشو کالو راهیسي جګړه روانه ده.

کله چي کور ته راغلم نـو غـاښ مـي سـوکه سـوکه درد شـروع کړ، مـا هـم ځنـډ و نـه کړ او دغاښـونو ډاکټـر تـه ولاړم، هغه چـي مـي غـاښ وکـوت نـو په لـوړ اواز یـې وویل : اوهو دا خودي ټول غاښونه چینجـو خـوړلي دي، باید ډک سي. که رښتیا ووایم نو ډېر واخطـا سـوم چـي په ځوانـه ځـوانـی کـي مـي څنګـه ټـول غاښـونه چینجـو وخـوړل او بل نو د هـر غـاښ ډکېـدلو څلـور زره افغـانـی غوښتې. په خبرو خبرو کي مي ډاکټر ته وویل چي زما پلار دي خدای وبخښي د شپېتو کالو به و خو د عمـر تـر پایه یې نه پر یوه غاښ درد سو او نه یې هم یـو غـاښ ووت، دا اوس څـه بلـا راغلـه چـي د خلکـو غاښـونه پـه ځوانـی کـي چینجي خوري؟ ډاکټر په خنـدا وویـل : ولـي تاته جګړه تر بلا کمه ښکاري؟ دا ټول د جګړې له لاسه، ځکـه چـي پـه دې وطـن کـي لـه دېرشـو کـالو راهیسـي جګړه روانه ده.

له ډاکټره چي راتلم نـو راپـه یـاد مـي سـول چـي مـا خـو خیاط ته یوه جوړه کالي ورکړي دي، ما ویل که یې جوړ کړي ول ځني را وابه یې خلم. خیاط ته چي مي د

ketabton.com - The Digital Library



خپلو کالیو خبره وریاده کړه نو هغه د یوه کمیس او یوه پرتوګ پرځای دوه پرتوګونه راته کښېښوول. ما ویل ماخو یو کمیس او پرتوګ غوښتی و؟
- وروره وبخښه غلطي سوې ده.
- غلطي ولي وسي؟ تا لیدلي وي چي یو څوک دوه پرتوګونه غواړي او بل نو دپرتاګه او کمیس اندازې مو جلا جلا په کتابچه کي یادښت کړې.
- وروره اصلاً مورِ هم ملامت نه یو، د جګړو له لاسه مو تر اوسه هم فکر پر ځای نه دی، تاته خو معلومه ده چي په دې وطن کي له دېرشو کالو راهیسي جګړه روانه ده.
تر هغه وروسته ستړی ستومانه کورته راغلم، کښېناستلی به لا نه وم چي کوچنی زوی مي په ژړا کورته راغی، سر یې مات او پر مخ یې ویني لاري لاري رارواني وې، ویل فلاني هلک په ډبره وویشتلم سر یې رامات کړ. ښځي مي راته وویل چي سړیه ددغه هلک پلار په ارامه پوه کړه، یوه ورځ یې نه ده، دغه جنګره هلک هره ورځ زمورِ له هلک سره جنګ کوي.
له زوی سره د هغه هلک پلار ته ورغلم او ورته ومي ویل چي وروره دا زوی خو دي لږ پوه کړه، وګوره دا زما د زوی سر یې ورمات کړی دی. دهلک پلار د دې پر ځای چي کړه غاړه وکړي او عذر وغواړي په بې پروایی یې وویل : وروره ما خپل زوی ډېر ښه روزلی دی، زما زوی ګردسره له چا سره جګړه نه کوي، ستا له زوی سره به بل چا جګړه کړې وي، زه نه پوهېږم چي ته

ketabton.com - The Digital Library



څنګه داسي خبره کوې؟ ما ورته وویل چي وروره دا خو ښکاره خبره ده چي ستا زوی جګړه ورسره کړې ده، ټولوکوچنیانو لیدلی دی. سړي سر وښوراوه او ویې ویل : زمور او ستاسي هم یو عجیبه وطن دی، داسي یوه خبره به واورې چي بیخي به یې عقل نه مني، بس نو سړی څه ووایي، دا ټول د جګړې له لاسه، ځکه چي په دې وطن کي له دېرشو کالو راهیسي جګړه روانه ده.

سبا سهار په کوم کار پسي له کوره راووتم، ګورم چي زمور یوه ګاونډي د خپل کور چټلي زمور د کور مخ ته واچول او غلی روان سو، د شا له خوا مي ورپسې نارې کړې چي اې وروره! دا چټلي دي ولي زمور د کور مخ ته واچول، دا ځای د چټلیو دی؟

_ نو چیري یې واچوم؟ بل ځای نسته

_ ولي پخوا دي چېري اچول؟

_ پخوا خو ښاروالي فعاله وه، هره ورځ به یې ورل، اوس هم که ښاروالي بیرته فعاله سوه ستا دکور مخ ته یې نه اچوم، نور څه غواړې؟

_ ښاروالي نو څه معلومه ده چي څه مهال به فعاله سي؟

_ دنیا په امید خورل کېږي، ټول کارونه خو په یوه ورځ نه سمېږي، په دې وطن کي له دېرشو کالو راهیسي جګړه روانه ده.

مانښام زما د یوه انډیوال کره مېلمه وم، تر ډوډۍ خورلو وروسته مي په نس کي ګوړهاری شروع سو. پر نس مي لاس تېر کړ او څنګ ته ناست ملګري ته مي

ketabton.com - The Digital Library



وویل چې زما خو پخوا ډېره ښه هاضمه وه، اوس نه پوهېږم چې ولې مې په نس کې ګوړهاری جوړ سو؟ هغه راته وویل چې هګۍ او غوښه په خپلو منځو کې بد سره وړي او تا دواړه یو ځای سره وخوړل، ځکه دي په نس کې ګوړهاری پیدا سو. له ځانه سره مې وویل چې، یاره تر دې مهاله خو ټول وطن جګړې پر سر اخیستی و، اوس یې لکه چې زما نس ته هم لاره ومومندله، خو خیر زما په نس کې جګړه څه د حیرانۍ خبره نه ده، ځکه چې په دې وطن کې له دېرشو کالو راهیسې جګړه روانه ده.

ketabton.com - The Digital Library



# شاهکار ادبي بهیر

د شاهکار ادبي بهیر اوونیزه غونډه د (۱۳۸۷) لمریز کال د وړي دمیاشتي پر اوومه نېټه په شاهکار تالار کي جوړه سوه. د غونډي مېلمه پروفیسر مصطفی اکبري، مشر یې مولانا محمد علي نقشبندي او د دریځ چاري د ښاغلي نجیب کوشان پر غاړه وې. غونډه د قاري سید عبدالله مزمل له خوا د قرآن عظیم الشان د څو آیتونو په تلاوت پیل سوه. لومړی د بریالي هنریار له خوا د تېري غونډي ګزارش ولوستل سو او بیا ښاغلي عبدالرافع غیرت خپل غزل کړه کتني ته وړاندي کړ چي مطلع یې په دې ډول ول:

هر ګناه چي په توبه په استغفار ځي
له هغه ګناه به څه په زړه کي ډار ځي

استاد ګل حبیب فدایي وویل چي مور باید بهیر ته یو داسي اثر وړاندي کړو چي پر هغه علمي بحث وسي او

ketabton.com - The Digital Library



ځوان شاعران یو څه ځني زده کړي. زما نظر دادی چې کله یو څوک بهیر ته یو اثر راوړي نو باید اول یې دلته یو څو تنه مشران تائید کړي چې ایا دا اثر په دې ارزي چې سړی دي وخت پر ضایع کړي؟ ما چې په اصطلاح دا غزل واورېد نو دا هسې یو ساده شی دی، نه یې فورم معلوم دی او نه هنریت پکښې دی، هغه د چا خبره املا غلط، انشاء غلط، کلش سر تا پا غلط. خو کمال الدین نعیمي یې خبره رد کړه او ویې ویل چې فورم یې ښکاره خبره ده چې نظم دی. ډاکټر جبار کړاو وویل چې هره ګناه په استغفار نه ځي، مثلاً یو سړی به قتل وکړي نو ایا په توبه د دې ګناه له عذابه خلاصېدای سي؟ خو جمال سلطانزي یې خبره پرې کړه او ویې ویل چې په توبه سړی له هري ګناه پاکېدای سي. ملا دوران وویل چې له لومړي بیت څخه د سیکولریزم بوی راولاړېږي.

د غزل دوهم بیت په دې ډول و:

ساقي راشه سره شراب راکړه سرې شونډې
تر چشمانو دي ځارېږم چې بهار ځي

معلم اکبر زړه ور وویل چې د دې بیت لومړی مصرع باید داسي جوړه سي: ساقي راشه سره شراب دشونډو راکړه. حاجي اسماعیل وویل چې ساقي، شراب او شونډي ډېر کلیشه یي او سولېدلي کلمات دي، باید نور په شعر کي رانه وړل سي، خو ملا دوران یې خبره ونیوله او ویې ویل چې دا ټول د جنت نعمتونه دي چې خدای مور ته په دې دنیا کي راکړي دي. د جنت نعمتونه خو ښکاره خبره ده چې هیڅکله نه کلیشه یي

ketabton.com - The Digital Library



کېږي او نه سړی په مړېږي، که رښتیا ووایم نو زما خو همدا اوس لاخولې اوبه ورته وکړې.
ډاکټر سلیم همدرد د دې بیت د دوهمي مصرع په باب وویل چې که د چشمانو پر ځای سترګي او د بهار پر ځای ځواني راسي نو ښه به وي، ځکه چې شراب او شونډي د کال په هر فصل کي ښه خوند کوي او که د بهار پر ځای عمر راسي مانا به یې داوي چې ساقي ژر سره شراب او سرې شونډي راوړه چې عمر مي تېرېږي.
دغزل دریم بیت په دې ډول و :
د خپل زړه خبري واړه ویراني کا
یار هغه چې همېشه په زړه د یار ځي
استاد لعل محمد وویل چې د دې بیت لومړۍ او دوهمه مصرع تر خپل منځ هیڅ تړاو نه سره لري. استاد کمال الدین نعیمي بیا د څلورم بیت په باب وویل چې د دې بیت منطق ضعیفه دي، ځکه کېدای سي چې د یار خبري هم د ویرانۍ سبب سي، زه خو خپله د یار له لاسه تباه تباه یم، کله راته وایي چې کریډیټ کارډ راواستوه او کله بیا وایي چې زه له وروره ډارېږم اوس دي نه سم لیدای، په اخرت کي به له خیره سره ګورو. که د شاعر هدف داوي چې نجلۍ دي همېشه د یار په خوله وکړي بیا دا خبره سمه ده خو ډاکټر سلیم همدرد بیا د کمال الدین نعیمي خبره رد کړه او ویې ویل چې د شعر پیغام باید د هلکانو او نجونو دواړو لپاره وي، مور باید د جنډر موضوع هم له پامه و نه غورځوو.

ketabton.com - The Digital Library



دغزل څلورم بیت په دې ډول و :
جهان ځای د خوښۍ نه دی دناورین دی
چي توتا له ګلستانه په چغار ځي
معلم اکبر وویل چي دا خبره سمه نه ده چي دنیا د خوښۍ ځای نه دی، دا زمور انډیوال څلور ودونه کړي دي، دوه کورونه او سراچه موټر هم لري. تردې لا بله خوښي وي؟ حاجي اسمعیل وویل چي شاعر څه خبر دی چي توتا له ګلستانه په چغار ځي، ښایي توتا خوشاله وي. معلم اکبر وویل چي توتا یې باید توتي لیکلی وای. ملا دوران وویل چي دابیت د شاعر خپل تخلیق او فکر نه دی، بلکي دا حدیث یې ترجمه او په نظم اړولی چي وایي: دا دنیا د مسلمان لپاره دوزخ او د کافر لپاره جنت دی.
دغزل پنځم بیت په دې ډول و :
په وار وار چي په دنیا باندي راغلي
عاقبت به ځني واړه په وار وار ځي

ملا دوران وویل چي دابیت هم د دې ایت شریف ترجمه ده چي وایي: هر ژوندی شی به د مرګ خوند وڅکي. ډاکټر سلیم همدرد وویل چي ټول خلک دنیا ته په وار وار نه دي راغلي، ځیني ماشومان غبرګولیان او ان کله نا کله خو یوه مور اووه ماشومان هم په یوه وار زېږوي. استاد لعل محمد وویل چي دلته معلومه نه ده چي د شاعر څوک مطلب دی، دنیا ته خو حیوانات او نور ژوندي موجودات هم راځي. که هدف

ketabton.com - The Digital Library



یې پېریان او حیوانات وي نو دا خو چندان د خواشینۍ خبره نه ده.

د غزل شپږم بیت په دې ډول و :

که له درده مي خبر نه دي وګړي
چې مي سړې وینې تر سترګو په رخسار ځي

حاجي اسماعیل وویل چې د دې بیت لومړۍ مصرع باید داسې وویل سي: ولې خلک زما له حاله نه خبرېږي. استاد عطاء وویل چې پنځم او شپږم بیتونه سړی ناهیلی کوي، شاعر باید ژوند ته هیله من وي او که ووایو چې هنر د ژوند لپاره دی نو باید په شعر کې د خلکو لپاره د امید او هیلې پیغام نغښتی وي. ما چې دا بیتونه واورېدل نو د انا مرګ مي راپه یاد سو. بریالي هنریار وویل چې د انا مرګ دومره ناهیلي نه ده، ځکه په پښتو ژبه کې یو متل دی چې وایي : په غمو کې د انا غم اسانه دی.

دغزل اووم بیت په دې ډول و :

د هغه طبیب نوم څه اخلې په ژبه
چې بیمار ورلره راشي او بیمار ځي

ډاکټر سلیم همدرد وویل چې په دې بیت کې د ډاکټرانو غیبت سوی دی، کېدای سي چې یو ناروغ د یو ډاکټر په دوا جوړ نه سي او کېدای سي بل ناروغ بیا د همدغه ډاکټر په دوا جوړ سي. ملا دوران یې هم خبره تائید کړه او ویې ویل چې جوړه په خدای پوري اړه لري، هیڅ یو ډاکټر د یو ناروغ د علاج تضمین نه سي کولای.

دغزل اتم بیت په دې ډول و :

ketabton.com - The Digital Library



که مي پېژنې هغه لېونی زه یم
چي نادان را لره راشي او هوښیار ځي
ډاکټر سلیم همدرد وویل چي په اوسني عصر کي طبیب او ډاکټر سره جلا دی، که د شاعر هدف یوناني طبیب وي نو هغه خو نه سم علاج کولای سي او نه اوس چندان خلک ورځي او که هدف یې ډاکټر وي نوباید ډاکټر وویل سي. بله خبره دا ده چي که یو ډاکټر خپله لېونی وي، نو د بل لېوني علاج به څنګه وکړي؟
حاجي اسماعیل بیا وویل چي د لېوني کلمه دي په لېوه واړول سي، یاني داسي دي وویل سي: که مي پېژنې هغه لېوه زه یم، د ډاکټر همدرد صاحب مخ ته دي لاس وي، ځیني ډاکټران هم تر لېوانو کم نه دي، کله چي له یو ناروغ څخه ډېر فیس واخلي نو د ناروغ سد پخپله سر ته راسي. ډاکټر جبار کړاو وویل چي که په دې بیت کي د لېوني کلمه په لېوه واوړي نو وزن یې خرابېږي. کمال الدین نعیمي بیا وویل چي په دې بیت کي ډېري باټي راغلي دي، یاني زه یو داسي ډاکټر یم چي که څه هم خپله لېونی یم خو لېوني پر سد کولای سم، دا که روغ ډاکټر وای نو څومره د نامي زوی به وای.
دغزل نهم بیت په دې ډول و :
دروغجن به همېشه وي په خزان کي
د رښتینو په مخ هر کله بهار ځي
بریالي هنریار د نهم بیت په باب وویل چي دا بیت له واقعیت څخه لیري دی، نن ددنیا ټول کار وبار پر

ketabton.com - The Digital Library



درواغو ولاړ دی، درواغجن خلک ډېر شتمن دي او مور چي رښتیا وایو سپېرې شوندې ګرځو او هر هغه څوک چي رښتیا وایي نو د خولې سر یې سوری دی، همدا اوس په دې غزل کي دومره غلطۍ سته چي که زه رښتیا ووایم، یاني هغه ټولي غلطۍ په ګوته کړم نو غیرت صاحب به راڅخه خفه سي او په ژوند کي به یوه خبره هم راسره و نه کړي. اول خو یې د دې غزل ځمکه زما څخه غلا کړې ده، هغه زما یو غزل دی چي وایي : هه هه هه... ته ودرېږه اوس راڅخه هېر سو، خو په هر صورت ځمکه یې دغسي ده. بل داچي ټولي قافیې یې غلطي دي، د فکر او پیغام په لحاظ هم یو کمزوری غزل و، نور نو یوه لمن ګرامري غلطۍ یې درلودې، اوس ناوخته دی که زه دا ټولي خبري دلته کوم نو مشاعرې ته وخت نه پاته کېږي، زه به دغه یادښتونه غیرت صاحب ته ورکړم چي په درد یې وخوري.

شېر جان کاکا بیا وویل چي غیرت صاحب یو ځوان استعداد دی، خیر که نن یې کمزوری غزل ولیکه سبا به ښه او په تول پوره غزل ولیکي. تر هغه وروسته د غونډې مشر مېلمه ته بلنه ورکړل سوه چي دغونډې په باب خپل نظر ووایي. د غونډې مشر وویل، ښایي تاسي هیڅ باور و نه کړئ چي ما تر اوسه دغسي علمي او له شخصي عقدو پاکه کره کتنه نه وه لیدلې، زه ویاړم چي مور نن په ځوان کهول کي د ښو شاعرانو او لیکوالو تر څنګ ښه نقادان او کره کتونکي هم لرو. ما د ښاغلي غیرت صاحب نثري لیکنې

ketabton.com - The Digital Library



لوستي وې، ډېري هنري او ښې لیکنې کوي، خو تر اوسه مي یې شعرونه نه وه اورېدلي، زه نه پوهېږم چي د غیرت صاحب ولي په زړه کي ورتېر سوه چي باید شعر هم ولیکي. زما په فکر هماغه نثر یې بس و، بیا هم که دی غواړي شعر ولیکي نو لومړی دي ادبي فنون او وروسته دي کلاسیک شعر مطالعه کړي، په تېره بیا خوشال بابا خو باید ډېر په دقت مطالعه کړي، له دې غزل څخه خو یې داسي ښکاري چي د خوشال بابا نوم یې ګردسره نه دی اورېدلی. زه نه پوهېږم هغه څوک چي خوشال بابا یې نه وي مطالعه کړی څنګه دا جرئت کوي چي شعر ولیکي.

وروسته خپله له ښاغلي غیرت صاحب څخه وغوښتل سوه چي د کره کتونکو په باب خپل نظر څرګند کړي. ښاغلي غیرت صاحب وویل چي زه ټولو هغو دوستانو ته د زړه له کومي کور ودانی وایم چي زه یې خپلو غلطیو ته متوجه کړم. یوه غلطي چي همدا اوس زما ورته پام سو، هغه داده چي د خپل غزل پر ځای مي د خوشال بابا غزل کره کتني ته وړاندي کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library



## سپي څنګه تاریخي اثر غلا کړ؟

یوه ورځ مي د خپل محصل زوی لیکچر نوټونه ولیدل، ګورم چي کټ مټ هغه زمور د وختونو لیکچر نوټونه دي. په دې منځ کي پنځوس کاله تېر سوي ول خو په دې دومره وخت کي یې لږ توپیر کړی و. زمور په وخت کي هغه استادان چي دغه لیکچر نوټونه یې ترتیب کړي ول ځینې یې ژوندي ول، که کوم ځای به ګونګ و، نو له هماغه استاده به مو پوښتنه وکړه خو اوس هغه ټول استادان خدای دي یې وبخښي وفات سوي ول. بل توپیر یې داو چي هغه وخت د دې لیکچر نوټونو د کاغذ کیفیت یو څه ښه و، فوټوکاپي به یې هم یو څه روښانه وه، خو اوس یې فوټوکاپي هم داسي وه، لکه تر میلاد د مخه د کوم ډبرلیک عکس چي دي اخیستی وي. کاپي یې لا څه کوې اصل یې هم داسي و، تا چي

ketabton.com - The Digital Library



ویل د غوا پر څرمن لیکل سوی دی.
لـه دې سـره سـم د اطلاعـاتو او فرهنـګ وزارت هغـه اعلان را یاد سو چې ویل یې، تاریخي اثار که له هـر چا سره وي موږ یې په لوړه بیه ځني رانیسـو. نـور یـې څـه کوې له خوشالیه باغ باغ سوم، ما ویل یاره شپرجانه که دا لیکچرنوټونـه پـه لاس درغلـل نـو بـس خـولې دي پـه غوږو کي سوه.
بس هغه دم روان سوم او ځان مـي کابـل پوهنتـون تـه ورساوه. د پوهنتون رئیس ته چې مـي د لیکچـر نوټونـو خبره ور یاده کړه نو اسـمان تـه یـې ټـوپ کـړه، ویـل تـه لېونی سوی یې، لیکچر نوټونه څنګه درکړو؟ نـه وینـې چې موږ یې همدا اوس تدریسوو؟ ما ویل، زه پوهېږم، خـو زه بـه یـې کمپیـوټري درتـه ولـیکم چـي هـم اسـانه ولوستل سي او هم که یو وخت مو چاپول نـو د کمپـوز کـار بـه یـې سـوی وي. د رئـیس صـاحب وروځـي راوځېږدې، یوه شیبه یې زنه پـه مټ کـي ونیـول او بیـا یې وویل :
ښه سمه ده، یوه فوټو کاپي به یې درکړو
_ نه فوټو کاپي یې نه غواړمه، که اصل یـې راکـړئ ښـه به وي.
_ اصل یې څه کوې؟ هغه خو موږ تدریسوو.
_ ځکـه زه چـي هـر وخـت دا لیکچـر نوټونـه ویـنم نـو د خپلي محصلـې وختونه رایادېږي او بـل داچـي دا زمـا د خدای بخښلو استادانو د لاسو نښي هم دي.
_ نـو کـه درځخـه ورک سـول زمـوږ خـو بـه کـور پـر چرګـه رابار کړې، بیا د چا په وسه پوره ده چي نوي لیکچر

ketabton.com - The Digital Library



نوټونه ولیکي؟
_ صاحب تاسي بېغمه اوسئ، نه راځخه ورکېږي.
د رئیس په تندي کي ناڅاپه ګونځي پیدا سوې، له ځوکې ځخه را جګ سو او په درد یې وویل: ځه ورک سه! ولي یوازي پر تا خپل استادان ګران دي؟ مور هم غواړو چي د خپلو استادانو د لاس نښانې او یادګارونه ولرو؟ زړه مي له ګرومه ډک سو او له پوهنتون ځخه ناهیلی کور ته راروان سوم. کور ته لا نه وم رسېدلی چي یوې رېړۍ (کراچۍ) ته مي پام سو. په رېړۍ کي یو چرګ چي بېچاره له رنګه تک تور اوښتی و، په یوه پښه راځړېده او لاندي د ښوروا یوه لویه کاسه ورته پرته وه. رېړۍ والا به د کاسې له ښوروا ځخه یو ګیلاس ډک کړ او پر چرګ به یې توی کړ. که څه هم چرګ له مودو مودو راهیسي همداسي په یوه پښه راځړېده، خو کله به چي د پاسه نوې ښوروا پر توی سول نو داسي توښ (بخار) به یې پورته سو تاچي ویل دا او س تازه یې له دېګ ځخه را وایست. رېړۍ والا چي به هر وار پر چرګ ښوروا توی کړه نو نارې به یې کړې : (د چرګ تازه ښوروا، ګیلاس په پنځه افغانۍ، وڅښئ دا تازه ښوروا! وا وا قسمت خوره به یې خوري).
له خپل مرحوم پلاره مي اورېدلي ول چي کله مور کوچنیان و او مکتب ته تلو، نو دغه رېړۍ والا به پر دغه ځای یخني خرڅول. چرګ نو خدای دي مي غاړي نه بندوي چي هغه پخوانی او که به بل چرګ وي. د دې چرګ په لیدو مي زمور د کوڅې یو پوډري لعل ګل

ketabton.com - The Digital Library



راپه یاد سو. هغه چي به کله په کوڅه کي یو تازه مردار سوی چرګ پیدا کړ، نو پاک به یې کړ او بیا به یې پر یخني والا خرڅاوه. یو وخت یو چا ورته وویل چي بدبخته په خلکو مردار چرګان خورې؟ ده په خندا ورته وویل : (عجیبه ده، یو چرګ چي د انسان په لاس مړ سي، هغه حلال دی او بل چرګ چي خدای پاک په خپله وژلی وي، هغه مردار دی. زه خو وایم چي تر دې بل حلال چرګ نسته). ما ویل خدای خبر چي دا به څنګه چرګ وي. خو په هر حال دا چرګ اوس د افغانستان په تاریخي اثارو کي ګڼل کېده. ما ویل که نور اثار په لاس نه درځي، ونیسه دا چرګ خو رانیولای سې.

رېړۍ والا ته چي مي د چرګ وویل نو هغه نټه (انکار) وکړ، ویل مور یوازي د چرګ نسوروا خرڅوو، ولاړ سه بل ځای چرګ رانیسه. لکه زما په مطلب چي پوهېدلی وي، ویل ځه وروره چرګ بیخي نه خرڅوم. ما اورېدلي ول چي تاریخي اثار زرګونه ډالره بیه لري، بس څو زرونه مي یو کړل او له رېړۍ والا څخه مي چرګ د غوایي په بیه رانیو، په یوه پلاستیکي کڅوړه کي مي واچاوه او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت خواته روان سوم. پر لاري ډېر تری سوم، یوه دکان ته ودرېدم، کڅوړه مي څنګ ته کښېښوده او دکاندار ته مي وویل چي یو بوتل اوبه راکړه. په دې وخت کي ګورم چي یو کوڅه ډب سپی راغی او چرګ یې له کڅوړي سره یوور. په سپي پسي چي مي هرڅومره منډي وکړې په لاس رانه غی.

ketabton.com - The Digital Library



## تشنابونه او د ښوروا بویونه

زمږ شعبه د تشناب څنګ ته وه، هر همکار چې به تشناب ته ورتېرېده، نو یو وار به یې مږ ته د سترګو تر کونجو وکتل، کله چې به مو ورته پام نه و، نو غلی به ننووت او که به مو ورته پام سو، نو سلام به یې راواچاوه. کله چې به د تشناب دروازه بنده وه، نو شعبې ته به راغی او زمږ سره به یې ځان په خبرو بوخت کړ. کله چې به یې د تشناب د دروازې کړپ واورېد، نو سمدلاسه به ولاړ سو او مږ ته به یې وویل : ښه نور مو وخت نه نیسم، بس یوازي ستاسي احترام ته راغلم.

لومړی مږ ته ددغو همکارانو خبري ستړي کوونکي وې او هسې به مو سر ورسره ښوراوه خو ځینو همکارانو به داسې په زړه پوري کیسې کولې چې سوکه سوکه مږ هم ورسره عادت سولو، تر دې

ketabton.com - The Digital Library



وروسته به مور خپله د تشناب خواته سترګي نیولي وې چي که کوم څوک ووینو چي بانډار ورسره وکړو. کله چي به مو سهار له کوم همکار سره سترې مسې نه وه کړې نو پر همدغه وخت به مو راونیو او په غېږ کي به مو داسي کلک ونیو، لکه په کلونو کلونو چي مو نه وي سره لیدلي.

کله چي به یوه همکار نوي کالي اغوستي ول، نو مور ته به یوه نوې موضوع وه، هغه بېچاره که به څه هم پښې سره مښلې او پرنس به یې لاس تېراوه خو ناچاره و چي مور ته دخپلو نویو کالیو په باب پوره معلومات راکړي. د ورځي مو اته ساعته کار کاوه چي څلور ساعته به یې د تشناب له لارویانو سره په سترې مسې کي تېرېدل. تشناب یوه کړکۍ هم درلوده چي یوه کورته ورخلاصه وه.

یوه ورځ د نوموړي کور خاوند راغی ویل، ستاسي د تشناب بدبویۍ مور ډېر تنګ کړي یو. د شعبې چپراسي رمضان اکا مي راوغوښت او ورته ومي ویل چي دا تشناب ولي داسي بد بوی کوي، نه یې مینځې که څنګه؟ هغه وویل چي قسم په خدای هر سهار یې مینځم، خو خیر تر دې وروسته به یې په ورځ کي دوه ځله مینځم. تر دې وروسته رښتیا هم د تشناب بد بویي یو مخ ورکه سوه.

یوه ورځ مي د ښوروا بوی تر سزمو سو، ښه چي ځیر سوم نو بوی له تشناب څخه راته، کله چي ورغلم نو ګورم چي په تشناب کي غور لوښي پراته دي. رمضان اکا ته مي وویل چي دا غور لوښي دلته د څه لپاره

ketabton.com - The Digital Library



پراته دي؟ هغه وویل چي په اشپزخانه کي اوبه نه وې، ما ویل غوږ لونۍ به دلته پرېمینځم، نښایي دغوږو لونښو بوی به وي.
بله ورځ زموږ یوه همکار راته وویل چي له تشناب څخه د اچارو بوی راځي، کله چي ورغلم نو د اچارو یو مرتبان مي پیداکړ چي سر یې خلاص و. ما ویل له یو چا څخه به پاته سوی وي. بله ورځ غرمه چي تشناب ته ورغلم نو د پېرکیو بوی مي تر سزمو سو، رمضان اکا ته مي وویل چي دا څه کیسه ده؟ هغه وویل چي د ګاونډیانو کره پېرکي پخېږي او تر کړکۍ یې بوی زموږ تشناب ته راځي.
تر دې وروسته به هره ورځ له تشناب څخه د ډول ډول خوږو او مېوو بوی راته، چي ورسره د تشناب د مراجعینو شمېر هم ډېرېده. اوس نو تشناب داسي یو ځای و چي کله به ورغلې او دا بویونه به دربانديي ولګېدل نو داسي فکر دي نه کاوه چي دادي تشناب وي، تاچي ویل د کابل د (نښار نو) د کبابیانو په کوڅه کي یم، دسړي هیڅ زړه نه غونښت چي بیرته دي ځني راووزي. یوازي دغه یو تشناب نه و چي د نښوروا بویونه ځني پورته کېدل، بلکي د دفتر د ټولو تشنابونو دغه حال و.
یوه ورځ مي د تشناب له دننه څخه د څو نفرو خبري واورېدلې، حیران سوم چي دا څه خبره ده؟ تر دې مخکي مي نښځي لیدلي وې چي په ډله ییز ډول تشناب ته ورځي او ان داچي هلته کیسې هم کوي خو په ډله ییز ډول د نارینه وو ورتګ راته نوې خبره ول.

ketabton.com - The Digital Library



تشناب ته نژدې یو ځای ورته پټ سوم چـي دا ښـاغلي مـراجعین وپـژنم. کلـه چـي د تشـناب دروازه خلاصـه سوه نو ګورم چي څلور نفره شپږبرېتي ځوانان راووتل، په خندا مي ورته وویل چي یارانو خیریت و؟ دوی ویـل نن تشناب ته اوبه نه راتلې مور ویل و به یې ګورو چي څه علت لري؟ زه چي تشناب ته ورغلم نو ګورم چي د تشناب پایپونه بیخي جوړ دي.

وایي چي د مسکین بخت یو ګړی وي، زمـور دغـه ښـې ورځـي هـم اوږدې نـه سـوې، یـوه میاشـت وروسـته بیـا تشـناب هغسـي بـد بـوی کـاوه، رمضـان اکـا مـي راوغوښـت، ورتـه ومـي ویـل چـي دا تشـناب بیـا ولـي داسي بـدبوی کـوي، لکه چـي سـم یـې نـه مینځـې کـه څنګه؟

_ نه قسم په خدای چي د ورځي یې دوه واړه مینځم.

_ نـو دا یـوه میاشـت خـو دي هـم هـره ورځ دوه ځلـه پرېمنځه، هغه مهال یې ولي داسي بد بوی نه کاوه؟

_ صـاحب هغـه وخـت خـو دورځـي څـو واړه پرېمنځـل کېده. دوه ځله به ما پرېمنځه او شپږ اووه ځله به نـورو همکارانو پرېمنځه.

_ نو دا همکاران چي پـر تـا دومـره زړه سـوی لـري اوس یې ولي نه مینځي؟

_ صاحب هغه خو ټول د روژې برکـت و، اوس خـو روژه تېره سوه، هغوی اوس په تشناب کي ډوډۍ نه خوري، بلکي د ډوډۍ خوني ته ځي.

ketabton.com - The Digital Library



# نازوکړی شاعر

په یوه راډیو کي د ادبي خپروني پروډیوسر وم. یوه ورځ زموږ ایډیټر راغی او یوه نوې چاپ سوې شعري مجموعه یې راکړه، ویل د دې کتاب په باب په خپرونه کي یو ګردی مېز جوړ کړه، ځوان شاعر دی ښه دی تشویق به سي.

ما چي د کتاب پر پښتی د شاعر ژوندلیک ولوست نو عمر یې (٦٠) کاله و، دا چي په اصطلاح ځوان شاعر د ایډیټر شخصي انډیوال و، نو زه هم مجبوره وم چي هغه په خپرونه کي د ځوان شاعر په نوم معرفي کړم. تر خپروني وروسته څو نفرو ټلیفونونه راته وکړل، ویل دا خو زوړ سړی دی او تاسي د ځوان شاعر په نوم معرفي کړ، ما ورته وویل چي یو خو یې شعرونه د ځوانۍ د زمانې دي او بل نو داسي باغي او مسته

ketabton.com - The Digital Library



شاعري یې کړې ده چي ځوانان یې په ځپلې پسي هم نه سي رسېدای.
د بلـي اوونـۍ د خپرونـي لپـاره زمـوږ ایـډیټر یـوه بلـه شـعري مجموعـه راوړل، ویـل دا کتـاب پـه خپرونـه کـي معرفـي کـړه، ځـوان شـاعر دی دایـې لـومړۍ شـعري مجموعـه ده، ښـه دی و بـه هڅـول سـي. د کتـاب پـر پښتۍ چي مي د شاعر ژوندلیک ته وکتل نو عمـر یـې اتلس کاله و. حیران سوم چي (٦٠) کلن شـاعر خـو مـي په ځوان معرفي کړ اوس دا شاعر په کوم نـوم معرفـي کـړم؟ تـر ډیـر چـورت وهلـو وروسـته مـي پـه زړه کـي راوګرځېده چي دې شاعر ته نازوکړی شاعر ووایم.

ketabton.com - The Digital Library



## د پوهاند صاحب غابنې څنګه ووت؟

بلې!

_ پوهاند صاحب زه فرید خبري کوم، هلځ ژر له کوره راووزئ چي زلزله کېږي

_څه شی زلزله کېږي! چاویل؟

_ ایساف اعلان کړی دی، ژر راووزئ چي وخت ډېر کم دی.

پوهاند صاحب د موبایل له بندولو سره سم خپلي مېرمني فاطمې ته چي د ده څنګ ته ناسته وه او کالي یې اوتو کول وویل : هله فاطمه جاني درمنډه کړه چي زلزله کېږي! له دې سره سم پوهاند صاحب دوې پښې دغه، دوې یې نوري پور کړې او د کور پر دروازه یې ور منډه کړه، کله چي دالېز ته راووت نو چیغه یې کړه : هلځ زلزله کېږي! له دې سره سم یې

ketabton.com - The Digital Library



په زینو کي منډه کړه خو دوې درې زینې لا نه و کښته سوی چې نوک یې ووا‌هه او مخ پر کښته پرمخي ولوېد، چې د مخ یو غاښ یې ووت، خو د زلزلې له ډاره یې د غاښ وتلو ته پام نه سو او ډېر ژر بیرته راپورته سو او په منډه په زینو کي کښته سو. کله چې له بلاک څخه یو شل ګامه لیري سو نو په لوړ اواز یې ناري کړې : فاطمه جاني څه سوې؟ هله ژر راووزه! اې خلکو ژر راووزئ چې زلزله کېږي! په دې وخت کي فاطمه هم په منډه راوره سېده، ورپسې نور ګاونډیان هم راکښته سول. په لږ وخت کي د بلاک ټول خلک دباندي راووتل، چا بړستنه پر سر را اخیستې، چا یو بکس او چا بیا صندلي را اخیستې وه، د وارخطایی کار و، د چا چي هر شی لاس ته ورغلی و بس هغه یې را اخیستی و. هوا ډېره سړه وه او پر ځمکه یوه لوښت واوره پرته وه. د تلواري کار و، پوهاند صاحب د فاطمې توره لمن چي تازه یې اوتو کړې ول پر سر ټینګه تړلې وه.

پنځه دقیقې لا نه وې تېري سوي چې د شاوخوا بلاکونو خلک هم راکښته سول. داسي غالمغال جوړ سو لکه د مینا بچي چي له ځالي را اخلې. یوه بوډی ښځه چي سا یې لنډه لنډه کېده، له یوه درانده بکس سره راورسېده، پر زړه یې لاس نیولی او یوې بلې ښځي ته یې وویل : وی خوري که زلزله وسوه زما خوبه زاره وچوي، دا اوس مي هم د زړه درزا په خپلو غوږو اورم. یوه بله بوډی ښځه چي له یخنی څخه یې لاسونه لړزېدله د موبایل نومره ووهله :

ketabton.com - The Digital Library



بلې!
_ ملالی لوري هله ژر له کوره راووزه چي زلزله کېږي.
_ څه شی زلزله کېږي! چا ویل؟
_ نه یمه خبره خو زمور د بلاکونو ټول خلک راوتلي دي
_ موري دا به درواغ وي
_ درواغ به څنګه وي، زمور د بلاکونو ټول خلک راوتلي دي، نور یې څه کوې چي پوهاند صاحب هم راوتلی دی، پوهاند صاحب خو به نه تېروزي
_ زلزله څه مهال کېږي؟
_ بس نن شپه کېږي، ډېري پوښتني مه کوه ژر راووزه! یو سړی چي مدیر اسلم خان نومېده او یخنی ږېرداوه، پوهاند صاحب ته ورنژدې سو او ویې ویل :
پوهاند صاحب تاسي خو ډېر معلومات لرئ او تل خبرونه هم اورئ، دا چا ویل چي نن شپه زلزله کېږي؟
_ ایساف اعلان کړی دی.
_ نېنه ایساف اعلان کړی دی، نو زمور دولت خو تر اوسه په دې باب هیڅ هم نه دي ویلي
_ زمور دولت بېچاره د فیل په غور کي ویده دی، خو زه د ایساف تر اعلان پنځه دقیقې وروسته دستي خبر سوم، زه فکر کوم چي دولت به تر اوسه هم نه وي خبر.
_ نو ایساف څنګه خبرېږي چي نن شپه زلزله کېږي؟
_ ایساف خو پر مختللې ټیکنالوژي لري، بیا نو په ایساف کي هغه هېوادونه هم شامل دي چي هلته ډېري زلزلې کېږي، لکه ترکیه، امریکا او... هغوی په دې باب ډېري ښې تجربې او پرمختللي وسایل لري.
_ نو د دغو هیوادونو حکومتونه چي د زلزلې په باب

ketabton.com - The Digital Library



دومره پرمخ تللي وسایل لري، ولي تر زلزلې د مخه نه خبرېږي چي خلک خبر سي او دتلفاتو مخه ونیول سي؟ _ دا حکومتونه تر زلزلې دمخه خبرېږي او اعلانونه هم کوي خو ټول خلک یې نه ورسره مني، لکه زمور خلک چي وایي په دې نو ایساف څه خبر دی.

یو سړی چي زلمی نومېده او یو کوچنی یې په غېرکي نیولی او خپله کورتۍ یې پر غوړولې وه، وویل : خدای دي فضل وکړي، دا به څه کوو؟ ته دې خلکو ته وګوره له اکثرو سره یې نه برستنه سته او نه کمپله، یوازي په هاخپلو دریشیو کي راوتلي دي، که په دې سړه هوا کي تر سهاره پاته سو نو یخني به مو مړه کړي، مور خو لاخیر دا کوچنیان به څه په کوو؟ یو سړی چي خندا ورته او پرخوله یې لاس نیولی و، زلمي ته ورنژدې سو او په غور کي یې ورته وویل : مدیر صاحب بخښنه غواړم، بده خبره هم ده چي درته وایم، داپطلون دي ماته داسي ښکاري لکه چپه چي دي اغوستی وي.

هیچا زړه نه سوای کولای چي کور ته ولاړ سي، کله چي به چا له ځایه حرکت کاوه نو داسي به په تکلیف و تا چي ویل په خټو کي خېژي. فاطمې پوهاند صاحب ته وویل چي زه به په منډه یو ځل کورته ولاړه سم، پیسې او خپل زر به راواخلم. پوهاند صاحب یې غور ته خوله ورنژدې کړه او په ناز یې ورته وویل : ګراني ماته ستا ژوند زمور تر ټولي شتمنۍ مهم دی، ماته نه ګورې چي خپل د ډوکټورا بری لیک، مډالونه، کتابونه او لیکچرنوټونه مي ټوله پرېښوول او یوازي مي خپل سر را وایست، خو ته په پیسو پسي ځان په لوی لاس د بلا

ketabton.com - The Digital Library



په خوله کي ورکوې؟ مور خو لږ پیسې نه لرو چې ته داسي وارخطایې، خو فاطمې پر خپله خبره ټینګار کاوه، ویل خیردی ژر بیرته راځم. فاطمه چې کورته روانه سوه نو پوهاند صاحب هم د شا له خوا په نیولو ګامونو ورپسې روان سو خو ښه یې داسي الوتې وه تاچې ویل ځانمرګی برید کوي. کله چې به یې څلور پنځه ګامه واخیستل نو و به ودرېد، فاطمې ته به یې مخ راواړاوه، ویل ګراني ته ودرېره لکه چې زلزله شروع سوه. کله چې کور ته ورسېدل نو لومړی سالون ته ورننوتل، ګوري تلویزیون لا هماغسي چالان دی. دوی چې تلوېزیون ته وکتل نو په دې وخت کي د تلوېزیون له لارې دا اعلان خپور سو : هغه کابل ښاریان چې د زلزلې له ډاره یې خپل کورونه پرې ایښي، بیرته دي خپلو کورونو ته راستانه سي، ځکه دغه اوازه په بشپړ ډول ناسمه او د یوې ډلي حرفوي غلو دسیسه ده. د دې دسیسې په نتیجه کي غلو څو کورونه لوټ کړي، خو له نېکه مرغه چې پولیس په دغه دسیسه خبر او د دې ډلي دوه تنه غله یې نیولي دي. دې غلو اقرار کړی چې دا کار یې د دې لپاره کړی چې خلک خپل کورونه پرېږدي او دوی په اسانۍ سره د خلکو کورونه لوټ کړي. د دې اعلان په اورېدو سره فاطمې په وارخطایۍ د الماړۍ خواته ورمنډه کړه، ګوري چې د الماړۍ دروازه خلاصه ده، په الماړۍ کي چې یې وکتل نو یوه لویه چیغه یې تر خوله ووته : هله پوهاند صاحب راسه چې خاوري مې پر سر سوې! غلو ټولي پیسې او زر وړي دي.

ketabton.com - The Digital Library



## بیا به بله ورځ درته ووایم

زمور د دفتر په ټولو ښځینه همکارانو کي مژګان په خپلو وېښتانو ډېره نازېده. دا نوره هم ښکلې وه او هغه د چا خبره سترګه په ډکېده خو د هغې اوږدو او ژیړو وېښتانو ډېر ژر د سړي پام ځان ته ور اړاوه. دې به نه یوازي دا چې د خپلو همزولو په مخکې خپل وېښتان یوې او بلي خوا ته څنډل، بلکي کله نا کله به د نارینه وو په مخکي هم په داسي ناز و نخرو تېرېده چې غوږېدلي وېښتان به یې تر پوړني راوتلي او تر زنګنو به تېر ول.

کله چې به د وېښتانو خبره کېده، نو د دې نوم به یې په سر کي یادېده. ددفتر هري ښځي چې به غوښتل د مژګان وېښتان له نژدې ووینې نو هغې به بخیلي کوله او اجازه به یې نه ورکوله چې د هغې وېښتان دي له نژدې وګوري، ان دا چې د خپلو وېښتانو د پالني او ساتني په باب به یې هم چاته معلومات نه ورکول. کله چې به له هغې څخه چا د وېښتانو په باره کي پوښتنه وکړه نو دې به کله ویل چې زما مور او ټولي

ketabton.com - The Digital Library



خویندي دغسي ښه وېښتان لري او کله به یې ویل چې بیا به بله ورځ درته ووایم. زمور د دفتر ټولو ښځو غوښتل چې د مژګان وېښتان له نژدې وویني او په دې راز پوه سي چې د هغې وېښتان ولي دومره ښکلي او اوږده دي؟

یوه ورځ مژګان دفتر ته ناوخته راغله. سر یې په پورني کلک ټرلی او ښه یې هم الوتې وه. له دې سره سم زمور د دفتر ښځي پر راټولي سوې، ویل خدای دي یې خیر کړي څه پېښه ده؟ مژګان ویل هیڅ هم نه ده پېښه، یوازي مي سر لږ درد کوي. په دې وخت کي زمور د سهارنۍ غونډې وخت راغی او مور ټول د غونډې تالار ته ولاړو. غونډه لا نه وه پیل سوې چې زمور د دفتر چپړاسي ګل خان لالا یو مصنوعي چوټي راوړ، ویل دا دچادی؟ ما چې نن سهار د دفتر دالېزونه جارو کول پیدا مي کړ. په دې وخت کي مور ټولو یو وار د مژګان وېښتانو او بیا د ګل خان لالا په لاس کي چوټي ته وکتل.

په زړه کي مي راوګرځېده چې یاره ژوند هم په سړي عجیبه کانې کوي، هغه چوټي چې تر پرونه پوري یې ډېرو نجونو او هلکانو د نژدې لیدلو ارمان درلود، نن د ګل خان لالا په لاس کي دی.

ketabton.com - The Digital Library



## اوس اصلي خبري ته راځم

د دوبي په ټکنده غرمه کي مي درنه غوټه په شا او د کور خواته روان وم. کور ته نژدې زمور یو کلیوال، سالو اکا راباندي پېښ سو. زما په لیدو یې رامنډه کړه او په غېږ کي یې ټینګ ونیولم، ویل زوروره دا څو ورځي نه ښکارېدې او زما د زوی په واده کي هم نه وې، خیریت و؟ ما ویل هو خیریت و د یو دریو ورځو لپاره کابل ته تللی وم. ښه خیر، مبارک دي وي، د زوی واده دي په خیر تېر سو؟ دا پوښتنه به نو څه وه چي ځان مي په لوی لاس په جنجال اخته کړ. سالو اکا له خوشالیه باغ باغ سو او راته ویې ویل چي تابه هم ډېر ودونه لیدلي وي خو زما د زوی عجیبه واده و، یوه عجیبه خبره پکښي پېښه سوه. که خبر سې نو له حیرانتیا به دي خوله وازه پاته سي. ما ویل خدای دي خیر کړي، څه

ketabton.com - The Digital Library



خبره پکښې پېښه سوه؟ له دې سره سم سالو اکا د خپل زوی د واده کیسه بیخي له مرکې څخه راته شروع کړه.

کیسه ښه اوږده سوه، ما غوټه پر له پسې له یوې اوږې څخه بلي ته اړوله خو د سالو اکا کیسه نه خلاصېده. اخر مي ورته وویل چي ستا کیسه ډېره په زړه پوري ده، هغه اصلي خبره چي تا ویل ډېره عجیبه وه، هغه راته وکړه، اوس مي غوټه ډېره درنه ده، نوره کیسه به بیا بله ورځ له خیره سره راته وکړې. سالو اکا وخندل، ویل ته ودرېږه زوروره دا دی اوس اصلي خبري ته راځم. تر نیم ساعت پوري یې بیا هم نه هغه خبره راته وکړه او نه د واده کیسه خلاصه سوه.

زما بېچاره دا خواري په پیځکه وه چي یو مي غوټه ډېره درنه وه او بل نو ستړی هم وم، په ټېره بیا پښې مي ډېري وچي سوي وې. سالو اکا ته مي وویل چي زه اوس ډېر ستړی یم، هغه عجیبه خبره ژر راته وکړه، ماپښین به له خیره سره نوري خبري کوو. ده ویل ته ودرېږه زوروره اوس اصلي خبري ته راځم، تر اوسه خو مي یوازي د مرکې کیسه درته کوله. تر دې وروسته یې بیا خپله کیسه پسې وغځوله. په دې وخت کي مي داسي احساس کړه چي کمیس مي د شا له خوا ټول لوند سوی دی، کله چي مي غوټي ته لاس ور وړ نو پوه سوم چي په هغه کي ټوله واوره (یخی) ویلي سوی دی.

سالو اکا ته مي وویل چي ډېر ستړی یم او ډوډۍ مي هم نه ده خوړلې، زما ستا سره وعده ده چي ماپښین

ketabton.com - The Digital Library



زه خپله ستا کورته درځم، ټوله کیسه به راته وکړې.
سالو اکا په خندا وویل چې زوروره، زه چې ستا غوندې ځوان وم په ستړیا او لوړه کې مې ګردسره چورت هم نه واهه، ته ودرېږه اوس اصلي خبرې ته راځم.
له سره تر نوکانو پورې په خولو کې لوند خیشت سوم، پر سترګو مې تیاره راتله، نور نو په ولاړې نه سوای درېدای، اخر مجبوره سوم چې کښېنم. زما له کښېناستو سره سم سالو اکا له جېبه د نسوارو دبلی (قطی) را وایست، ښه غټه کپه نسوار یې خولې ته واچوله او خپلې کیسې ته یې دوام پسې ورکړ. نور په ځان نه پوهېدم چې سالو اکا څه راته وایي، بس یوازې مې ښه، ښه، ورته ویل. سالو اکا یو څو ګامه ګونښه سو ویل ته لږ صبر وکړه زه به دا نسوار تو (توف) کړم، ته مه ځه چې اوس اصلي خبرې ته رارسېدلی یم.
سالو اکا چې مخ بلې خواته وګرځاوه، نو ما وخت غنیمت وګاڼه، دوې پښې مې خپلې وې، دوې مې نورې پور کړې او په یوه منډه مې ځان کور ته ورساوه.

ketabton.com - The Digital Library



## ما پوهنتون نه دی ویلی

په یوه مجلس کي یو ځوانکی ناست و چي ټولو ډاکټر صاحب ورته ویل، څنګ ته ناست ملګري یې ورته وویل چي ډاکټر صاحب زه دا څوکاله کېږي چي قبضیت لرم. ده هم بې له دې چي لږ تر لږه د ناروغ پر ګېډه لاس راټېر کړي له جبه یې کتابچه را وایسته او هغه ته یې یو ډول څاڅکي او دوه ډوله شربت ور ولیکل.

تر دې وروسته ناروغ مور ته مخ راواړاوه، ویل دا ډېر ښه ډاکټر دی، زده کړي یې په امریکا کي کړي دي. له دې سره سم لکه موټر چي ټکر سي چا پر نس، چا پر سر، چا پر تشي او چا پر ملا لاسونه ونیول، هر یوه ویل چي ډاکټر صاحب زه هم چندان جور نه یم. ډاکټر صاحب هم چاته (نې) نه ویل، ټولو ته یې ښه په ورین تندي نسخې ور ولیکلې چي ماته یې هم د اعصابو د

ketabton.com - The Digital Library



ارامېدو لپاره دوه ډوله شربت را ولیکل. په مجلس کي یو سړی چي خلکو انجنیر صاحب ورته ویل، له ډاکټر څخه وپوښتل چي وبخښئ تاسي د امریکا کوم پوهنتون ویلی دی؟ ډاکټر ورته وویل چي ما اصلاً پوهنتون نه دی ویل، بلکي په پښور کي مي د لومړنیو مرستو درې میاشتنی کورس ویلی دی. دا چي په کورس کي مو استادان امریکایان ول نو زه وایم چي په امریکا کي مي درس ویلی دی.

سهار مي د نومورې ډاکټر شربت وښښل چي سمدلاسه مي سر ورسره درواند سو، ایله دومره مي وکړه چي ځان مي د خوب بستر ته ورساوه. ما چي ویل یوه سترګه به مي لا نه وي خوړه کړې خو مور مي راغله ویل زویه کښېنه د غرمې د ډوډۍ وخت دی. غوښتل مي سترګي خلاصي کړم خو نه کېده، غوښتل مي راولاړ سم خو چي هر څه مي وکړه نه سوای پورته کېدای، یو عجیبه حالت و، روغ جوړ وم، یوه ځای مي هم درد نه کاوه، د خلکو خبري مي اورېدې، ما هم خبري سمي کولای سوای خو له ځایه نه سوای پورته کېدای. مور ته مي وویل چي زما ډوډۍ خواته نه کېږي. مانښام مي بیا مور راغله ویل زویه کښېنه مانښام دی، ما ورته وویل چي مانښام مي له اندېوالانو سره تر نا وخته باندار کړی دی، بې خوبه سوی یم، پرې مي ږده چي خوب وکړم. سهار مي بیا مور راغله ویل کښېنه، خو زه بیا هم نه سوای پورته کېدای. مور مي ویل ناروغه یې او که چا کوم نشه یي شی درکړی دی؟ ما ورته ویل چي نه بیخي جوړ تیار

ketabton.com - The Digital Library



یم، بس یوازي خوب راځي.
غرمه هم د ولاړو نه وم. ماپښین مي ورور رکشه راوستل او زه یې یوه ډاکټر ته بوتلم. ډاکټر وکتلم او معاینات یې راته ولیکل، د معایناتو په نتیجه کي یې لیکلي ول چي زه ملاریا یم. د ملاریا چي مي واوړېدل نو سمدلاسه مي پر سر نړی درد سو.
ډاکټر ته مي د اعصابو د ارامېدو درمل ورښکاره کړل. هغه چي درمل وکتل نو اسمان ته یې ټوپ وهل، ویل دا دوا کوم احمق درکړې ده؟ما ویل نه یې پېژنم. ډاکټر د ملاریا درمل راکړل ویل له دې درملو سره خامخا ښه کېږې. په لاره کي مي د ملاریا او اعصابو د ارامېدو درمل دواړه ایسته واچول، له هغه مهال راهیسي څو کاله کېږي چي بیا نه یم ناروغه سوی.

ketabton.com - The Digital Library



# زه له ژرندي فارغه سوی یم

دا غونډه هغه افغان ډاکټر رابللې وه چې د لوړ فشار نوی علاج یې موندلی و. په غونډه کې د نړیوالو روغتیایي سازمانونو استازیو، د ملګرو ملتونو د نړیوال روغتیایي سازمان استازي، د افغانستان د عامي روغتیا وزیر، مدني ټولنو استازو، طبي ډاکټرانو، بهرنیو ډیپلوماټانو او ګڼ شمېر خبریالانو برخه درلوده.
د غونډې ویاند وویل : اوس هغه علمي شخصیت ته بلنه ورکوو چې د یوې وژونکي ناروغۍ یو ډېر ساده او موثر علاج یې موندلی دی. دا علمي شخصیت ډاکټر سلطان سوداګر نومېږي، هیله ده چې سټیج ته تشریف راوړي او تاسي یې په ویاړ چکچکي وکړئ.
ډاکټر سوداګر چې تر سټیج پوري د غونډې د برخه والو په تودو چکچکو بدرګه سو ، داسي وویل : تاسي ته معلومه ده چې ډاکټران له پوهنتون څخه فارغه کېږي خو زه له ژرندي څخه فارغه سوی یم. په دې مانا چې

ketabton.com - The Digital Library



زه دېرش کاله پخوا یو ژرنده ګړی وم، خو په کوچنیوالي کي مي په مسجد کي څه ناڅه لیک لوست زده کړی و.

کله چي افغانستان ته روسان راغلل نو ما په پښور کي د لومړنیو مرستو یو شپږ میاشتنی کورس ووایه. څرنګه چي زمور په کلي کي یو څه ارامي وه او خلک یې نه وه کډه سوي نو زه ولاړم هلته مي یو کلینیک جوړ کړ چي پر جنګي ټپیانو سر ببره به مي نسایي او ولادي ناروغان هم تداوي کول. دېر جراحي عملیات مي هم وکړل چي د خدای فضل دی دېری یې بریالي سول، دا چي د چا به اجل پوره و هغه نو د خدای پاک کارونه دي.

په دې وخت کي د مجلس حاضرینو شور او زور جوړ کړ، یوه وویل : بې شکه ! دې ته نو نا بغه وایي، په ژرنده کي هم داسي استعدادونه پیدا کېږي چي د پوهنتون فارغین څه چي استادان یې هم سیالي نه سي ورسره کولای.

ډاکټر سوداګر پسي زیاته کړل : کله چي زه کابل ته راغلم نو تر یو لړ څېړنو وروسته راته معلومه سوه چي په نړۍ کي هر کال په زرګونو خلک د ویني د لوړ فشار له امله مري. ځکه نو زه په دې هڅه کي سوم چي ددې خطرناکي ناروغۍ علاج پیدا کړم، تر دېرو طبي مطالعاتو او څېړنو وروسته بریالی سوم چي د ویني د لوړ فشار یو دېر ساده او موثر علاج پیدا کړم.

ما لومړی د فشار لوړېدو لاملونه وڅېړل. دلته افغاني او بهرني ډاکټران تشریف لري، دوی زما په خبره دېر

ketabton.com - The Digital Library



ښه پوهېږي چې د لوړ فشار یو ستر عامل خفګان دی. ډېر ناروغان چې کابل ته راسي نو د نابلدۍ له امله د اودس مات لپاره مناسب ځای نه سي موندلای. زما کلینک په داسي یوه ځای کي دی چې شا و خوا یې ټول د چای جواب ځایونه دي، ناروغان به ښایي ډېرې اندېښنې ولري خو ما هڅه کړې چې زما ناروغان د اودس ماتي له امله هیڅ اندېښنه و نه لري.

ددې تر څنګ له ناروغ څخه ډېر لوړ فیس اخلم، که بیا یې هم فشار ټیټ نه سو نو ډېره قیمتي دوا ورته لیکم او هغه هم داسي دوا چې زما له شخصي درملتون پرته بل ځای نه پیدا کېږي. ناروغ مجبور دی په ټول ښار کي وګرځي چې ایله هغه درملتون پیدا کړي، له دې کار څخه مي هدف دا دی چې ناروغ پلی وګرځي او ورزش وکړي. که بیا یې هم فشار ټیټ نه سو، نو دا وار ښه ډېر معاینات ورته لیکم او خپل لابراتوار ته یې استوم. لابراتوار مي د یوه رستورانټ څنګ ته دی چې هلته شپه او ورځ د واده محفل وي او د موسیقۍ اواز یې تر ډېر لیرې ځایه پوري اوربدل کېږي. دا کار ددې لپاره کوم چې د ناروغ خفګان لږ کم سي. د لابر اتوار کارکوونکو ته مي ویلي دي چې تر پنځه سوه ( سي سي ) کمه وینه دي نه ځني اخلي . په دې کار کي مي هدف دا وي چې د ناروغ وینه لږ سي، ځکه چې کمخوني د ویني فشار راټیټوي.

په دې وخت کي یوه خبریال وپوښتل : که له دې سره سره یې د ویني فشار ټیټ نه سي بیا څه کوئ؟ ډاکټر سوداګر یې په ځواب کي وویل : بیا یې نو په خپل

ketabton.com - The Digital Library



شخصي روغتون کي بستر کوم. زما د روغتون د کوټې کرایه تر نورو روغتونونو درې برابره لوړه ده، بس نو هر څه یې همداسي درو اخله. که څه هم عملیاتو ته اړتیا نه وي خو زه یې یو ځای ورځیرم، کله چې ناروغ رخصتېږي نو زمور د روغتون کارکوونکي ښه درنه شیریني ځني اخلي، دا شیریني داسي حتمي ده لکه زما فیس. ناروغ ته وایم چي باید څو واره نور هم راسي او که را نه سي نو تر دې به په ډېرو خطرناکو ناروغیو اخته سي . ناروغ مجبور دی چې په هر پړاو کي هم دغومره ډېري منډي وکړي او هم دغومره ډېري پیسې ولګوي.

یوه بل خبریال وپوښتل : په دې ډول خو ناروغ ته یوازي د پیسو تاوان رسېږي نو د پیسو د تاوان یې د ویني له فشار سره څه ؟ ډاکټر سوداګر په خندا وویل : دپیسو تاوان د ویني له فشار سره مستقیمي اړیکي لري. کله چې انسان ډېر مایعات ضایع کړي نو فشار یې ټیټېږي، لکه خواګرځی، نس ناستی او خولې کول. کله چې یو څوک ډېر ناڅاپه د پیسو تاوان وویني نو خولې وربانديي راماتي سي، کله چې یو څوک بېوزله سي نو د موټر کرایه به نه لري، بیا نو مجبوره دی زیات پلی وګرځي او د روزی پیدا کولو لپاره درانه کارونه وکړي چې په دې ډول یې هم د وجود غوړ ویلي کېږي او هم زیاته خوله کوي. د انسان د وجود مایعات د ویني په فشار کي مهم رول لري. کله چې د انسان د وجود مایعات کم سول نو فشار یې خامخا ټیټېږي. یو بېوزله سړی نه د علاج وس لري او نه یې په قوي خوړو

ketabton.com - The Digital Library



وس رسېږي، نو هغه دی چې د وجود مقاومت یې سوکه سوکه کمېږي او ناروغ په داسي ناروغیو اخته کېږي چې له امله یې وجود اوبه ضایع کوي. د انسان د وجود اوبه معمولاً د نس ناستي، خواګرځي او خولو له لاري ضایع کېږي چې ددې هدف لاس ته راوړلو لپاره لازمه ده ناروغ په نس ناستي، ملاریا، لویي تبي، بروسلوز او یا بلي داسي ناروغۍ اخته سي چې لوړه تبه لري.

ما د درملني په هر پړاو کي دې ټکي ته پام کړی چې ناروغ باید مایعات ضایع کړي، مثلاً زه یوازي په اوړي کي ناروغان ګورم، په ژمي کي په اروپا کي اوسم. زما په کلینک، روغتون، درملتون او لابراتوار کي نه بادپکه او نه هم ایرکنډېشن سته، که تاسي زما ناروغان ددرملني په جریان کي ووینئ نو له سره تر نوکانو پوري په خولو کي ډوب وي.

یوه بل خبریال وپوښتل : فکر نه کوئ چې ناروغ دیوې ناروغۍ د درملني پر ځای په یوې بلي ناروغۍ اخته کوئ؟ ډاکټر سوداګر وویل : دا خبره سمه ده چې ناروغ د یو څه مهال لپاره په یوې بلي ناروغۍ اخته کېږي خو ددې علاج په نتیجه کي له ټولني څخه د ډېرو خطرناکو ناروغیو ټغر ټولېږي . مثلاً زمور په ټولنه کي داسي یو دود دی چې یو یې ګټي او شل یې څټي، د ډوډۍ په پیدا کولو کي د کور مشر ډېر رول لري، نو که د کور مشر د خوارځواکۍ او بېوزلۍ له امله له کاره ولوېږي ښکاره خبره ده چې هم به دی خپله او هم به یې اولادونه سخت کارونه کوي. ددې ترڅنګ به یې په

ketabton.com - The Digital Library



غونښو، وریجو، خوړو او غوړو خوړو وس نه رسېږي. هغه دی چې په نتیجه کې یې د کور ټول غړي له هغو ناروغیو څخه خوندي کېږي چې شتمن خلک په اخته کېږي، لکه د وینې لوړ فشار، د زړه حمله ، شکره او داسي نور . بله خبره دا ده چې زه هیڅکله لاس تر زنه نه یم کښېناستلی، بلکي تل په دې هڅه کي یم چې د نورو ناروغیو، په تېره بیا ټیټ فشار علاج هم کشف کړم، خو زه فکر نه کوم چې دومره اوږد ژوند به ولرم. زما د علاج په نتیجه کې به د ډېرو ناروغانو د وینې فشار ټیټ او اوږد ژوند به ولري خو له بده مرغه زما فشار به لوړ سي. د خلکو د خدمت له امله مې هیڅ پام نسته چې زه خپله ورځ په ورځ چاغېږم. تاسي ته معلومه ده چې نن ورځ له ډېرو پیسو سره خامخا ژور خفګان ملګری دی، نو کله چې خپل چاغوالي او خفګان ته ګورم داسي فکر کوم چې د وینې فشار به مې خامخا لوړ سي، خو زه ویاړم چې خپل ژوند مې د ولس لپاره وقف کړی او په دې لار کې مرم.

ketabton.com - The Digital Library



# مست بوډا

د لونګ اکا عمر تر شپېتو کالو اوښتی و، خو په ږیره کي یې ایله یو څو سپین وېښتان پیدا سوي ول. له کومي ورځي راهیسي چي هغه کونډ سوی و، نو په ځان به یې لږ ګوتي وهلې، له ږیري څخه به یې سپین تارونه کښل، ږیره به یې هم لږ کونډی کوله او پلاستیکي غاښونه خو یې پخوا لا ایښي ول.

څه مهال چي د لونګ اکا مور، شرنګي توری د لونګ اکا دسمال راوړ، نو هغه داسي بې واره وخندل چي د پلاستیکي غاښونو پورتنۍ ژامه یې را جلا سوه او نژدې ول چي پر ځمکه را ولوېږي.

تر کوژدې وروسته به لونګ اکا د کلي خلکو پر غوږ واهه چي کوژدنه ( نامزاده) نجلۍ یې د لور پر ځای څه، چي بېخي یې د لمسۍ پر ځای ده. بیا به نو ده په

ketabton.com - The Digital Library



ځان نوره هم ګوته وهله، اوتو کړي کالي به یې اغوستل او کله کله به یې عطر هم وهل. کله چې د واده شپې رانژدې سوې نو لونګ اکا نسوار هم پرېښودل او سګرټ یې پیل کړل، ویل ورک یې کړه نسوار ډېر مردار عمل دی. په اوونۍ دوو کي به ښار ته تلئ او وښتان به یې په نایي جوړول. برېتونه خو به یې په هرو دوو درو ورځو کي داسي پاک خریل تا چې ویل شکولي یې دي. تر دې وروسته به ځینو ځوانانو په غیاب کي لونګ اکا مست بودا باله.

د واده په شپه ښځو ویل هلک راولئ چې ائینه مصحف په وکړو. د لونګ اکا مور، شرنګي توړۍ ځان یوې او بلي خواته کاوه، خو د لونګ اکا خوابني په سرو اوښکو ژړل، ویل ولي زما لور تر چا پاته ده، یوازي یې دغه ګناه ده چې پلار نه لري؟ اخر شرنګه توړۍ هم ناچاره سوه چې لونګ اکا راولي.

یوې نجلۍ ناره کړه، ویل هغه دی زوم یې راوست. نجوني یوې او بلي خواته سره ګوښه سولې. لونګ اکا خپلو دوو ځوانانو زامنو تر څنګو نیولی او آئینه مصحف ته یې راوست. په دې وخت کي په ښځو کړکچو (شور) ګډ سو. په تېره بیا نجونو ډېر په زوره زوره خندل، یوې ویل، وې دغه زوم دی؟ د لونګ اکا په باب د ښځو خبرو وار په وار زور اخیست. شرنګه توړۍ له درده ولاړه سوه او نجونو ته یې وویل: ورکي سئ! تاسي زما په زوی ملنډي وهئ، تاسي که ښه یاست دغه سپین ږیرۍ مېړه پیداکړئ. د شرنګي توړۍ په خبرو نجوني بیا هم غلي نه سوې او ائینه مصحف پیل سو.

ketabton.com - The Digital Library



تر ائینه مصحف وروسته چي لونګ اکا ولاړېده، نو لکه د الـوتکي ټایرونـه چـي نـه ایلـه کېـږي پښـې یـې نـه غوړېدې او نه سوای ولاړېدای، اخیـر د هغـه یـوه ځـوان زوی په غېږ کي واخیست او د ناوي خوني ته یې بوت. د واده په سهار د چایو خوړلو پر مهال چـي د لونـګ اکا او نـاوي خپلـوان ناسـت ول، شـرنګي تـوړی یـو وار پـه مسکا د لونګ اکا خواته وکتل او بیا یې د ناوي مور تـه وویل: لونګ جان زوی مي که څه هـم تـر نـاوي یـو څـه مشر دی، خو ډېـر ځـوان پاتـه سـوی دی. د ده همزولـي چي ووینې ګردسره پر ملا کـړوپ دي او ږیـري یـې لکـه وړی داسي سـپیني دي، خـو تـه و ده تـه وګـوره لـه بـدو سـترګو دي خونـدي وي، ږیـره یـې تکـه تـوره ده. پـه دې وخت کي ناوي لـه مـخ څخـه شـال لـرې لیـري کـړ او ویـې ویـل : وی مـوري پـه تـوره ږیـره یـې مـه خطـاوزه، ماتـه رامعلوم سو، هیڅ نه دي پکښي پاته.

ketabton.com - The Digital Library



# آنلاین مینه

اجمل چي سهار په دفتر کي خپل ایمیل پاڼه پرانیسته، نو د لیدا په نوم یو ایمیل ورته راغلی و چي سرلیک یې داسي و: اجل جانه ډېر راباندي ګران یې. ددې سرلیک په لیدو اجمل په غاړه کي برګ دسمال سم کړ، په چورت کي ولاړ چي دا به نو څوک وي؟ زه خو داسي ښکلې ځواني نه لرم چي کومه نجلۍ دي راباندي مینه سي، والله که مي په ژوند کي یادېږي چي خپلي مور دي له نازه پر مخ مچ کړی هم یم، خو خیر وایي : زړه چي مین سي ښایست نه غواړي. د اجمل خوله له خوشالیه ویړه سوه، پر شونډو یې ژبه تېره کړه او ایمیل یې پرانیست. نجلۍ داسي ورته لیکلي ول :

ketabton.com - The Digital Library



ګرانه اجمل جانه ! تا ته به ډېره حیرانوونکې وي چې زه څوک یم او ته ولې دومره راباندې ګران یې؟ ځکه چې ما تر اوسه تاته د خپلې مینې په باب څه نه دي ویلي او نه تر هغو ما پېژندلای سې چې زه خپله ځان در و نه ښیم، خو خیر وروسته به زه هم ځان در وپېژنم، پرون مي په یوه واده کي ولیدې، نن چې دفتر ته راغلم نو ته مي له یاده هیڅ نه وتلې، تر ډېرو هڅو وروسته مي ستا ایمیل پته پیدا کړه او دا دی ایمیل مي درواستاوه. نوري خبري به په ټیلیفون کي سره کوو، دا زما د موبایل شمېره ده، پام دي وي چې زه او ته یوازي د شپې له لسو تر دوولسو بجو خبري سره کولای سو، خو ګوره تر څو چې ما خپله زنګ نه وي در وهلی ته زنګ مه راوهه.

نن ورځ پر اجمل لکه کال دومره اوږده سوه، هره شیبه به یې ساعت ته کتل خو د ساعت ستن لکه ګردسره چې ولاړه وي، اخیر تر یوه اوږده انتظار وروسته د شپې لس بجې سوې. د اجمل دوی کور کرایي او ډېر تنګ و، دا چې اجمل مجرد و نو نوره هم ورته ګرانه وه چې یو ګونبه ځای دي له لیدا سره په موبایل کي خبري وکړي، اخیر مجبوره سو تشناب ته ولاړ . د اجمل دوی د کور تشناب پخوانی په اصطلاح انالاګ سیسټم و، داسي بد بوی یې کاوه چې د چا پلار لس دقیقې ځان نه سوای ورته ټینګولای، اجمل په تشناب کي لس دقیقې وکتل خو د لیدا زنګ را نه غی، په تشناب کي یې زړه تنګ سو او بیرته را ووت ، خو په زړه کي یې وروګرځېده چې داسي نه وي د لیدا

ketabton.com - The Digital Library



زنګ راسي، بیا به څنګه خبري ورسره کوم؟ په همدې هیله څو واړه تشناب ته ننووت او بیرته به را و وت. په دې وخت کي د اجمل د مور پام سو چي اجمل تشناب ته ځي او راځي، داسي فکر یې وکړ چي د نس تکلیف ورته پیدا سوی دی، سمدلاسه ولاړه سوه چي له بکس څخه سپېرکۍ راوړي، هغې لا سپېرکۍ نه وه راوړې چي اجمل بیا تشناب ته منډه کړه، یو څو دقیقې په تشناب کي ناست و خو بیا هم د لیدا درک معلوم نه سو. په دې وخت کي د اجمل زړه تنګ سو، غونښتل یې له تشنابه راووزي چي په دې وخت کي لیدا میسکال ورکړ.

اجمل ډېر ژر لیدا ته زنګ ور ووهه، هغې په ټیټ اواز وویل : ګرانه و بخښه چي ډېر انتظار دي وکړ، ستونزه دا ده چي زما مور او ورونه پر ما ډېر پام کوي او که را خبر سول چي زه ستا سره خبري کوم نو پوستکی به مي وباسي، اوس زما مور راغله نوري خبري به سبا کوو د خدای پامان ګرانه.

سبا چي اجمل دفتر ته ولاړ نو د انټرنیټ پاڼه یې لا نه وه پرانیستلې چي د لیدا له خوا میسکال ورته راغی، اجمل چي زنګ ور وواهه نو لیدا وویل : ګرانه بخښنه غواړم د موبایل پیسې مي خلاصي سوې، که زحمت نه وي د موبایل یو کریډیټ کارډ راواستوه چي ډېر ضرور مي په کار دی. اجمل هم سمدلاسه دوکان ته منډه کړه او د پنځو سوو افغانیو په ارزښت یې یو کارډ رانیو او په مسیج کي یې ورواستاوه.

کریډیټ کارډ به نو څه و چې د اجمل لپاره د سرمایي

ketabton.com - The Digital Library



مورک سو، داسي ورځ به نه وه چي اجمل به لیدا ته د موبایل یو کریډیټ کارډ نه ور استاوه. د میاشتي په پای کي یې ټول معاش د لیدا په کریډیټ کارډونو کي تللی و. یوه ورځ چي لیدا اجمل ته د کریډیټ کارډ وویل نو هغه په جیب کي ګوتي ووهلې خو پیسې نه وې ورسره، اخیر یې ددفتر له موټروان څخه پنځه سوه افغانۍ پور کړې او لیدا ته یې کریډیټ کارډ ورواستاوه. اجمل ډېره هڅه وکړل چي لیدا له نژدې ووینې خو هغې به په یوه او بله پلمه ځان خلاصاوه. یوه ورځ اجمل لیدا ته وویل چي ستاځه ډول هلک خوښېږي؟ هغې ورته وویل چي داسي یو هلک چي ږیره او برېتونه یې خریلي او کاوبای پطلون یې اغوستی وي. سبا چي اجمل کور ته راغی نو مخ یې په خپل برګ دسمال پټ کړی و، بس یوازي یې سترګي ښکارېدې. مور یې وارخطا سوه ویل زویه قربان دي سم په مخ دي څه سوي دي؟ اجمل بیا هم له مخ څخه پټو لیري نه کړ خو پلار یې راولاړ سو او په زوره یې مخ ور لڅ کړ. ګوري چي اجمل ږیره او برېتونه داسي پاک خریلي دي لکه شکولي چي یې وي. پلار یې یوه ټینګه چپلاخه ( څپېړه ) ورکړل خو مور یې د اجمل ملګرې سوه، ویل خیر دی هلک دی. سبا چي بیا اجمل کور ته راغی نو شین کاوبای پطلون یې اغوستی او د کمیس د مخ تنۍ یې خلاصي پرې ایښي وې، لاکټ یې په غاړه کړی او چیله یې په غوږ کړې وه، بل نو یوه غټه ګوتمۍ یې هم په ګوته کړې وه، بس نو هغه د چا خبره ځان یې نښه یو غوږپ کړی و.

ketabton.com - The Digital Library



اجمل به هره ورځ لیدا ته ویل چي کله به له نژدې سره ګورو، خو هغې به ډول ډول پلمې ورته کولې. یوه ورځ اجمل لیدا ته شله سو، ویل خامخا به له نژدې سره وینو، هغې ورته وویل چي سمه ده، سبا به دپر فلاني پر چوک سره پیدا کړو، بیا چي هر ځای تلې سره ولاړ به سو. اجمل یاد سوي چوک ته ولاړ او د برق د یوې زړې پایي څنګ ته ودرېد. پنځلس دقیقې وروسته د لیدا زنګ راغی، ویل ګرانه ته چیري یې، زه خو دي نه وینم؟ ته ما وینې کنه؟ ماشنه بوغره کړې او په ښي لاس کي مي یوه پلاستیکي کڅوړه ده، کله چي دي زه ولیدم نو مخامخ راته ودرېږه او یوه سترګه راته وواهه، بس زه به پوه سم چي دا زما ګران دی.
اجمل هم لکه تازي په یوه مندې ځان بوغره والي نجلۍ ته ورساوه او مخ ته یې ودرېد، یو وار یې هغې ته سر تر نوکه ښه وکتل او بیا یې سترګه ورته ووهله. له سترګي سره سم نجلۍ نارې کړې، ویل اې خلکو دې بې شرمه هلک ماته سترګه ووهله. خلک پر راټول سول او اجمل یې دومره و ډباوه لکه د فقر ډول.
اجمل لکه جنګېدلی چرګ په وینو سور د کور خوا ته روان سو چي په دې وخت کي بیا د لیدا زنګ راغی، ویل څه سوې؟ اجمل خپله ټوله کیسه ورته وکړه، لیدا وویل چي ویش ویش دا ته وې، زما څخه یو څو ګامه ها خوا یو هلک خلکو واهه، ما چي ویل دا به بل هلک وي؟ اوف اوف څومره بد کار وسو، ډېر و بخښنه دا نو ټول زما له لاسه، خیر په مینه کي پر انسان دا تکلیفونه راځي، اوس خو مې نو بیخي نه زړه کېږې،

ketabton.com - The Digital Library



هر څنګه چي کېږي باید و دي وینم، هغه د پیرکیو ریږۍ ته راسه ، ګوره چي بیا بلي ښځي ته و نه درېږې. د اجمل زړه بیا هم صبر نه سو او یاد سوي چوک ته ورغی، کله چي یې لیدا ته زنګ ور ووا‌هه نو د لیدا په ټیلیفون کي هم د هغه رېږۍ والا ناري اورېدل کېدې چي دی یې مخ ته ولاړ و. اجمل چي شا وخوا و کتل نو خپل یو همصنفي کمال یې ولید چي یو پر ځان یې پټو راپېچلی او د ښځي په اواز کي له ده سره خبري کوي.

ketabton.com - The Digital Library



# بای فرینډ ټلویزیون

درنو لوستونکو! دا ځل مو د بای فرینډ ټلویزیون له مشر حاجي ډیموکراټ صاحب سره مرکه کړې چې دادی ستاسي مخي ته یې ږدو:

پوښتنه : څه انګیزه وه چې بای فرینډ ټلویزیون موجوډ کړ؟

ځواب : یاره ورورکیه پسي را تېر سه خبره خو دا ده چې د ډېرو هلکانو او نجونو زړه کورت کورت کېږي چې واده وکړي، ان دا چې هره شپه واده په خوب کي ویني، خو ولورونه دومره لوړ دي چې ما غوندي هر خاکشا و ماصدیق واده نه سي کولای، نجوني خو ښه دي، صبر کولای سي خو د هلکانو بېخي تر وس تېره ده، نو کله چې دغه هلکان له واده کولو څخه ناهیلي سي، بس نو د مکتب نجونو ته په دې هیله په لاره کي

ketabton.com - The Digital Library



ولاړ وي چې ځان ته کومه انډیواله پیدا کړي او که دا نه وي نو خیر دغه یوه شیبه خو یې په خوښۍ تېره سي. یاره که رښتیا ووایم نو ځیني نجوني هم له خدایه یو هلک غواړي، ځکه هغوی خو هم د هلکانو په شان زړه (Boyfriend) لري او زړه یې غواړي چې یو انډیوال ولري،خو ستونزه دا ده چې که مور، پلار، ورور او یا بل مشر یې خبر سي نو پوستکی به یې وباسي، همدا دلیل دی چې نجوني هلکانو ته بدرد وایي او یا هغوی په چپلاخو ( څپېړو) او یا څپلکو وهي، اوس نو پسې را تېر سه د دغه ډول هلکانو شمېر ورځ په ورځ ډېرېږي او هره ورځ په زرګونو ځوانان د خپلې مینې له امله پر مخ څپېړي خوري. دغه ډول د نجونو حقوق هم تر پښو لاندي کېږي، ځکه چې د نجلۍ یو هلک خوښ وي خو .د مور او پلار له ډاره څه نه سي ویلای

بله ډله هغه هلکان او نجوني دي چې بېچاره ګان د خپل لوړ ذوق او فیشن قربانیان دي. دوی غواړي چې د پر مختللیو هیوادونو په شان ښه لباس واغوندي او تل په دې چورتونو کې غرق وي چې په نتیجه کې یې د پوهنتون په کانکور کې ناکامه او که کوم یو یې د نقل په زور بریالي هم سي نو تر یوه سمسټر وروسته ناکامه او له پوهنتون څخه شړل کېږي، که څه هم په دې ورځو کې راډیوګاني او تلویزیونونه لکه تور توت دومره ډېر دي، خو د مجردو هلکانو او پېغلو نجونو ژوند ته د هیڅا هم پام نه دی، بس نو همدا بای فرینډ ټلویزیون دی چې د دوی له غمه یې پر ځان شپه او ورځ یوه کړې ده او کار کوي.

ketabton.com - The Digital Library



پوښتنه : پر تلویزیون مو ولي دبای فرینډ نوم کښېښود؟
ځواب : ګوره ته خو خبریال هم یې او بیا هم سر نه خلاصوې، ستا لکه چې دا د جوغندر دی که جنډر دی، دې خبري ته پام نسته؟ باید دې خبري ته مور ټول پام وکړو، بله خبره دا ده چې وایي ( لیډیز فرسټ ) یاني اول حق د ښځو دی، اول باید د نجونو غم وخوړل سي یاني یو انډیوال یا بای فرینډ ورته پیدا سي، هلکان خو چې هر ډول وي یو ځای د ځان چاره کوي، باید د نجونو غم وخوړل سي.
پوښتنه : ولي مو د ګرل فرینډ نوم نه غوره کاوه؟
ځواب : یاره انډیواله دا نوم خو زما خپله هم ډېر خوښ دی، خو کله چې په افغانستان کي د این جوګانو مینجوګانو، ډیموکراسۍ او ښځو د حقوقو بازار تود سوی دی نو یوه خبره ډېره کېږي چې لیډیز فرسټ) یاني اول حق د ښځو دی. ځیني هلکان خو لا دا خبره هم کوي چې ( لیډیز فرسټ، د ډاګ فالوز، یاني ښځي د مخه او سپي ورپسې ) بس زما هم دا خبره خوښه سوه او د تلویزیون لپاره مو د بای فرینډ نوم غوره کړ.
پوښتنه : تاسي څه ډول خپروني لرئ، که د ښلګي په ډول یوه یې راته ووایاست؟
ځواب : زمور د یوې خپروني نوم دی ( اوف اور مي واخیست ). دا لړۍ د هغو بېچاره هلکانو او نجونو لپاره ده چې تر اوسه پوري یې زړه باد نه دی وهلی یاني کوم انډیوال اویا انډیواله نه لري یا هغه هلکان او نجوني چې یو هلک یا نجلۍ یې خوښه وي او غواړي

ketabton.com - The Digital Library



چې واده ورسره وکړي خو مور او پلار يې اجازه نه ورکوي. مور ددې لړۍ په يوه خپرونه کې له يوې نجلۍ او بله کې له يوه هلک سره مرکه کوو. د مرکې يوه برخه د هلک د خپل ژوند معلومات وي، مثلاً هلک د څوکالو دی، څومره زده کړي يې کړي، څه کار کوي او اقتصادي حالت يې څنګه دی. د مرکې بله برخه بيا داوي چې د هلک څنګه نجلۍ خوښېږي، زده کړي يې څومره وي، سترګي، پزه، شونډي، خوله، وېښتان، ونه او د پوستکي رنګ يې څنګه وي، دغسي د وجود نوري ځانګړتياوي يې در واخلک، البته له نجلۍ سره مرکه به هم دغه ډول وي . هغه څوک چې د غه ډول هلکان او نجونې يې خوښېږي، هغوی مور ته زنګ وهي، مور يې راغواړو او سره اندېوالان کوو يې، که زړه يې غوښتل چې واده سره وکړي واده کوي او که يې واده نه کاوه هغه دی خپله اندېوالي به کوي او په نيمه دنيا کې به چورت نه وهي.

پوښتنه : که ددغو هلکانو او نجونو مور او پلار په دې باب مخالفت کاوه بيا څه کوئ؟

ځواب : د بشري حقونو کميسيون دي ژوندی وي، له هغوی څخه مرسته غواړو.

پوښتنه : نجوني او هلکان خو ډېري ستونزي لري، ايا تاسي به څومره وکولای سئ چې د دوی ستونزي اواري کړئ؟

ځواب : ستاسي خبره سمه ده، مور د دوی نور پروګرامونه هم لرو، مثلا هغه هلکان او نجوني چې د پوهنتون په کانکور کې ناکامه سوي وي، د هغوی

ketabton.com - The Digital Library



لپاره د ټلوېزون له لاري د سندرو ویلو، نڅا کولو او کومیډي سیالۍ او کورسونه لرو، ددې تر څنګ د ټلویزیون له لاري د سینګار کولو سیالۍ هم لرو. هغه څوک چې په دغه سیالۍ کې بریالي کېږي د هغوی لپاره کورسونه جوړوو. هغه هلکان او نجونې چې له دغه کورس څخه په لوړه درجه فارغه کېږي د سینګار په برخه کې یې د زده کړې لپاره بهرنیو ملکونو ته لېږو.
پوښتنه : تر اوسه پورې څومره خپل هدف ته رسېدلي یاست؟
ځواب : کله چې د بن د ټرون له مخې په افغانستان کې بدلون راغی، نو ورسره سم د ډېرو نجونو د سر په رنګونو کې بدلون، په لمنو کې لنډون او په پښو کې پطلون راغی. لږ وخت نه و تېر سوی چې د هلکانو او نجونو د فیشن تر منځ ګډون راغی، یاني هلکانو او نجونو ورته جامې اغوستل او سینګار کول پیل کړل .
کله چې په ټولنه کې دغسې اوښتون راغی نو د ډېرو هلکانو او نجونو تر منځ د زړونو پیوستون راغی. همدا وجه ده چې ورځ په ورځ هلکان انډیواله او نجونې ځان ته انډیوال پیدا کوي چې البته موبایلونو دغه لاره نوره هم رالنډه کړه، مور چې کومې شمېرې له ځان سره لرو نو ډېرو نجونو او هلکانو زمور د خپرونو له برکته انډیوالان پیدا کړي او خوښ خوشاله دي.

ketabton.com - The Digital Library



# بوش بازار

زمور رئیس یونس خان چې نن دفتر ته راغی، نو نوی بلوز (کمیس) یې اغوستی و، هرڅوک چې به یې ولید، نو خوله به یې ویړه سوه او ورته وبه یې ویل: ته ماته وګوره زه په دې بلوز کې څنګه ښکارم؟ ده به اکثره وخت لیلامي کالي اغوستل، کله چې به چا د لیلامي کالیو د ارزانۍ خبره وکړه، نو ده به ورته وویل: ګوره داسي فکر و نه کړې چې زه سخت مټکور یم او پر نویو کالیو مي پیسې نه زړه کیږي، اصلا خبره د ګرانۍ او ارزانۍ نه، بلکي د مودې او فېشن ده. تاسي خو پر کالیو ډېري پیسې ورکوئ، خو په مودې پسي یې نه ګرځئ. زمور په وطن کي ستونزه دا ده چې مور د مودې او فېشن نندارتون نه لرو او خیاطان خو مو له نوي مودې

ketabton.com - The Digital Library



ګردسره نه دي خبر، بس هماغه پخوانۍ بابولالي وایي.

یونس خان خپل نوی بلوز پر خپټه راکش کړ او پسي زیاته یې کړه: دا بلوز نوی مودې سوی دی، تاسي یې وګورئ نوی کال پر لیکلی دی، یوازي درې میاشتي کېږي چي دغه مودې راوتلی دی، درې میاشتي بېخي لږ وخت دی. یاره زه خو وایم که دا لیلامي بازارونه نه وای، نو مورږ به په پېړیو پېړیو هم له نوي مودې نه وای خبر سوي. په دې وخت کي یې بیا خپل بلوز ته وکتل او پر خپټه یې نرم لاس تېر کړ: دا مي پرون په بوش بازار کي رانیو، بوش دي ژوندی وي، که دی نه وای، نو اوس به یې په افغانستان کي نه بازار وای او نه داسي خوندور لیلامي کالي. پرون د نوي کال ډېر شیان بوش بازار ته راغلي ول، ډول ډول دریشۍ، کمیسونه، بوټونه او داسي نور شیان. ما هم توکل یاد کړ او د دې میاشتي ټوله معاش مي پر لیلامي کالیو ورکړ، خو په ټولو کي مي دا بلوز ډېر خوښ سو.

په دې وخت کي یې ماته مخ راواړاوه او ویې ویل: یاره پرون مي په بوش بازار کي ډېري ښې موزې ولیدې، دومره اوږدې وې چي په پښو کړي دي وای، نو پتلون اغوستلو ته هیڅ اړتیا نه وه، یو متل دی وایي: تشه لاسه ته مي دښمن یې! که پیسې راسره پاته سوي وای، نو اوس به په هماغه موزو کي ستاسي مخ ته ولاړ وای. دلته فیشني سړی چندان ګوزاره نه سي کولای، زمورږ خلک د نوي عصر له مودې او فېشن څخه

ketabton.com - The Digital Library



ډېر لیري دي، خو څه وکړو کاشکي خارج ته مو نصیب سوی وای چې هلته مو تازه تازه موډونه لیدلي وای.
د یونس خان ناره خدای واورېده، څو ورځې وروسته یونس خان او زه د لسو ورځو لپاره په یو رسمي سفر اروپا ته ولاړو. کله چې هلته ورسېدو، نو بکسونه مو په مېلمستون کې پرېښوول او مور راووتو چې لږ شا و خوا وګرځو. یو څو ګامه چې ولاړو، نو د شا له خوا یو چا راپسې نارې کړې، مور چې ورته وکتل یوه سړي سپی په غېږ کې نیولی او زمور خوا ته یې منډې راوهلې. د دې نارې په اورېدو نورو خلکو هم سپیان په غېږ کې نیولي، له کورو راووتل او پر مور راټول سول. هر یوه به لومړی د خپل سپي پر سر په ډېر ناز لاس راتېر کړ او بیا به یې مور ته راوړاندي کړ. زمور لویه ستونزه دا وه چې د دوی په ژبه نه پوهېدو، وروسته مو لکه ګونګیان په اشارو خبري پیل کړې، خو بیا مو هم سر سره خلاص نه سو. خلکو زما سره چندان کار نه درلود، بس یوازې پر یونس خان راټول ول. هرځومره چې مو له ځانه سره چورت وواهه، بیا هم پوه نه سوو چې خلک څه وایي؟
یونس خان داسي فکر وکړ چې ښایي دا خلک غواړي خپل سپي پر مور خرڅ کړي، نو د دې لپاره چې ځان له دې جنجاله خلاص کړي، له یوه سړي څخه یې سپی واخیست او هغه ته یې یو سلګون نوټ ونیو. د سپي خاوند له درده تک سور واوښت، سپی یې د یونس خان له لاسه وکیښ او یونس خان یې په درد په اوړه وواهه. له دې سره سم خلکو تر خپل منځ څه ( ګړي

ketabton.com - The Digital Library



مګړي ) سره وویلې او یو په بل پسي خپلو کورونو ته ولاړل.
کله چي میدان خالي سو، نو مور هم پښې سپکي کړې او د کالیو خرڅولو یوې مغازې ته ولاړو. په سودا اخیستلو مو لا شروع نه وه کړې چي د مغازې منیجر څنګ ته ناسته پیشو په غېږ کي ونیوله او یونس خان ته یې ورمخ ته کړه. پیشو هم ټوپ کړه او د یونس خان پر اوږه باندي کښېناسته. یونس خان ته درد ورغی او پیشو یې له اوږې څخه لیري کړه. له دې سره سم هغه سړي خپله پیشو راپورته کړه، په زړه پوري یې ټینګه ونیوله او بیا یې یونس خان ته په خپله ژبه یوځه وویل، خو دا چي یونس خان د هغه په خبره پوه نه سو، نو سړي ته درد ورغی او یونس خان یې پر مخ یوه داسي کلکه څپېړه وواهه چي ترمخ یې اورونه ووتل. په دې وخت کي د مغازې ټول کارکوونکي او رانیوونکي راټول سول، مور په خپله او دوی په خپله ژبه خبرې کولې، مور هیڅ نه پوهېدو چي دوی زمور څخه څه غواړي؟ بس بله چاره مو ونه لیده او له مغازې راووتو. په دې وخت کي یونس خان وویل چي زه وږی یم، راځه یوه رستورانټ ته ولاړ سو او ډوډۍ وخورو.
دواړه یوه رستورانټ ته ولاړو او د ډوډۍ فرمایش مو ورکړ. نه پوهېږم چي ډوډۍ ډېره خوندوره وه او که مور ډېر وږي سوي و، یونس خان خو داسي غټي غټي ګولې پورته کولې، هغه د چا خبره لکه د غله وار. په دې وخت کي یو سړی له بیزو سره زمور مېز ته ودرېد، بیزووان لا خوله په خبرو نه وه پوري کړې چي بیزو مېز

ketabton.com - The Digital Library



ته راوخته او د یونس خان مخ ته پروت برګر یې په خوله کړ. یونس خان له درده بیزو په څنګل ووهله او د مېز له سره یې شیوه کړه. بیزو ( کیغ کیغ ) جوړ کړ او یونس خان ته یې پر څټ منګولي ورولګولې. په رستورانټ کي غالمغال جوړ سو، د رستورانټ کارکوونکي او مېلمانه راټول سول، ټولو یونس خان ته د ملامتۍ ګوته نیوله، خو څرنګه چې مور د هغوی په ژبه نه پوهېدو، نو په اصلي ستونزه هم پوه نه سوو. یونس خان چې نور نو د خلکو له سپیانو، پیشیانو او بیزوګیانو څخه تنګ سوی و، یو سور اسوېلی وکیښ او ما ته یې وویل: یاره زما څخه خو یې د اروپا مودې او فېشن هېر کړ، زه نه پوهېږم چې دا خلک ولي ما نه پرېږدي؟ دا حیوانان په ما پوري څه اړه لري؟ ایا زه د حیواناتو ډاکټر یم؟

په دې وخت کي اټکلي یو افغان راپیدا سو، مور د افغان په لیدو دومره خوشحاله سوو چې په کالیو کي نه ځایېدو، ان دا چې پر یونس خان هم خپل بلوز تنګ سو. افغان په خندا راغی زمور تر څنګ کښېناست، تر سترې مسي وروسته ده هم یونس خان ته لږ په حیرانتیا وکتل او ویې پوښتل: ښه تاسي کیسه وکړئ چې دلته څنګه راغلاست او څه کار کوئ؟

یونس خان چې ډېر یې زړه تنګ سوی و، د هغه خبره ونیوله او ویې ویل: دا کیسه به وروسته درته وکړو، ته اوس دا راته ووایه چې دې خلکو څه ویل؟ یوازي دا کیسه نه ده، مور نن دوه ځله نور هم په دغسي بلا اوښتي یو. افغان په خندا د یونس خان خوا ته وکتل او

ketabton.com - The Digital Library



ویې ویل: دا خلک هم نه دي ملامت، اصلي ستونزه ستاسي په بلوز کي ده، ځکه چي دا ډول کمیسونه دلته د حیواناتو د یوه شرکت یونیفارم یا ځانګړي کالي دي، دا شرکت حیوانات هم خرڅوي او هم یې بیمه کوي، مانا دا چي د یوه حیوان ترخرڅ وروسته هم د نومورې حیوان غم او درد په دوی پوري اړه لري، اوس چي خلکو ستا دغه ډول بلوز ته وکتل، نو داسي فکر یې وکړ چي تاسي د دې شرکت کارکوونکي یاست.

پای

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*